# د هِجرت کِتاب ـ د تورات شریف دویم کِتاب

## پېژندګلو

د هِجرت کِتاب د حضرت موسیٰ علیه السلام د تورات شریف دویم کِتاب دے. او مونږ ته دا را په ګوته کوی چې خُدائ پاک حضرت اِبراهیم علیه السلام سره خپله کړې وعده داسې پوره کړه چې بنی اِسرائیل یې د فِرعون د غلامۍ او د بُت پرستۍ نه آزاد کړل. او هغوئ یې هغه لوظ کړے شوی وطن یعنې د برکتونو ځائ ته راوستل. خُدائ پاک حضرت موسیٰ علیه السلام له د ژوند تېرولو او عبادت کولو یو شرعی نظام ورکړو. او خُدائ پاک هغوئ ته د عبادتخانې جوړولو هدایت هم وکړو، یعنې یو داسې ځائ چرته چې د خُدائ پاک حضور د خپلو خلقو په مینځ کښې استوګنه کوی او چرته چې به هغوئ د خپلو ګناهونو د ادا کولو کفارې دپاره قربانیانې پېش کوی. په دې کِتاب کښې مرکزی شخصیت حضرت موسیٰ علیه السلام دے چې خُدائ پاک د خپل قوم د خلاصون او آزادۍ دپاره غوره کړے وو چې هغوئ د مصر نه راوباسی. د حفظ کولو دپاره ۶:۳۴ آیت، ”زۀ، مالِک خُدائ، هغه خُدائ پاک یم چې د رحم او ترس نه ډک یم، په آسانۍ سره نۀ غصه کېږم او ډېره مینه او وفاداری ښایم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د بنی اِسرائیلو سره په مِصر کښې ظلم کېدل

١ ١ د یعقوب د زامنو نومونه دا دی چا چې خپل خپل
خاندان د ځان سره کړو او مِصر ته لاړل، ٢ روبین،
شمعون، لیوی، یهوداه، ٣ یساکار، زبولون، بنیامین، ٤
دان، نفتالی، جاد او آشر. ٥ د یعقوب ټول زامن او نمسی
په شمېر کښې اویا کسان وُو. یوسف د مخکښې نه په مِصر
کښې وو. ٦ یوسف د هغهٔ ټول ورونړه او هغه ټول نسل یو
یو مړ کېدلو، ٧ خو د هغوئ د اولاد د بنی اِسرائیلو ډېر
بچی پېدا شول او ډېر زیات او طاقتور شول او ټول مُلک د
هغوئ نه ډک شو. ٨ بیا په مِصر یو نوے بادشاه راغلو چې
هغهٔ ته د یوسف په حقله هیڅ معلومات نهٔ وُو. ٩ هغهٔ خپلو
خلقو ته ووئیل، ”ګورئ، دا بنی اِسرائیل ډېر زیات او تکړه
شول او دوئ زمونږ دپاره خطرناک دی. ١٠ راځئ چې د
دوئ سره یو چل وکړُو ګني دوئ به زیات شی او کهٔ زمونږ
او د دوئ په مینځ کښې جنګ راشی نو دوئ به زمونږ خِلاف
زمونږ دشمنان راپوځائ کړی او کېدے شی چې د دې مُلک
نه وتښتی. مونږ له داسې څهٔ کول په کار دی چې دوئ نور
زیات نهٔ شی.“ ١١ نو مِصریانو په بنی اِسرائیلو باندې
مشران مقرر کړل چې په زور یې ترې نه کار اخستو. بنی
اِسرائیلو د فِرعون دپاره د پِتوم او رعمسیس ښارونو نه
ګودامونه جوړ کړل. ١٢ خو چې هغوئ پرې څومره ظلم
زیاتے کولو نو لا زیاتېدل او په مُلک کښې هومره خورېدل.
مِصریان د هغوئ نه یرېدل او د بنی اِسرائیلو سره یې کینه
شروع کړه ١٣-١٤ او مِصریانو په دوئ باندې ظلم زیاتے
کولو او د دوئ ژوند یې تریخ کړو. هغوئ په دوئ باندې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خښتو، ختو او په خپلو پټو کښې کار کولو او په دوئ باندې
يې هيڅ رحم نۀ کولو. ۱۵ بيا د مِصر بادشاه سِفره او فوعه،
هغې دوه دايېنو ته ووئيل کومو به چې د عبرانيانو ښځو مدد
کولو، ۱۶ ”چې کله تاسو د عبرانيانو ښځو د بچی د پېدا
کېدو په وخت مدد کوئ او هغوئ د بچی د زېږېدو په ځائ
ناستې ووينئ نو کۀ هغه پېدا کېدونکے زوئ وی نو وې وژنئ،
خو کۀ هغه لور وی نو ژوندۍ يې پرېږدئ.“ ۱۷ خو دايېې د
خُدائ پاک نه يرېدلې او د بادشاه حُکم يې ونۀ منلو او هغوئ
نران ماشومان ژوندی پرېښودل. ۱۸ نو بادشاه دايېې
راوغوښتلې او د هغوئ نه يې تپوس وکړو، ”تاسو ولې داسې
کوئ؟ تاسو نران بچی ولې ژوندی پرېږدئ؟“ ۱۹ هغوئ هغۀ
ته ووئيل، ”عبرانۍ ښځې د مِصريانو ښځو په شان نۀ دی، د
دوئ په آسانۍ سره بچی پېدا کيږی او هلته زمونږ د رسېدو نه
مخکښې د دوئ ماشومان پېدا شی.“ ۲۰-۲۱ دايېې د خُدائ
پاک نه يرېدلې نو خُدائ پاک د هغوئ سره ښۀ وو او د
هغوئ کورونه يې ودان کړل. او بنی اِسرائيل زياتېدل او
طاقتور شول. ۲۲ په آخر کښې فِرعون خپلو ټولو خلقو له
حُکم وکړو چې، ”د عبرانيانو هر يو پېدا شوے بچے راوړئ
او د نيل درياب کښې يې وغورزوئ، خو جينکۍ به ژوندۍ
پرېږدئ.“

## د حضرت موسیٰ پېدايښت

۲ ۱ په دې دوران کښې د ليوی قبيلې يو سړی په خپله
قبيله کښې يوه ښځه وکړه، ۲ او د هغې نه د هغۀ يو زوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وشو. هغې ولیدل چې دا ښهٔ ښکلے ماشوم وو، نو هغې دا
درې میاشتې پټ وساتلو. ٣ خو چې کله هغې دا نور نهٔ شو
پټولے، هغې د لوخو نه جوړه شوې یوه ټوکرۍ راواخستله او
په دې یې تارکول ولګول چې اوبهٔ په کښې دننه نهٔ ځی. هغې
ماشوم په دې کښې کښېنولو او دا یې بیا د دریاب په غاړه په
لوخو کښې کېښوده. ٤ د ماشوم خور لږه لرې ولاړه وه او
کتل یې چې په هغهٔ به څهٔ کیږی. ٥ د فِرعون لور لامبلو له
د دریاب غاړې له راغله، د هغې خِدمتګارې هم د دریاب په
غاړه روانې وې نو ناڅاپه هغې په لوخو کښې هغه ټوکرۍ
ولیدله او یوه خِدمتګاره یې ورولېږله چې هغې ته یې را وړی.
٦ د فِرعون لور ټوکرۍ کولاو کړه او یو ماشوم یې په کښې
ولیدو. هغهٔ ژړل او د هغې ورباندې زړهٔ وسوزېدلو. هغې
ووئیل، ”دا ماشوم عبرانے دے.“ ٧ بیا د هغهٔ خور د
فِرعون د لور نه تپوس وکړو، ”زهٔ یو عبرانۍ ښځه راوغواړم
څهٔ چې دې ماشوم له سینه ورکوی؟“ ٨ هغې ورته ووئیل،
”آو، لاړه شه.“ نو هغه جینۍ لاړه او د ماشوم خپله مور یې
راوستله. ٩ شهزادګۍ دې ښځې ته ووئیل، ”دا ماشوم
واخله او زما دپاره سینه ورکوه او زهٔ به تا له مزدوری
درکوم.“ نو هغې ماشوم یوړو او هغهٔ له یې سینه ورکوله. ١٠
کله چې دا ماشوم لږ لوئ شو نو هغې دا ماشوم د بادشاه لور
له ورکړو او د بادشاه لور ماشوم خپل زوئ جوړ کړو. هغې
د خپل ځان سره ووئیل، ”ما دا د اوبو نه راوچت کړے
دے.“ نو موسیٰ نوم یې ورباندې کېښودو.

## د حضرت موسیٰ میدیان ته تښتېدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ چې کله موسیٰ لوئ شو نو هغه خپلو خلقو عبرانیانو له
لاړو او هغهٔ ولیدل چې د هغوئ نه سخت کار اخستلے شو.
هغهٔ دا هم ولیدل چې یو مِصری یو عبرانے وهلو، دا د موسیٰ
د خپلو خلقو نه یو کس وو. ۱۲ موسیٰ اخوا دیخوا وکتل او
چې کله هغهٔ ته پته ولګیده چې هیڅ څوک یې هم نهٔ ګوری، نو
هغه مِصرے یې ووژلو او د هغهٔ لاش یې په شګو کښې پټ
کړو. ۱۳ بله ورځ هغه بهر لاړو او وې لیدل چې دوه عبرانیان
په خپلو کښې په جګړه وُو. هغهٔ هغه یو ته وفرمائیل کوم چې
په غلطه وو، "تهٔ ولې خپل عبرانے ورور وهې؟" ۱۴ هغه
سړی ورته ووئیل، "تهٔ چا په مونږ مشر کړے یې او په مونږ
یې قاضی جوړ کړے یې؟ تهٔ ما هم وژنې څهٔ لکه چې هغه
مِصرے دې وژلے وو؟" نو موسیٰ وویریدو او د خپل ځان
سره یې وفرمائیل، "ښه نو لکه چې ما څهٔ کړی دی د هغې
خلقو ته پته لګیدلې ده." ۱۵-۱۶ چې کله فِرعون خبر شو
چې څهٔ شوی وُو، نو هغهٔ د موسیٰ د وژلو کوشش وکړو، خو
موسیٰ وتښتیدو او لاړو او د میدیان په مُلک کښې اوسیدو.
یوه ورځ چې کله موسیٰ د یو کوهی سره ناست وو، د میدیان
د اِمام یترو اووهٔ لوڼه راغلې، چې اوبهٔ راوباسی او د خپل
پلار ګډو او چیلو دپاره ښانکونه ترې نه ډک کړی. ۱۷ خو
څهٔ شپانو د یترو لوڼه وشړلې. نو موسیٰ د هغوئ د بچ کولو
دپاره ورَغلو او د هغوئ څاروو له یې اوبهٔ ورکړې. ۱۸ چې
کله دوئ خپل پلار له راغلې، هغهٔ ترې تپوس وکړو، "تاسو
ولې نن ډېر زر راغلئ؟" ۱۹ هغوئ ورته ووئیل، "یو مِصری
مونږ د شپانو نه بچ کړُو او هغهٔ مونږ له اوبهٔ هم راوخېژولې
او زمونږ څاروو له یې ورکړې." ۲۰ هغهٔ د خپلو لوڼو نه
تپوس وکړو، "هغه چرته دے؟ تاسو هغه سړے بهر ولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېښودو؟ لاړې شئ او هغه راوغواړئ چې مونږ سره روټۍ
وخوری." ۲۱ نو موسیٰ هلته اوسېدو ته راضی شو او يترو
هغهٔ ته خپله لور صفوره وادهٔ کړه، ۲۲ د هغې نه يې يو زوئ
وشو. موسیٰ د خپل ځان سره ووئيل، "زهٔ په دې مُلک کښې
مسافر يم." نو په هغهٔ يې جيرسوم نوم کېښودو. ۲۳ ډېره
موده پس چې د مِصر بادشاه مړ شو، خو بنی اِسرائيلو د
غلامۍ په وجه فرياد کولو نو هغوئ په چغو وژړل، "خُدايه
پاکه، زمونږ مدد وکړه." ۲۴ نو خُدائ پاک د دوئ ژړا
واورېدله. هغهٔ د هغوئ فرياد واورېدو او د اِبراهيم، اِسحاق او
يعقوب سره يې خپل هغه لوظ راياد کړو. ۲۵ هغهٔ د بنی
اِسرائيلو تکليف وليدو او ورباندې خفه شو.

## د خُدائ پاک حضرت موسیٰ غوښتل

۳ ۱ د موسیٰ سخر يترو د ميديان اِمام وو. يوه ورځ چې
کله موسیٰ د هغهٔ ګډې او چېلۍ څرولې، هغهٔ رمه د بيابان نه
واړوله او د خُدائ پاک غر سينا ته راغلو. ۲ هلته هغهٔ ته د
مالِک خُدائ هغه فرښته د اور لمبې په شان د بوټۍ د مينځ نه
راڅرګنده شوه. چې د موسیٰ پرې څنګه نظر پرېوتو نو په دې
ليدو حېران شو چې په جاړه اور لګېدلے وو خو دا نهٔ
سوزېدله. ۳ هغهٔ د ځان سره وفرمائيل چې، "عجيبه خبره
ده. دا جاړه ولې نهٔ سوزېږی؟ زهٔ به نزدې ورشم چې وې
ګورم." ۴ چې کله مالِک خُدائ وليدل چې موسیٰ نزدې
راروان وو، هغه د جاړې مينځ نه ورته آواز وکړو او ورته يې
وفرمائيل، "موسیٰ! موسیٰ!" هغهٔ ورته وفرمائيل، "جی زهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حاضر یم.“ ٥ خُدائ پاک ورته وفرمائیل، ”نور نزدې مۀ
راځه. پېزار وباسه، ځکه چې تۀ په پاکه زمکه ولاړ یې. ٦
زۀ ستا د پلار نیکونو خُدائ پاک یم، د اِبراهیم، د اِسحاق او د
یعقوب خُدائ پاک یم.“ نو موسیٰ خپل مخ پټ کړو، ځکه
چې هغه خُدائ پاک ته کتلو نه یرېدو. ٧ بیا مالِک خُدائ
ورته وفرمائیل، ”ما ولیدل چې زما د خلقو سره په مِصر
کښې څومره ظلم کیږی، ما د هغوئ فریاد اورېدلے دے چې
هغوئ د ظالمانو مشرانو نه خلاص شی. ما ته د هغوئ د
تړولو تکلیفونو پته ده، ٨ نو زۀ لاندې راغلے یم چې هغوئ د
مِصریانو نه خلاص کړم او چې هغوئ د مِصر نه بهر یو ښۀ،
کولاو او زرخېز مُلک ته بوځم، چرته چې اوس کنعانیان،
حِتیان، اموریان، فرزیان، حِویان او یبوسیان اوسیږی. ٩
ګوره، ما د خپلو خلقو ژړا اورېدلې ده او زۀ دا هم ګورم چې
مِصریان په دوئ ظلم کوی. ١٠ اوس زۀ تا فِرعون له لېږم
نو تۀ به زما خلق بنی اِسرائیل د مِصر نه بهر بوځې.“ ١١
خو موسیٰ خُدائ پاک ته وفرمائیل، ”زۀ څوک یم چې فِرعون
له ورشم او بنی اِسرائیل د مِصر نه بهر بوځم؟“ ١٢ خُدائ
پاک ورته وفرمائیل، ”زۀ به ستا مل یم او چې تۀ کله دا خلق
د مِصر نه بهر بوځې، نو تۀ به په دې غر دپاسه زما عبادت
وکړې. هغه به د دې ثبوت وی چې تۀ ما لېږلے یې.“ ١٣ خو
موسیٰ ورته وفرمائیل، ”چې کله زۀ بنی اِسرائیلو له ورشم او
ورته ووایم، چې زۀ ستاسو د پلار نیکۀ خُدائ پاک تاسو ته
رالېږلے یم، هغوئ به زما نه تپوس وکړی چې د هغۀ څۀ نوم
دے؟ نو زۀ هغوئ ته څۀ ووایم؟“ ١٤ خُدائ پاک ورته
وفرمائیل، ”زۀ هغه یم چې یم. تۀ به خامخا هغوئ ته داسې
ووائې چې، ”زۀ هغه یم“ تاسو ته رالېږلے یم څوک چې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپله خپل ځان ته ”زهٔ يم“ وائی. ۱۵ بنی اِسرائيلو ته ووايه
چې ما مالِک خُدائ د هغوئ د پلار نيکهٔ خُدائ پاک د
اِبراهيم، اِسحاق او د يعقوب خُدائ پاک، تهٔ هغوئ ته
ورلېږلے يې. دا د همېشه دپاره زما نوم دے، راتلونکی نسلونه
به ما په دې نوم يادوی. ۱۶ لاړ شه او د بنی اِسرائيلو مشران
په يو ځائ راغونډ کړه او هغوئ ته ووايه چې زهٔ مالِک
خُدائ، د هغوئ د پلار نيکهٔ خُدائ پاک، د اِبراهيم، اِسحاق او
يعقوب خُدائ پاک، تا ته راڅرګند شوم. هغوئ ته ووايه چې
زهٔ دوئ له راغلے يم او ما ليدلی دی چې مِصريانو د دوئ
سره څهٔ کول. ۱۷ ما دا فېصله کړې ده چې زهٔ به دوئ د
مِصر نه بهر بوځم چې په کوم ځائ کښې په دوئ ظلم کيږی
او زهٔ به دوئ هغه زرخېز مُلک ته بوځم، چې هغه د کنعانيانو،
حِتيانو، اموريانو، فرزيانو، حِويانو او د يبوسيانو مُلک دے.
۱۸ زما خلق به ستا خبره واوری. نو تهٔ د بنی اِسرائيلو
مشران د مِصر بادشاه له بوځه او هغهٔ ته ووايه چې، مالِک
خُدائ د عبرانيانو خُدائ پاک، مونږ ته په خپله ځان څرګند
کړو. اوس تهٔ مونږ په صحرا کښې د درېو ورځو سفر ته
پرېږده چې مالِک خُدائ، زمونږ خُدائ پاک ته قربانی پېش
کړُو. ۱۹ ما ته پته ده چې د مِصر بادشاه به تاسو تلو ته پرې
نهٔ ږدی ترڅو چې هغه مجبور کړے شوے نهٔ وی. ۲۰ خو
زهٔ به د خپل قُدرت نه کار واخلم او زهٔ به هلته د عجيبه
عجيبه کارونو کولو په ذريعه مِصريانو له سزا ورکړم. او د
هغې نه پس به هغه تاسو تلو ته پرېږدی. ۲۱ زهٔ به په
مِصريانو ستاسو قدر وکړم نو چې کله زما خلق ځی، دوئ
به خالی لاسونه نهٔ ځی. ۲۲ هره يوه بنی اِسرائيلۍ ښځه دې
خپلو مِصريانو ګاونډيانو کره لاړه شی او هرې مِصرۍ ښځې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له چې د دوئ سره په کور کښې اوسيږی نو جامې، د سرو
زرو او سپينو زرو کالی دې ترې نه وغواړی. نو بنی
اِسرائيليان به دا څيزونه خپلو زامنو او لوڼو ته ورواغوندی.
او مِصريان به لوټ کړی.“

## د خُدائ پاک حضرت موسیٰ له لوئ طاقت ورکول

۴ ۱ بيا موسیٰ مالِک خُدائ له جواب ورکړو، ”خو
ګوره، کهٔ بنی اِسرائيل په ما يقين ونهٔ کړی او زما خبرې ته
غوږ ونهٔ نيسی نو زهٔ څهٔ وکړم کهٔ هغوئ ووائی چې تهٔ ما ته
راڅرګند شوے نهٔ يې؟“ ۲ مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، ”دا
ستا په لاس کښې څهٔ دی؟“ هغهٔ ورته وفرمائيل، ”دا امسا
ده.“ ۳ مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، ”دا په زمکه
وغورزوه.“ چې کله موسیٰ دا په زمکه وروغورزوله، نو يو
مار ترې جوړ شو او موسیٰ ترې نه منډه کړه. ۴ نو بيا
مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”ورتيټ شه او د لکئ نه يې
کلک راونيسه.“ نو موسیٰ ورتيټ شو او راوې نيولو او بيا
ترې نه امسا جوړه شوه. ۵ مالِک خُدائ ورته وفرمائيل،
”هم داسې وکړه چې د بنی اِسرائيلو يقين راشی چې مالِک
خُدائ د دوئ د پلار نيکهٔ خُدائ پاک، د اِبراهيم، اِسحاق او د
يعقوب خُدائ پاک تا ته راڅرګند شوے دے.“ ۶ مالِک
خُدائ موسیٰ ته بيا وفرمائيل، ”خپل لاس څوغې ته دننه
کړه.“ نو موسیٰ لاس دننه کړو. او چې کله هغهٔ لاس رابهر
کړو، نو د هغهٔ لاس د خرمنې په بيمارئ پټ شوے وو، داسې
سپين لکه واوره. ۷ بيا مالِک خُدائ وفرمائيل، ”لاس په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چُوغه کښېږي بيا دننه کړه.“ نو هغهٔ لاس دننه کړو او چې کله
هغهٔ دا ځل رابهر کړو، نو هم هغه شان روغ جوړ شو لکه
څنګه چې يې نور بدن وو. ٨ مالِک خُدائ ورته وفرمائيل،
”کهٔ هغوئ په تا يقين ونهٔ کړی يا د هغوئ په اولنی معجزه
باندې يقين رانهٔ شی، نو په دې بله به د دوئ يقين راشی. ٩
کهٔ د دې دواړو معجزو باوجود هم هغوئ په تا يقين ونهٔ کړی
او کهٔ هغوئ ستا د خبرې اورېدو نه اِنکار وکړی، نو لږې
اوبهٔ د نيل درياب نه راواخله او په اوچه زمکه يې توئ کړه.
نو د اوبو نه به وينه جوړه شی.“ ١٠ خو موسیٰ مالِک خُدائ
ته وفرمائيل، ”اے زما مالِکه خُدايه، ما مهٔ لېږه. زهٔ صفا
خبرې نهٔ شم کولے نه د مخکښې نه په خبرو کولو کښې ښهٔ
وم او نه تاسو سره د خبرو کولو نه پس تکړه يم او ژبه مې
هم انښلی.“ ١١ مالِک خُدائ هغهٔ ته وفرمائيل، ”بنی آدم له
ژبه څوک ورکوی؟ ګونګول او کڼول څوک کوی؟ نظر
ورکول يا ړندول څوک کوی؟ دا زهٔ، مالِک خُدائ کوم. ١٢
نو اوس لاړ شه. زهٔ به ستا د خولې نه خبرې کوم او زهٔ به تا
ته وښايم چې څهٔ به وائې.“ ١٣ خو موسیٰ ورته وفرمائيل،
”اے زما مالِکه خُدايه، زهٔ تا ته سوال کوم چې بل څوک
ورولېږه.“ ١۴ نو په دې باندې مالِک خُدائ موسیٰ ته غصه
شو او وې فرمائيل، ”ستا ورور هارون، ليوی خو شته دے،
ما ته پته ده چې هغه په خبرو کولو کښې تکړه دے. ګوره،
اوس هغه تا سره مِلاوېدو له راروان دے او هغه به ستا په
ليدو په زړهٔ کښې خوشحاله شی. ١۵ تهٔ به هغهٔ ته هغه خبرې
وښائې چې کومې به کوی. زهٔ به ستاسو دواړو په خبرو کښې
مدد وکړم او زهٔ به تاسو دواړو ته ووايم چې څهٔ به کوئ. ١۶
هغه به ستا د خبرو وياند وی او ستا په ځائ به خلقو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبرې کوی. نو ته به د هغهٔ دپاره د خُدائ پاک په شان يې او
ورته به ښائې چې څۀ به وائی. ۱۷ خپل ځان سره دا امسا
يوسه، چې د دې سره به تهٔ معجزې ښکاره کړې."

## د حضرت موسیٰ مِصر ته واپس کېدل

۱۸ بيا موسیٰ واپس خپل سخر يترو له لاړو او هغهٔ ته يې
وفرمائيل، "ما له اجازت راکړه چې واپس مِصر ته لاړ شم
چې وګورم چې زما خپلوان ژوندی دی او کۀ نه." يترو
موسیٰ ته ووئيل، "په خير لاړ شه." ۱۹ چې کله موسیٰ په
ميديان کښې وو مالِک خُدائ هغهٔ ته وفرمائيل، "مِصر ته
واپس لاړ شه، ځکه چې کومو خلقو تهٔ وژلې هغه ټول مړهٔ
دی." ۲۰ نو موسیٰ خپله ښځه او زامن واخستل او په يو خر
باندې يې سوارهٔ کړل او د دوئ سره مِصر ته روان شو، هغه
امسا يې هم يوړه چې خُدائ پاک ورته ښودلې وه. ۲۱ مالِک
خُدائ موسیٰ ته بيا وفرمائيل، "اوس چې تهٔ واپس مِصر ته
روان يې، ګوره، چې د فِرعون په مخکښې هغه ټولې معجزې
ښکاره کړې د کومو چې ما طاقت درکړے دے. خو زهٔ به
د هغهٔ زړهٔ سخت کړم او هغه به زما خلق تلو ته پرې نهٔ ږدی.
۲۲ بيا تهٔ هغهٔ ته ووايه چې مالِک خُدائ فرمائی چې، بنی
اِسرائيل ما ته د مشر زوئ په شان دی. ۲۳ ما تا ته
وفرمائيل چې زما زوئ پرېږده چې لاړ شی، چې هغه زما
عبادت وکړی، خو تا اِنکار وکړو. نو زهٔ به اوس ستا مشر
زوئ ووژنم." ۲۴ د مِصر په لاره په يو سرائی کښې مالِک
خُدائ موسیٰ له د دې دپاره راغلو چې هغه ووژنی. ۲۵-۲۶
نو د هغهٔ ښځې، صفورې، يو تېرهٔ کاڼے راواخستلو، هغې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل زوئ دې سره سنت کړو او د سنت تيکه يې د موسىٰ
پښو له وروړله. نو د سنت د وينې د رِواج په وجه هغې موسىٰ
ته ووئيل، ”تهٔ زما دپاره د وينې خاوند يې.“ نو مالِک خُدائ د
موسىٰ ژوند بچ کړو. ۲۷ بيا مالِک خُدائ هارون ته
وفرمائيل، ”د موسىٰ سره مِلاوېدو له صحرا ته لاړ شه.“ نو
هغه د هغهٔ سره د خُدائ پاک په غرهٔ کښې مِلاوېدو له لاړو،
او چې کله هغه د هغهٔ سره مِلاو شو، نو هغه يې ښُکل کړو.
۲۸ بيا موسىٰ هارون ته هغه هر څهٔ وفرمائيل څهٔ چې مالِک
خُدائ د فرمائيلو دپاره لېږلے وو، هغهٔ د هغه معجزو په حقله
هم هغهٔ ته وفرمائيل د کومو چې مالِک خُدائ د کولو حُکم
ورکړے وو. ۲۹ نو موسىٰ او هارون مِصر ته لاړل او د بنى
اِسرائيلو ټول مشران يې په يو ځائ راغونډ کړل. ۳۰ هارون
هغوئ ته هر څهٔ وفرمائيل څهٔ چې مالِک خُدائ موسىٰ ته
فرمائيلى وُو او د خلقو په مخکښې يې هغه ټولې معجزې
وکړې. ۳۱ نو د هغوئ يقين وشو، او چې کله هغوئ
واورېدل چې مالِک خُدائ هغوئ له راغلے وو او چې کوم
ظلم په هغوئ کېدلو هغه يې ليدلے وو، نو دوئ سجده وکړه
او د مالِک خُدائ عبادت يې وکړو.

## د حضرت موسىٰ او حضرت هارون د مِصر بادشاه په مخکښې ودرېدل

۵ ۱ د دې نه پس موسىٰ او هارون د فِرعون دربار ته
لاړل او هغهٔ ته يې وفرمائيل، ”مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو
خُدائ پاک فرمائى چې، زما خلق تلو ته پرېږده چې دوئ زما
د عزت دپاره په صحرا کښې اختر وکړى.“ ۲ خو فِرعون

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترې تپوس وکړو، ”دا مالِک خُدائ ځوک دے؟ زهٔ ولې د هغهٔ
خبره ومنم او بنی اِسرائیل تلو ته پرېږدم؟ نهٔ زهٔ مالِک خُدائ
پېژنم، او نهٔ به بنی اِسرائیل تلو ته پرېږدم.“ ۳ موسیٰ او
هارون ورته وفرمائیل، ”د عبرانیانو خُدائ پاک مونږ ته په
خپله راڅرګند شوے دے. مونږ پرېږده چې په صحرا کښې
درې ورځې سفر وکړُو چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک ته
قربانۍ پېش کړُو. کهٔ مونږ داسې ونهٔ کړل، نو هغه به مونږ په
وبا یا په جنګ ووژنی.“ ۴ فِرعون موسیٰ او هارون ته
ووئیل، ”تاسو ولې دا خلق د خپل کار نه وباسئ؟ پرېږدئ چې
هم دغه کار کوی. ۵ ګورئ، تاسو خلق د مِصریانو نه ډېر
زیات شوی یئ. او اوس تاسو دا هم غواړئ چې دوئ کار
بس کړی.“ ۶ هم په هغه ورځ فِرعون د دوئ سختو
مِصریانو مشرانو او بنی اِسرائیلو آفسرانو له حُکم ورکړو
چې، ۷ ”د خښتو جوړولو دپاره خلقو ته بوس ورکول بند
کړئ. دوئ لېږئ چې په خپله یې ځان له راغونډوی. ۸ او
هم هغه هومره خَښتې ترې نه غواړئ چې څومره یې مخکښې
جوړولې، تاسو پرې یوه هم مهٔ کموئ. دوئ خو کار نهٔ کوی،
نو ځکه دوئ هر وخت مِنتُونه کوی چې زهٔ دوئ پرېږدم چې
لاړ شی او خپل خُدائ پاک ته قربانۍ پېش کړی. ۹ په دې
خلقو د مخکښې نه نور هم سخت کار کوئ او په داسې کار
یې آخته کړئ چې د دې دروغو خبرو اورېدو وخت هم
ورسره نهٔ وی.“ ۱۰ د هغوئ نه سخت کار اخستونکی
مشران او د دوئ آفسران بهر لاړل او بنی اِسرائیلو ته یې
ووئیل، ”فِرعون وئیلی دی چې هغه به تاسو له نور بوس نهٔ
درکوی. ۱۱ هغه وائی چې تاسو ځئ او چې چرته هم تاسو د
خپلو ځانونو دپاره بوس راپیدا کولے شئ نو پیدا یې کړئ،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو د خښتو د جوړولو په شمېر کښې به کمے نۀ راولئ.“
۱۲ نو خلق د مِصر ټول مُلک کښې خوارۀ شول چې بوس
راجمع کړی. ۱۳ د هغوئ سختو مشرانو په دوئ زور راوړلو
چې هره ورځ به هم هغه هومره خَښتې جوړوی چې څومره
يې مخکښې جوړولې چې کله هغوئ ته بوس مِلاوېدل. ۱۴ د
هغوئ سختو مِصريانو مشرانو بنی اِسرائيل آفسران وهل،
کوم چې هغوئ د دې کار مشران مقرر کړی وُو. ورته يې
وئيل، ”تاسو ولې هم هغه هومره خَښتې نۀ جوړَوئ لکه چې
څومره تاسو مخکښې جوړولې؟“ ۱۵ نو د بنی اِسرائيلو
آفسران راغلل او فِرعون ته يې فرياد وکړو، ”بادشاه سلامت،
زمونږ سره داسې ولې کيږی؟ ۱۶ مونږ له بوس نۀ راکوی،
خو بيا هم هغوئ د خښتو جوړولو حُکم راکوی او ګوره،
مونږ وهلے هم شُو. خو دا ستا د خپلو خلقو غلطی ده.“ ۱۷
فِرعون ورته ووئيل، ”تاسو ناراسته يئ او کار کول نۀ غواړئ،
نو دا ځکه تاسو مِنت کوئ چې زۀ تاسو تلو ته پرېږدم چې
مالِک خُدائ ته قربانئ پېش کړئ. ۱۸ اوس واپس کار له لاړ
شئ. تاسو له به هغوئ لږ بوس هم نۀ درکوی، خو اوس به
خامخا هم هغه هومره خَښتې جوړَوئ.“ ۱۹ د بنی اِسرائيلو
آفسرانو ته پته ولګېده چې دوئ په بد حالت کښې دی، چې
کله هغوئ ته ووئيلے شول چې دوئ به هره ورځ هم هغه
هومره خَښتې جوړوی چې څومره يې مخکښې جوړولې. ۲۰
چې څنګه دوئ د فِرعون د دربار نه راووتل، نو دوئ د موسیٰ
او هارون سره مِلاو شول، ځکه چې هغوئ د دوئ اِنتظار
کولو. ۲۱ دوئ موسیٰ او هارون ته ووئيل، ”مالِک خُدائ
دې په خپله ستاسو عدالت وکړی او سزا دې درکړی ځکه
چې تاسو د فِرعون او د هغۀ د درباريانو په زړُونو کښې نفرت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پيدا کړے دے. تاسو هغۀ له زمونږ د قتل بهانه ورکړې ده.“

## د حضرت موسیٰ مالِک خُدائ ته شکايت کول

۲۲ بيا موسیٰ مالِک خُدائ ته واپس وګرځېدو او ورته يې
وفرمائيل، ”مالِکه خُدايه، تۀ د دې خلقو سره ولې بد سلوک
کوې؟ تا زۀ ولې دلته رالېږلے يم؟ ۲۳ ما چې کله هم د
فِرعون سره ستا په نوم خبرې کړې دی، نو هغۀ د دوئ سره
بد سلوک کړے دے. او تا د خپلو خلقو مدد نۀ دے کړے.“

۶ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”اوس به تۀ
وګورې چې زۀ د فِرعون سره څۀ کوم. زۀ به خپل زور سره
هغه دې ته مجبور کړم چې زما خلق تلو ته پرېږدی، زۀ به د
خپل لوئ طاقت نه کار واخلم چې فِرعون هغوئ د مُلک
مصر نه وشړی.“

## د خُدائ پاک حضرت موسیٰ راغوښتل

۲ خُدائ پاک موسیٰ ته وفرمائيل، ”زۀ مالِک خُدائ يم.
۳ زۀ د قادر خُدائ په توګه اِبراهيم، اِسحاق او يعقوب ته
راښکاره شوم، خو ما خپل ځان په هغوئ باندې د خپل پاک
نوم ”مالِک خُدائ“ په توګه ونۀ پېژندلو. ۴ ما د هغوئ سره
د کنعان مُلکورکولو لوظ هم وکړو، هغه مُلک په کوم کښې
چې دوئ د مسافرو په شان اوسېدلی وُو. ۵ اوس ما د بنی
اِسرائيلو فرياد اورېدلے دے ځکه چې مِصريان د دوئ نه د
نوکرانو په شان کار اخلی. زۀ به د دوئ سره خپل لوظ پوره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم. ۶ نو بنی اِسرائیلو ته ووایه چې زۀ هغوئ ته وایم چې
زۀ مالِک خُدائ یم، زۀ به تاسو بچ کړم او زۀ به تاسو د
مِصریانو د غلامۍ نه آزاد کړم. زۀ به د خپل لوئ طاقت نه
کار واخلم او مِصریانو له به سخته سزا ورکړم او زۀ به
تاسو خلاص کړم. ۷ زۀ به تاسو خپل خلق جوړ کړم او
زۀ به ستاسو خُدائ پاک یم. تاسو ته به پته ولګی چې زۀ
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم چې کله زۀ تاسو په مِصر
کښې د غلامۍ نه آزاد کړم. ۸ زۀ به تاسو هغه مُلک ته
راولم چې د کوم ما اِبراهیم، اِسحاق او یعقوب له د ورکولو
پوخ لوظ کړے وو، دا مُلک به ستاسو میراث وی. زۀ مالِک
خُدائ یم.“ ۹ موسیٰ بنی اِسرائیلو ته دا وفرمائیل خو دوئ
د هغۀ خبره وانۀ وریدله، ځکه چې د هغوئ د سختې غلامۍ په
وجه دوئ همت بائیللے وو. ۱۰ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته
وفرمائیل، ۱۱ ”لاړ شه او د مِصر بادشاه فِرعون ته ووایه
چې هغه دې بنی اِسرائیل د دې مُلک نه تلو ته پرېږدی.“ ۱۲
خو موسیٰ ورته وفرمائیل، ”بنی اِسرائیل چې زما خبره نۀ
اوری، نو فِرعون به یې څنګه واوری؟ زۀ خو په خبرو کولو
کښې تکړه نۀ یم.“ ۱۳ مالِک خُدائ موسیٰ او هارون له حُکم
ورکړو چې، ”بنی اِسرائیلو او د مِصر بادشاه فِرعون ته ووایئ
چې ما تاسو له حُکم درکړے دے چې بنی اِسرائیل د مِصر
نه بهر بوځئ.“

## د حضرت موسیٰ او حضرت هارون نسب‌نامه

۱۴ د یعقوب د مشر زوئ، د روبین دا څلور زامن وُو،
حنوک، فلو، حصرون او کرمی، دا د هغه قبیلو پلار نیکۀ وُو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په دې نومونو ياديږی. ۱۵ د شمعون دا شپږ زامن وُو،
يموايل، يمين، اُهد، يکين، صحر او ساؤل د کنعانۍ ښځې
زوئ، دا د هغه قبيلو پلار نيکۀ وُو چې په دې نومونو ياديږی.
۱۶ د ليوی دا درې زامن وُو، جيرسون، قُهات او مراری، دا
د هغه قبيلو پلار نيکۀ وُو چې په دې نومونو ياديږی. د ليوی
ټول عُمر يو سل اووۀ ديرش کاله وو. ۱۷ د جيرسون دوه
زامن وُو، لِبنی او سِمعی او د هغوئ ډير اولاد وو. ۱۸ د
قُهات څلور زامن وُو، عُمرام، اِضهار، حبرون او عُزی‌ايل. د
قُهات ټول عُمر يو سل درې ديرش کاله وو. ۱۹ د مراری
دوه زامن وُو، محلی او موشی. دا د ليويانو قبيلې او اولاد
دے. ۲۰ عُمرام د خپل پلار، خور يوکبد وادۀ کړه، چې د
هغې نه يې هارون او موسیٰ پيدا شول. د عُمرام ټول عُمر يو
سل اووۀ ديرش کاله وو. ۲۱ د اِضهار درې زامن وُو،
قورح، نفج او زِکری. ۲۲ د عُزی‌ايل هم درې زامن وُو،
ميسائيل، الصفن او ستری. ۲۳ هارون د عمی‌نداب لور
اليسبع وادۀ کړه چې هغه د نحشون خور وه، د هغې نه يې
ندب، ابيهُو، اِلی‌عزر او اِتمر پيدا شول. ۲۴ د قورح درې
زامن وُو، اسير، القنه او ابياسف، دوئ د قورح قبيلو پلار
نيکۀ وُو. ۲۵ د هارون زوئ، اِلی‌عزر، د فوطئيل د لوڼو نه
يوه لور وادۀ کړه، چې د هغې نه يې فينحاس پيدا شو. دا د
ليوی قبيلې د قومونو او کورَنو مشران وُو. ۲۶ هارون او
موسیٰ هغه کسان وُو چا ته چې مالِک خُدائ وفرمائيل چې،
”د بنی اِسرائيلو قبيلې د مِصر نه بهر بوځئ.“ ۲۷ دا هغه
کسان وُو چا چې د مِصر بادشاه فِرعون ته ووئيل چې بنی
اِسرائيل د مِصر نه بهر تلو ته پريږده.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د مالِک خُدائ حضرت موسیٰ او حضرت هارون له حُکم ورکول

۲۸ چې کله مالِک خُدائ د مِصر په مُلک کښې موسیٰ ته
وفرمائيل چې، ۲۹ ”زهٔ مالِک خُدائ يم. چې زهٔ تا ته څهٔ وايم
هغه هر څهٔ د مِصر بادشاه فِرعون ته ووايه.“ ۳۰ خو موسیٰ
مالِک خُدائ ته وفرمائيل، ”تا ته پته ده چې زهٔ په خبرو کولو
کښې تکړه نهٔ يم، نو فِرعون به زما خبره څنګه واوری؟“

٧ ۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”ګوره، زهٔ تا
فِرعون ته د خُدائ په شان جوړوم او ستا ورور هارون به
ستا د پېغمبر په توګه د هغهٔ سره خبرې کوی. ۲ چې څنګه
ما حُکم درکړے دے هارون ته هغه هر څهٔ ووايه او هغه به
فِرعون ته ووائی چې بنی اِسرائيل د هغهٔ د مُلک نه تلو ته
پرېږدی. ۳-۴ خو زهٔ به د فِرعون زړهٔ سخت کړم. کهٔ زهٔ
هر څومره زياتې نښې او معجزې په مِصر کښې ښکاره کړم
خو هغه به ستا خبره وانهٔ وری. بيا به زهٔ د مِصريانو خِلاف
د خپل لوئ طاقت نه کار واخلم او دوئ له به سخته سزا
ورکړم. او زهٔ به د خپل قوم خلق، بنی اِسرائيل د مِصر مُلک
نه وباسم. ۵ نو مِصريانو ته به پته ولګی چې زهٔ مالِک
خُدائ يم، چې کله زهٔ د دوئ خِلاف خپل لاس اوچت کړم نو
بنی اِسرائيل د هغوئ د مُلک نه بهر بوځم.“ ۶ موسیٰ او
هارون هم هغسې وکړل، لکه څنګه چې مالِک خُدائ حُکم
ورکړے وو. ۷ په هغه وخت چې کله دوئ فِرعون سره
خبرې وکړې، موسیٰ د اتياو کالو وو او هارون د درې اتياو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کالو وو.

## د حضرت هارون امسا

۸ مالِک خُدائ موسیٰ او هارون ته وفرمائيل، ۹ ”کله
چې فِرعون تاسو ته ووائی چې تاسو يوه معجزه ښکاره کړئ،
نو هارون ته ووايه چې خپله امسا راواخلی او د فِرعون په
مخکښې يې وغورزوی، نو يو مار به ترې نه جوړ شی.“ ۱۰
نو موسیٰ او هارون فِرعون له لاړل او هغه شان يې وکړل چې
څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. هارون خپله امسا د
فِرعون او د هغهٔ د درباريانو په مخکښې وغورزوله، نو يو مار
ترې نه جوړ شو. ۱۱ نو فِرعون هم خپل د غيب عِلم لرونکی
خلق او جادوګران راوغوښتل او هغوئ هم د جادو په ذريعه
هم هغه شان وکړل. ۱۲ هغوئ خپلې امساګانې وغورزولې
او د امساګانو نه ماران جوړ شول. خو د هارون امسا د
هغوئ امساګانې تېرې کړې. ۱۳ خو د فِرعون زړهٔ تر اوسه
پورې سخت وو. لکه څنګه چې مالِک خُدائ فرمائيلی وُو،
هغهٔ به د موسیٰ او هارون خبره نهٔ اورېدله.

## په مِصر اول افت: د نيل درياب د اوبو نه وينه جوړېدل

۱۴ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”د فِرعون زړهٔ
سخت دے، هغه خلق تلو ته نهٔ پرېږدی. ۱۵ په سحر کښې
فِرعون له لاړ شه چې کله هغه د نيل درياب ته کوزيږی. د
خپل ځان سره هغه امسا هم يوسه چې مار ترې نه جوړ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوے وو او د دریاب په غاړه هغۀ ته ودرېږه. ۱۶ بیا فِرعون
ته ووایه چې مالِک خُدائ د عبرانیانو خُدائ پاک، زۀ
رالیږلے یم چې تا ته ووایم چې د هغۀ خلق تلو ته پرېږده چې
دوئ په صحرا کښې د هغۀ عبادت وکړی. خو ګوره، تا تر
اوسه پورې دا خبره ونۀ منله. ۱۷ نو اوس، بادشاه سلامت،
مالِک خُدائ به یو داسې کار وکړی چې تا ته پته ولګی چې
هغه په رښتیا مالِک خُدائ دے. ګوره، زما په لاس کښې چې
کومه امسا ده زۀ د دریاب اوبۀ په دې وهم او د اوبو نه به
وینه جوړه شی. ۱۸ کبان به مړۀ شی او د دریاب اوبۀ به
دومره سخت بوئ شروع کړی چې مِصریان به ترې اوبۀ نۀ
شی څښلے.“ ۱۹ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ”هارون
ته ووایه چې خپله امسا راواخلی او د مِصر ټولو اوبو په
طرف یعنې دریابونو، نِهرونو او ډنډونو دپاسه ونیسی. نو د
اوبو نه به وینه جوړه شی او د مِصر په ټوله زمکه به وینه
وی، داسې د لرګی په لوښو او د ختې په منګو کښې به هم
وی.“ ۲۰ نو موسیٰ او هارون هم هغسې وکړل چې څنګه
مالِک خُدائ حُکم کړے وو. د فِرعون او د هغۀ درباریانو په
مخکښې، هارون خپله امسا اوچته کړه او د دریاب اوبۀ یې
پرې ووهلې او د دریاب د ټولو اوبو نه وینه جوړه شوه. ۲۱
په دریاب کښې کبان مړۀ شول او دومره سخا بوئ یې کولو
چې مِصریانو د دریاب نه اوبۀ نۀ شوې څښلے. او د مِصر
په ټول مُلک کښې وینه وه. ۲۲ بیا د فِرعون جادوګرانو د
خپل جادو په ذریعه هم دغه شان وکړل او د فِرعون زړۀ هم
هغه شان سخت وو. لکه څنګه چې مالِک خُدائ فرمائیلی
وُو، هغۀ د موسیٰ او هارون د خبرې اورېدو نه اِنکار وکړو.
۲۳ فِرعون راوګرځېدو او خپل محل ته لاړو، دا خبره یې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زړۀ ته ښکته نۀ کړه. ۲۴ ټولو مِصريانو د څښلو د اوبو
دپاره د درياب غاړه وکنستله، ځکه چې هغوئ د درياب اوبۀ
نۀ شوې څښلے. ۲۵ چې مالِک خُدائ په درياب افت
راوستلے وو نو اووۀ ورځې د هغې نه پس تېرې شوې.

## په مِصر دوېم افت: چيندخې

۸ ۱ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، "فِرعون له
ورشه او هغۀ ته ووايه چې مالِک خُدائ فرمائی، زما خلق تلو
ته پرېږده چې دوئ زما عبادت وکړی. ۲ کۀ تا اِنکار
وکړو، نو زۀ به ستا په ټول مُلک داسې افت راولم چې په
چيندخو به يې پټ کړم. ۳ د نيل درياب به د بې‌شمېره
چيندخو نه ډک وی. دا به ستا محل، ستا د خملاستو کوټې
او کټ ته، ستا د درباريانو او د خلقو کورونو ته او ستاسو
تنورونو او د اوړو ښانکونو ته به هم دروخېژی. ۴ چيندخې
به په تا، ستا په خلقو او ستا په ټولو درباريانو دروخېژی."
۵ مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، "هارون ته ووايه چې
خپله امسا د دريابونو، نِهرونو او ډنډونو دپاسه ونيسه او
چيندخې به د مِصر په مُلک وروخېژوی." ۶ نو هارون دا د
ټولو اوبو دپاسه ونيوله او چيندخې راوختلې او ټول مُلک يې
پټ کړو. ۷ خو جادوګرانو د جادو نه کار واخستلو او
دوئ هم چيندخې جوړې کړې او د مِصر مُلک ته يې راوړې.
۸ نو فِرعون موسىٰ او هارون راوغوښتل او ورته يې
ووئيل، "مالِک خُدائ ته سوال وکړئ چې دا چيندخې لرې
کړی، نو زۀ به ستاسو خلق تلو ته پرېږدم، نو چې دوئ به
مالِک خُدائ ته قربانئ پېش کړی." ۹ موسىٰ ورته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفرمائيل، ”بادشاه سلامت، تهٔ صِرف وخت مقرر کړه چې
زهٔ ستا، ستا درباريانو او ستا د خلقو دپاره سوال وکړم، چې
تهٔ او ستاسو کورونه د چيندخو نه خلاص شى او د نيل
درياب نه بغېر به هيچرته هم پاتې نهٔ شى.“ ۱۰ فِرعون ورته
ووئيل، ”سبا زما دپاره سوال وکړه.“ موسىٰ ورته وفرمائيل،
”زهٔ به هم دغسې وکړم لکه څنګه چې تا ووئيل نو بيا به تا ته
پته ولګى چې د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک په شان بل
هيڅ څوک هم نشته. ۱۱ تهٔ، ستا درباريان او ستا خلق به د
چيندخو نه خلاص شى او د نيل درياب نه غېر به هيچرته هم
پاتې نهٔ شى.“ ۱۲ بيا موسىٰ او هارون د فِرعون د دربار نه
لاړل. چې کله موسىٰ مالِک خُدائ ته سوال وکړو چې هغه
چيندخې لرې کړى کومې چې هغهٔ په فِرعون راوستې وې،
۱۳ نو مالِک خُدائ هم هغه شان وکړل چې څنګه موسىٰ
فرمائيلى وُو او په کورونو، صحنونو او په پټو کښې چيندخې
مړې شوې. ۱۴ مِصريانو دا راغونډې کړې او لوئ ډېرى يې
ترې جوړ کړل او ټول مُلک سخا بوئ کولو. ۱۵ فِرعون چې
کله دا وليدل چې خبر شو، نو هغهٔ بيا خپل زړهٔ سخت کړو،
لکه څنګه چې مالِک خُدائ فرمائيلى وُو، چې فِرعون به د
موسىٰ او هارون خبره نهٔ اورى.

## په مِصر دريم افت: ماشى

۱۶ مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ”هارون ته ووايه چې
زمکه په خپله امسا ووهه، نو د ټول مِصر د مُلک خاورې نه
به ماشى جوړ شى.“ ۱۷ نو هارون زمکه په خپله امسا ووهله
او د مِصر د مُلک د ټولې خاورې نه ماشى جوړ شول، چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول خلق او ځناور يې پېڅ کړل. ۱۸ جادوګرانو هم زمکه
ووهله چې د خپل جادو نه کار واخلی چې ماشی راولی، خو
دوئ ناکام شول. نو ماشی په بنيادمو او ځناورو پورې انښتی
وُو، ۱۹ بيا جادوګرانو فِرعون ته ووئيل، ”دا د خُدائ پاک
کار دے.“ خو د فِرعون زړۀ سخت وو، لکه څنګه چې مالِک
خُدائ فرمائيلی وُو، چې فِرعون به د موسىٰ او هارون خبره
نۀ اوری.

## په مِصر څلورم افت: مچان

۲۰ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ”سبا سحر وختی
لاړ شه او د فِرعون سره مِلاو شه چې کله هغه درياب ته ځی،
نو هغۀ ته ووايه چې مالِک خُدائ فرمائی، زما خلق تلو ته
پرېږده چې دوئ زما عبادت وکړی. ۲۱ کۀ تۀ زما خلق تلو
ته پرې نۀ ږدې، نو زۀ به په تا، ستا په درباريانو او ستا په
خلقو بېشمېره مچان نازل کړم، د مِصريانو کورونه به د
مچانو نه ډک وی او زمکه به وربانديې پټه وی. ۲۲ خو په
هغه ورځ به زۀ د جشن علاقه بچ کړم، چرته چې زما خلق
اوسيږی، نو هلته به مچان بېخی نۀ وی. زۀ چې داسې وکړم
نو تا ته به پته ولګی چې زۀ مالِک خُدائ، په دې مُلک کښې
حاضر يم. ۲۳ او زۀ به د خپلو خلقو او ستا د خلقو په مينځ
کښې فرق راولم. دا نښه به سبا څرګنده شی.“ ۲۴ مالِک
خُدائ هم داسې وکړل او بېشمېره مچان د فِرعون محل ته
او د هغۀ د درباريانو کورونو ته راننوتل. د بېشمېره مچانو په
وجه د مِصر ټول مُلک وران شو. ۲۵ نو فِرعون موسىٰ او
هارون راوغوښتل او ورته يې ووئيل، ”لاړ شئ او هم په دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُلک کښې خپل خُدائ پاک ته قربانۍ پېش کړئ.“ ۲۶ خو
موسیٰ ورته وفرمائيل، ”داسې کول به ټيک نۀ وی، چې کوم
ځناور مونږ قربانی کوُو او مونږ يې مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک ته پېش کوُو د هغې په وجه به مِصريان نفرت کوی. کۀ
د دې ځناورو د حلالولو په وجه مِصريان زمونږ نه نفرت
وکړی نو چې چرته هغوئ مونږ ووينی، نو مونږ به سنګسار
کړی. ۲۷ مونږ به خامخا په صحرا کښې درې ورځې سفر
کوُو چې مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته په صحرا کښې
قربانۍ پېش کړُو، لکه څنګه چې هغۀ مونږ له حُکم راکړے
دے.“ ۲۸ نو فِرعون ووئيل، ”زۀ به تاسو تلو ته پرېږدم چې
مالِک خُدائ، خپل خُدائ پاک ته په صحرا کښې قربانۍ پېش
کړئ، خو تاسو ډېر لرې مۀ ځئ. زما دپاره سوال وکړه.“ ۲۹
موسیٰ ورته وفرمائيل، ”چې څنګه زۀ لاړ شم، نو زۀ به مالِک
خُدائ ته سوال وکړم چې سبا ستا، ستا د درباريانو او ستا د
خلقو نه مچان لاړ شی. خو چې بيا تۀ مونږ له دوکه رانۀ کړې
او چې خلق د تلو نه ايسار نۀ کړې چې مالِک خُدائ ته
قربانۍ وکړی.“ ۳۰ موسیٰ د فِرعون د دربار نه لاړو او
مالِک خُدائ ته يې سوال وکړو، ۳۱ نو مالِک خُدائ د
موسیٰ سوال قبول کړو. مچان د فِرعون، د هغۀ د درباريانو
او د هغۀ د خلقو نه لاړل، يو مچ هم پاتې نۀ شو. ۳۲ خو دا
ځل هم فِرعون زړۀ سخت کړو او بيا يې خلق تلو ته نۀ
پرېښودل.

## په مِصر پينځم افت: د ځناورو مرۀ کېدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ ١ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ”فِرعون له لاړ
شه او ورته ووایه چې مالِک خُدائ، د عبرانیانو خُدائ پاک
فرمائی، چې زما خلق تلو ته پرېږده چې زما عبادت وکړی.
٢ خو کۀ تۀ اِنکار کوې او هغوئ بیا هم تلو ته نۀ پرېږدې،
٣ نو ګوره، زۀ به ستا په ټولو څناورو، ستا په آسونو،
خرونو، اوښانو، څاروو، ګډو او چېلو سخته بیماری
درولېږم. ٤ زۀ به د بنی اِسرائیلو او د مِصریانو د څاروو په
مینځ کښې فرق راولم او د بنی اِسرائیلو یو څاروے به هم نۀ
مری. ٥ ما مالِک خُدائ سبا وخت د دې کار کولو دپاره
مقرر کړے دے.“ ٦ بله ورځ مالِک خُدائ هم هغسې وکړل
لکه څنګه چې مالِک خُدائ فرمائیلی وُو. د مِصریانو ټول
څاروی مړۀ شول، خو د بنی اِسرائیلو یو څاروے هم مړ نۀ
شو. ٧ فِرعون تپوس وکړو چې څۀ شوی وُو او هغۀ ته
ووئیلے شول چې د بنی اِسرائیلو یو څاروے هم مړ نۀ شو.
خو د هغۀ زړۀ سخت وو او هغۀ به خلق تلو ته نۀ پرېښودل.

## په مِصر شپږم افت: دانې

٨ بیا مالِک خُدائ موسیٰ او هارون ته وفرمائیل، ”د بټۍ نه
یو څو لَپې ایرې راواخلئ، دا به موسیٰ د فِرعون په مخکښې د
آسمان طرف ته لړه کړی. ٩ دا به د دوړې په شان د مِصر
په ټول مُلک کښې خورې شی او په هر ځائ کښې به دا دانې
په خلقو او څناورو راوخېژی.“ ١٠ نو هغوئ ایرې
راواخستلې او د فِرعون په مخکښې ودرېدل، موسیٰ دا د
آسمان طرف ته لړه کړې، نو په خلقو او څناورو باندې دانې
راوختلې او سخا شوې. ١١ جادوګران د دې قابل نۀ وُو چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د موسیٰ په مخکښې ولاړ وے، ځکه چې د نورو ټولو
مِصریانو په شان دوئ هم په دانو پټ وُو. ١٢ خو مالِک
خُدائ د فِرعون زړۀ سخت کړو، لکه څنګه چې هغۀ فرمائيلی
وُو، چې فِرعون به د موسیٰ او هارون خبره نۀ اوری.

## په مِصر اوؤم افت: ږلۍ

١٣ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”سحر وختی پاڅه
او د فِرعون په مخکښې ودرېږه او هغۀ ته ووايه چې مالِک
خُدائ، د عبرانيانو خُدائ پاک فرمائی، چې زما خلق تلو ته
پرېږده چې دوئ زما عبادت وکړی. ١٤ دا ځل به زۀ نۀ
صِرف ستا درباريانو او ستا خلقو له سزا ورکوم، بلکې دغه
شان تا له به هم سزا درکوم، نو تا ته به پته ولګی چې په ټوله
دُنيا کښې زما په شان بل هيڅ څوک هم نشته. ١٥ کۀ ما
خپل لاس اوچت کړے وے او تۀ او ستا خلق مې په بيمارو
وهلے وے، نو تاسو به د دُنيا نه ورک شوی وئ. ١٦ خو ما
تۀ د دې دپاره بادشاه کړې چې خپل طاقت ستا په ذريعه
څرګند کړم او چې زما نوم په ټوله دُنيا کښې خور شی. ١٧
خو تر اوسه پورې تۀ خپل ځان ته لوئ ګورې او زما خلق
تلو ته نۀ پرېږدې. ١٨ ګوره، سبا دا وخت به زۀ ږلۍ ووروم،
چې داسې ږلۍ به کله د مِصر په تاريخ کښې هم نۀ وی شوې.
١٩ اوس خپل څاروی راولئ او چې په پټو کښې ستاسو نور
څۀ هم وی هغه محفوظ ځائ ته راوړئ. ږلۍ به په بهر پاتې
خلقو او ځناورو باندې ووريږی او ټول به مړۀ شی.“ ٢٠ د
فِرعون کوم درباريان چې د مالِک خُدائ د خبرې نه يرېدل
نو هغوئ خپل نوکران او څاروی په منډه باندې کورونو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بوتلل. ۲۱ خو چا چې د مالِک خُدائ خبرو ته غوږ ونۀ
نیولو نو هغوئ خپل نوکران او څاروی بهر په پټو کښې
پرېښودل. ۲۲ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، "خپل
لاس کښې امسا آسمان ته پورته کړه، نو د مِصر په ټول
مُلک، خلقو، څناورو او په پټو کښې په ټولو بوټو به ږلۍ
ووریږی." ۲۳-۲۴ نو موسیٰ خپله امسا آسمان ته پورته کړه
او مالِک خُدائ تندر او ږلۍ راولېږله او برېښنا زمکه ووهله.
مالِک خُدائ د ږلۍ یو لوئ طوفان او آسمانی بجلی راولېږله.
د مِصر په ټول تاریخ کښې هم داسې خراب طوفان کله هم نۀ
وو تېر شوے. ۲۵ د مِصر په مُلک کښې بهر ټول څناور او
خلق ږلۍ ووهل. ږلۍ په پټو کښې ټول بوټی وغورزول او ټولې
ونې یې ماتې کړلې. ۲۶ خو صِرف د جشن په علاقه کښې،
چرته چې بنی اِسرائیل اوسېدل، هلته لږه ږلۍ هم نۀ وه
وریدلې. ۲۷ فِرعون موسیٰ او هارون راوغوښتل او ورته یې
وفرمائیل، "دا ځل زما نه گناه شوې ده، مالِک خُدائ صادق
دے او زۀ او زما خلق بدعمله یُو. ۲۸ مالِک خُدائ ته سوال
وکړه. نور مونږ دې ږلۍ او تندرونو ته نۀ شُو ټینګېدے. زۀ به
تاسو تلو ته پرېږدم، تاسو به دلته نور نۀ ایسارېږئ." ۲۹
موسیٰ هغۀ ته وفرمائیل، "زۀ چې څنګه د ښار نه لاړ شم، نو
زۀ به د دُعا دپاره خپل لاسونه مالِک خُدائ ته پورته کړم. نو
تندر به بس شی او نوره ږلۍ به نۀ وریږی، نو داسې به تا ته
پته ولګی چې زمکه د مالِک خُدائ ده. ۳۰ خو ما ته پته ده
چې تۀ او ستا درباریان اوس هم د مالِک خُدائ، خُدائ پاک
نه نۀ یرېږئ." ۳۱ سنڼ او اوربشې تباه شول، ځکه چې
اوربشې پخې وې او د سنڼو بوټی غوټۍ شوی وُو. ۳۲ خو د
غنمو فصل خراب نۀ شو، ځکه چې دا وروستو پخېږی. ۳۳

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موسیٰ د فِرعون نه لاړو او د ښار نه بهر ووتلو او خپل لاسونه
يې مالِک خُدائ ته پورته کړل. تندرونه، ږلۍ او باران هر څۀ
ودرېدل. ۳۴ چې کله فِرعون ته پته ولګېده چې طوفان ختم
شو، نو هغۀ بيا ګناه وکړه. هغۀ او د هغۀ درباريانو خپل
زړونه سخت کړل ۳۵ او لکه چې څنګه مالِک خُدائ د
موسیٰ په ذريعه مخکښې فرمائيلی وُو، فِرعون بنی اِسرائيل
تلو ته نۀ پرېښودل.

## په مِصر اتم افت: د قحطۍ مُلخان

۱۰ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”فِرعون له
لاړ شه. ما د هغۀ او د هغۀ د درباريانو زړونه سخت کړی
دی، چې زۀ په دوئ کښې خپلې دا معجزې څرګندې کړم ۲
او چې تاسو خپلو زامنو او نمسو ته وئيلے شئ چې کله ما
معجزې څرګندې کړې نو ما د مِصريانو نه څنګه کم عقل
جوړ کړل. تاسو ټولو ته به پته ولګی چې زۀ مالِک خُدائ يم.“
۳ نو موسیٰ او هارون فِرعون له لاړل او هغۀ ته يې
وفرمائيل، ”مالِک خُدائ، د عبرانيانو خُدائ پاک فرمائی چې،
تۀ به تر کومې پورې زما د منلو نه اِنکار کوې؟ زما خلق تلو
ته پرېږده، چې هغوئ زما عبادت وکړی. ۴ کۀ تۀ هم دغه
شان اِنکار کوې، نو ګوره، سبا به زۀ ستا مُلک ته د قحطۍ
مُلخان درولېږم. ۵ دا به دومره زيات وی چې د زمکې مخ
به پټ کړی او هيڅ څوک به هم زمکه نۀ شی کتلے. دا به هغه
هر څۀ وخوری کوم چې ږلۍ نۀ دی تباه کړی، دغه شان هغه
ونې به هم وخوری چې بيا راشنې کيږی. ۶ د قحطۍ
مُولخانو نه به ستاسو کورونه، ستا د ټولو درباريانو او ستا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو خلقو کوروونه ړک شی. دا به د هغه هر څۀ نه بدتر وی
چې کوم ستا پلار نیکۀ په تاریخ کښې لیدلی دی.“ بیا موسیٰ
راوګرځېدو او د فِرعون نه لاړو. ۷ د فِرعون درباریانو هغۀ
ته ووئیل، ”دا سړے به تر کومې پورې مونږ له تکلیف
راکوی؟ دا خلق تلو ته پرېږده، نو چې دوئ د مالِک خُدائ،
خپل خُدائ پاک عبادت وکړی. تا ته پته نۀ لګی چې مِصر
تباه شو؟“ ۸ نو موسیٰ او هارون واپس فِرعون له راوستے
شول، نو هغۀ دوئ ته ووئیل، ”تاسو لاړ شئ او د مالِک خُدائ
د خپل خُدائ پاک عبادت وکړئ. خو څوک څوک به ځی؟“
۹ نو موسیٰ ورته وفرمائیل، ”مونږ به ټول سره د خپلو
ځوانانو او زړو ځُو. مونږ به د ځان سره خپل زامن، لوڼه،
ګډې، چېلۍ او خپل څاروی هم بوځُو، ځکه چې مونږ به د
مالِک خُدائ په درناوی کښې اختر کوُو.“ ۱۰ فِرعون ووئیل،
”زما دې په مالِک خُدائ قسم وی چې زۀ به تاسو هیڅکله نۀ
پرېږدم چې خپلې ښځې او بچی هم بوځئ. ګورئ، تاسو د څۀ
غلط کار منصوبه جوړَوئ. ۱۱ نه، هیڅکله هم نه. کۀ تاسو د
مالِک خُدائ عبادت کول غواړئ نو صِرف سړی تلے شی.“
نو موسیٰ او هارون د فِرعون د دربار نه وشړلے شول. ۱۲
بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ”خپل لاس اوږد کړه
چې د مِصر په مُلک د قحطۍ مُلخان راشی. چې د قحطۍ
مُلخان راشی نو هر یو شین بوټے به وخوری، هر هغه څیز
چې د ږلۍ نه بچ پاتې وی.“ ۱۳ نو موسیٰ خپله امسا اوږده
کړه او مالِک خُدائ د نمرخاتۀ طرف نه په هغه مُلک باد
راولېږلو چې په هغه ټوله شپه او ټوله ورځ وچلېدو. چې کله
سحر شو نو دې باد د قحطۍ مُلخان راوړی وُو. ۱۴ د قحطۍ
دې مُولخانو د مِصر ټول مُلک نیولے وو. دا د قحطۍ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُولخانو د ټولو نه غټې لښکر وو چې نۀ د دې نه مخکښې
ليدلے شوے وو او نۀ به بيا کله وليدلے شى. ۱۵ دوئ د
زمکې ټول مخ پټ کړو چې د دوئ په وجه مُلک تک تور شو،
دوئ هغه هر څۀ وخوړل کوم چې د ږلۍ نه پاتې وُو، سره د
هغه مېوې چې په ونو کښې وې. د مِصر ټول مُلک په ونو او
بوټو کښې هيڅ يو شين څيز پاتې نۀ شو. ۱۶ نو فِرعون
سمدستى موسىٰ او هارون راوغوښتل او ورته يې ووئيل، ”ما
د مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ پاک او ستاسو خِلاف ګناه
کړې ده. ۱۷ نو اوس دا يو ځل زما ګناه معاف کړه او
مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته سوال وکړه چې دا د مرګ
افت زما نه لرې کړى.“ ۱۸ موسىٰ د فِرعون نه لاړو او
مالِک خُدائ ته يې سوال وکړو. ۱۹ او مالِک خُدائ هغه د
نمرخاتۀ باد په يو زورَور نمرپرېواتۀ باد بدل کړو، چې ټول د
قحطىٰ مُلخان يې اوچت کړل او بحرِقُلزم ته يې يوړل. د مِصر
په مُلک کښې يو د قحطىٰ مُلخ هم پاتې نۀ شو. ۲۰ خو مالِک
خُدائ د فِرعون زړۀ سخت کړو او بنى اِسرائيل يې تلو ته نۀ
پرېښودل.

## په مِصر نهم افت: توره تيارۀ

۲۱ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ”خپل لاس آسمان
طرف ته اوږد کړه، نو د مِصر په ټول مُلک به تيارۀ راشى،
داسې تکه توره تيارۀ چې چا ته به هيڅ هم نۀ ښکارى.“ ۲۲
موسىٰ خپل لاس آسمان طرف ته اوچت کړو او درې ورځې
په ټول مِصر تکه توره تيارۀ وه. ۲۳ مِصريانو تر درېو ورځو
پورې يو بل نۀ شُو ليدلے او هيڅ څوک هم د خپل ځائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه ونهٔ خوځېدل، خو چې په کوم ځائ کښې بنی اِسرائيل
اوسېدل هلته رڼا وه. ۲۴ فِرعون موسیٰ راوغوښتلو او ورته
يې ووئيل، ”تاسو لاړ شئ چې د مالِک خُدائ عبادت وکړئ،
هم دغه شان ستاسو ښځې او بچی هم درسره تلے شی. خو
ستاسو ګډې، چېلئ او څاروی به خامخا دلته پاتې کيږی.“
۲۵ خو موسیٰ ورته وفرمائيل، ”تهٔ به مونږ له څاروی راکوې
چې مونږ يې د قربانيانو او سوزېدونکې نذرانې په توګه مالِک
خُدائ خپل خُدائ پاک ته پېش کړُو. ۲۶ مونږ به خپل
څاروی د ځان سره بوځُو، يو څاروے به هم نهٔ پاتې کيږی.
مونږ به په خپله څاروی خوښوو چې دې سره د مالِک خُدائ
د خپل خُدائ پاک عبادت وکړُو. چې مونږ هلته رسېدلی نهٔ يُو
مونږ ته پته نهٔ لګی چې د کومو څاروو قربانئ هغهٔ ته پېش
کړُو.“ ۲۷ مالِک خُدائ د فِرعون زړهٔ سخت کړو او دوئ يې
تلو ته پرې نهٔ ښودل. ۲۸ هغهٔ موسیٰ ته ووئيل، ”د مخې نه
مې ورک شه. نور چې زما وړاندې رانهٔ شې. په کومه ورځ
چې زما مخې ته راغلې نو مړ به شې.“ ۲۹ موسیٰ ورته
وفرمائيل، ”ټيک ده، تا ښهٔ ووئيل، تهٔ به بيا ما کله هم ونهٔ
وينې.“

## په مِصر لسم افت: مرګ

۱۱ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”زهٔ به د
مِصر په فِرعون او د هغهٔ په خلقو يو آخری افت راولم. د
هغې نه پس به هغه تاسو د دې ځائ نه تلو ته پرېږدی. په
رښتيا سره، هغه به تاسو ټول د دې ځائ نه وباسی. ۲
خلقو ته ووايه چې هر يو سړے د خپل ګاونډی نه او هره يوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځه به د خپلې ګاونډۍ نه د سپینو زرو او سرو زرو کالی
وغواړی.“ ۳ مالِک خُدائ بنی اِسرائیل د مِصریانو په نظر
کښې درانۀ کړی دی. د دې نه علاوه، په خپله موسیٰ هم د
مِصر په مُلک کښې د فِرعون د درباریانو او د ټولو خلقو په
مخکښې یو عزتمند سړے ګڼلے شو. ۴ موسیٰ بیا فِرعون
ته وفرمائیل، ”مالِک خُدائ فرمائی چې تقریباً په نیمه شپه به
زۀ د مِصر نه تېر شم، ۵ د مِصر په مُلک کښې هر یو مشر
زوئ به مړ شی، د فِرعون د مشر زوئ نه واخله کوم چې په
تخت کښېنی د وینځې تر هغه مشر زوئ پورې کوم چې
مېچنې ته ناست وی، او د څاروو ټول وړومبی پیدا شوی
بچی به هم مړۀ شی. ۶ د مِصر په ټول مُلک کښې به داسې
په زوره ژړا وی، چې نۀ به مخکښې کله شوې وی او نۀ به
وشی. ۷ خو چې چرته بنی اِسرائیل اوسیږی نو هلته به
خبر وی، دوئ او د دوئ په څاروو پسې به یو سپے قدر هم
ونۀ غپیږی. نو تا ته به پته ولګی چې زۀ، مالِک خُدائ د
مِصریانو او بنی اِسرائیلو په مینځ کښې فرق راولم.“ ۸
موسیٰ خپله خبره د دې وئیلو سره ختمه کړه، ”ستا ټول
درباریان به ما له راشی او زما په مخکښې به ټیټ شی او
دوئ به زما مِنت وکړی چې خپل ټول خلق روان کړه او لاړ
شه. د دې نه پس به زۀ لاړ شم.“ نو موسیٰ د قهره تک سور
وو چې د فِرعون نه لاړو. ۹ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته
وفرمائیل، ”فِرعون به ستا خبره ځکه وانۀ وری، چې زۀ د
مِصر په مُلک کښې نورې معجزې هم وکړم.“ ۱۰ موسیٰ او
هارون د فِرعون په مخکښې دا ټولې معجزې وکړې، خو
مالِک خُدائ به د فِرعون زړۀ سختولو او هغۀ به بنی اِسرائیل
د هغۀ د مُلک نه تلو ته نۀ پرېښودل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د فسحې اختر

١٢ ١ مالِک خُدائ د مِصر په مُلک کښې موسیٰ او
هارون ته وفرمائيل، ٢ ”دا مياشت به ستاسو دپاره د کال
اولنۍ مياشت وى. ٣ د بنى اِسرائيلو ټول قوم ته دا ووايۀ
چې، د دې مياشتې په لسمه ورځ به هر سړے د خپل خاندان
دپاره يو ګډُورے يا د چېلۍ بچے راولى. ٤ او کۀ چرې د
چا په خاندان کښې د ټول ښاروى خوړلو والا کسان کم وى،
نو هغه دې د خپل ګاونډى سره چې د هغۀ د کور په خوا
کښې اوسيږى، په شريکه د کسانو د شمېر په مطابق ګډُورے
يا د چېلۍ بچے راولى او هر يو کس ته دې د خوراک په
مطابق حِصه مِلاو شى. ٥ تاسو به يو ګډُورے يا د چېلۍ
بچے خوښ کړئ، خو دا دې خامخا د يو کال نر وى چې
هيڅ عيب په کښې نۀ وى. ٦ نو د دې مياشتې د څوارلسمې
ورځې په ماښام، د بنى اِسرائيلو ټول قوم به دا ښاروى حلال
کړى. ٧ خلق دې د هغه وينې نه لږه وينه واخلى او د
دروازو په چوکاټونو او پاسنۍ درشل باندې دې ولګوى، د
کورونو په هغه چوکاټونو چرته چې هغوئ دا ښاروى خورى.
٨ په هغه شپه دې غوښه په اور وريته کړے شى او د ترخو
بوټو او د پتيرې روټۍ سره دې وخوړلے شى. ٩ د دې
ښاروى نه څۀ کچه او يا يشېدلې څيز مۀ خورئ، بلکې دا ټول
وريت کړئ او سره د سر، پښو او دننى ټولو اندامونه يې
وخورئ. ١٠ تر سحره پورې په دې کښې هيڅ هم باقى مۀ
پريږدئ، خو کۀ پاتې شى نو هغه وسوزوئ. ١١ دا به تاسو
زر زر خورئ، ځکه چې تاسو به د سفر دپاره ملا تړئ،
ستاسو په پښو به پېزار وى او ستاسو په لاسونو کښې به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

امساګانې وی. دا زما يعنې د مالِک خُدائ په درناوی کښې د
فسحې اختر دے. ۱۲ په هغه شپه به زۀ د مِصر مُلک نه
تېرېږم او هر وړومبے پيدا شوے نر انسان او حيوان به
ووژنم او د مِصر ټولو معبودانو له به سزا ورکړم، زۀ مالِک
خُدائ يم. ۱۳ په چوکاټونو د وينې نښه به ما ته هغه کورونه
په نښه کوی چې تاسو په کښې اوسېږئ. چې کله زۀ
مِصريان هلاکوم او زۀ دې وينې ته ګورم، نو د څۀ نقصان
رسولو نه بغېر به ستاسو نه تېر شم. ۱۴ تاسو په دې ورځ
خامخا اختر کوئ چې تاسو ته هغه څۀ دريادېږی چې ما
مالِک خُدائ څۀ کړی دی. دغه اختر په راتلونکی وختونو
کښې همېشه دپاره کوئ.“

## د پتيرې روټۍ اختر

۱۵ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”تاسو به اووۀ ورځې خمبيره
شوې پخه روټۍ نۀ خورئ، صِرف پتيره روټۍ به خورئ. په
وړومبۍ ورځ به تاسو د خپلو کورونو نه ټوله خمبيره لرې
کړئ، ځکه چې کۀ په دې اووۀ ورځو کښې څوک خمبيره
شوې پخه روټۍ وخوری، نو هغه کس به د بنی اِسرائيلو نه نۀ
شی ګڼلے. ۱۶ په وړومبۍ ورځ او بيا په اوومه ورځ به تاسو
زما د عبادت دپاره يو ځائ کېږئ. په دغه ورځو کښې به بل
يو کار هم نۀ کوئ خو د ځان دپاره صِرف خوراک تيارولے
شئ. ۱۷ د پتيرې روټۍ اختر کوئ، ځکه چې دا هغه ورځ ده
چې ما تاسو د مِصر نه قبيله په قبيله راوويستلئ. تاسو به په
راتلونکی وختونو کښې همېشه په دې ورځ اختر کوئ. ۱۸ د
وړومبۍ مياشتې د څوارلسمې ورځې د ماښام نه واخله د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یویشتمې ورځې تر ماښامه پورې، خمبیره شوې روټۍ مۀ
خورئ. ۱۹-۲۰ چې اووۀ ورځې ستاسو په کورونو کښې
خمبیره پیدا نۀ شی، کۀ څوک هم خمبیره روټۍ وخوری کۀ
هغه د دې مُلک وی یا مسافر وی، نو هغه کس به نور د بنی
اِسرائیلو نه نۀ شی ګڼلے.“

## د فسحې اختر په اول ځل کول

۲۱ موسیٰ د بنی اِسرائیلو ټول مشران راوغوښتل او هغوئ
ته یې وفرمائیل، ”په تاسو کښې دې هر یو کس یو ګډُورے یا
د چیلۍ بچے خوښ کړی او حلال یې کړئ، نو چې ستاسو
خاندان د فسحې اختر وکړی. ۲۲ د ویلنی یوه ګېډۍ
راواخلئ، دا د وینې په لوښی کښې ډُوبه کړئ او دا وینه د
خپلو کورونو د دروازو په چوکاټونو او په پاسنو دُرشلو باندې
ولګوئ. په تاسو کښې دې یو کس هم د خپل کور نه تر سحره
پورې نۀ وځی. ۲۳ چې کله مالِک خُدائ د مِصر نه تېرېږی
او مِصریان هلاکوی، نو هغه به د دروازو په چوکاټونو او
پاسنو دُرشلو باندې هغه وینه وګوری او د مرګ فرښته به
ستاسو کورونو ته پرې نۀ ږدی چې راننوځی او تاسو ووژنی.
۲۴ تاسو او ستاسو اولاد به خامخا همېشه دپاره دا اصُول
منئ. ۲۵ چې کله تاسو هغه مُلک ته ورننوځئ چې مالِک
خُدائ د هغې درکولو وعده کړې ده، نو تاسو دا اختر هر کال
کوئ. ۲۶ چې ستاسو اولاد ستاسو نه تپوس کوی چې، د
دې اختر څۀ مطلب دے؟ ۲۷ تاسو به ورته وایئ چې دا د
مالِک خُدائ په درناوی کښې د فسحې اختر قربانی ده، ځکه
چې هغه په مِصر کښې د بنی اِسرائیلو د کورونو دپاسه تېر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شو. هغهٔ مِصریان هلاک کړل، خو مونږ یې بچ کړُو.“ بنی
اِسرائیلو خپل سرونه ټیټ کړل او د مالِک خُدائ عبادت یې
وکړو. ٢٨ بیا بنی اِسرائیل لاړل او هغه شان یې وکړل چې
څنګه مالِک خُدائ موسیٰ او هارون له حُکم ورکړے وو.

## د آخری افت رارسېدل

٢٩ په نیمه شپه کښې مالِک خُدائ د مِصر په مُلک کښې
ټول وړومبی پېدا شوی زامن ووژل، د فِرعون د زوئ نه
واخله کوم چې په تخت کښېناستو، د هغه قېدی د زوئ پورې
چې په قېدخانې کښې وو، د څاروو ټول وړومبی پېدا شوی
بچی هم ووژلے شول. ٣٠ په هغه شپه فِرعون، د هغهٔ
درباریان او نور ټول مِصریان راویښ شول. په ټول مِصر
کښې په چغو چغو ژړا کېدله، ځکه چې یو کور هم داسې نهٔ
وو چې مړے په کښې نهٔ وو شوے. ٣١ هم په هغه شپه
بادشاه موسیٰ او هارون راوغوښتل او ورته یې ووئیل، ”تاسو
دواړه او ټول بنی اِسرائیل پاڅئ. زما د مُلک نه ووځئ، لکه
څنګه چې تاسو وئیل، نو لاړ شئ او د مالِک خُدائ عبادت
وکړئ. ٣٢ خپلې ګډې، چېلۍ او څاروی د ځان سره بوځئ
او لاړ شئ. او زما د برکت دپاره هم دُعا وکړئ.“ ٣٣
مِصریانو په بنی اِسرائیلو زور راوړو چې زر زر د هغه مُلک
نه ووځی، دوئ ووئیل، ”کهٔ تاسو لاړ نهٔ شئ نو مونږ به ټول
مړهٔ شُو.“ ٣٤ نو خلقو د پتیرې پېړو ښانکونه ډک کړل او په
څادرو کښې یې وتړل او د ځان سره یې یوړل. ٣٥ بنی
اِسرائیلو هم هغسې کړی وُو چې څنګه موسیٰ ورته فرمائیلی
وُو او د مِصریانو نه یې د سرو زرو او سپینو زرو کالی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جامې غوښتلې وُو. ٣٦ مالِک خُدائ په مِصريانو د دې
خلقو قدر وکړو او چې دوئ څۀ غوښتل هغوئ ورکړل. نو
داسې بنى اِسرائيلو د مِصريانو دولت لوټ کړو.

## د بنى اِسرائيلو د مِصر نه تلل

٣٧ بنى اِسرائيلو د رعمسيس نه سُکات پورې پېدل مزل
وکړو. د ښځو او ماشومانو نه بغېر دا تقريباً شپږ لاکه سړى
وُو. ٣٨ سره د ډېرو گډو، چېلو او ښاروو، نور هم ډېر خلق
ورسره لاړل. ٣٩ دوئ د هغه پېړو نه پتيره روټۍ پخې کړې
چې کومې يې د مِصر نه ځان سره راوړې وې، ځکه چې
دوئ د مِصر نه ناڅاپى ويستلے شوى وُو چې دومره وخت
ورته مِلاو نۀ شو چې د ځان دپاره خمبيره روټۍ يا نور
خوراک تيار کړى. ٤٠ بنى اِسرائيل په مِصر کښې څلور
سوه ديرش کاله اوسېدل. ٤١ هم په هغه ورځ څلور سوه
ديرش کاله پوره شول، چې د مالِک خُدائ د خلقو ټولې قبيلې
د مِصر نه ووتلې. ٤٢ دا هغه شپه وه چې د مالِک خُدائ په
دوئ نظر وو چې کله يې دوئ د مِصر نه راوويستل، نو دغه
شپه به د همېشه دپاره مالِک خُدائ ته وقف وى نو ټول بنى
اِسرائيل به په هم دې وجه په راتلونکى وخت کښې په دې شپه
بېدار اوسيږى.

## د فسحې اختر په حقله اصُول

٤٣ مالِک خُدائ موسىٰ او هارون ته وفرمائيل، ”دا د فسحې
د اختر اصُول دى. د بل مُلک يو کس به هم د فسحې اختر
خوراک نۀ خورى، ٤٤ خو چې کوم غلام تاسو په بيعه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخستے وی دا خوراک خوړلے شی خو تاسو به مخکښې
هغه سنت کوئ. ۴۵ مسافر یا مزدور به دا نۀ شی خوړلے.
۴۶ دا ټول خوراک به په هغه کور کښې خوړلے شی چې په
کوم کښې دا تيار شوے وی، چې غوښه بهر راونۀ باسئ او
چې يو هډُوکے هم مات نۀ کړئ. ۴۷ د بنی اِسرائيلو ټول
قوم به دا اختر کوی، ۴۸ خو چې کوم سړے سنت شوے
نۀ وی هغه به دا نۀ خوری. کۀ په تاسو کښې د بل مُلک څوک
اوسيږی او د مالِک خُدائ په درناوی کښې د فسحې اختر
کول غواړی، نو اول به خامخا د هغۀ د کور ټول نران سنت
کولے شی. بيا به هغه د يو پېدائشی بنی اِسرائيلی په شان
ګڼلے شی او په دې اختر کښې تاسو سره برخه اخستے
شی. ۴۹ د هغه مُلک او د بل مُلک خلقو دپاره به يو شان
قانون وی کوم چې ستاسو سره اوسيږی.“ ۵۰ ټولو بنی
اِسرائيلو فرمانبرداری وکړه او هم هغه شان يې وکړل چې
څنګه مالِک خُدائ موسیٰ او هارون له حُکم ورکړے وو. ۵۱
هم په هغه ورځ مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو قبيلې د مِصر د
مُلک نه راوويستلې.

## د اول پېدا شوو نرانو وقف کول

۱۳ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۲ ”ټول
وړومبی پېدا شوی نران ما ته وقف کړه. د هرې بنی اِسرائيلې
ښځې مشر ماشوم او هر يو وړومبے نر څاروے زما دے.“

## د پتيرې روټۍ اختر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ موسیٰ خلقو ته وفرمائيل، ”دا ورځ ياده ساتئ، په کومه
ورځ چې تاسو د مِصر نه راووتلئ، چرته چې تاسو غلامان
وئ، دا هغه ورځ ده چې مالِک خُدائ تاسو د خپل لوئ
طاقت سره راوويستلئ، خمبيره روټۍ به نۀ خورئ. ۴ د
وړومبۍ مياشتې په دې ورځ چې د ابيب مياشت ده تاسو د
مِصر نه روان يئ. ۵ مالِک خُدائ ستاسو د پلار نيکۀ سره
پوخ لوظ کړے دے چې تاسو له به د کنعانيانو، حِتيانو،
اموريانو، حِوِيانو او د يبوسيانو مُلک درکوی. چې کله تاسو
هغه زرخيز مُلک ته بوځی، نو د کال په وړومبۍ مياشت کښې
دا اختر کوئ. ۶ اووۀ ورځې به تاسو پتيره روټۍ خورئ او
په اوومه ورځ د مالِک خُدائ د درناوی دپاره اختر وکړئ.
۷ اووۀ ورځې به تاسو خمبيره روټۍ نۀ خورئ، چې
خمبيره روټۍ هيچرته هم ستاسو په مُلک کښې پيدا نۀ شی.
۸ چې کله اختر شروع کيږی، خپلو زامنو ته ووايئ چې دا
هر څۀ تاسو ځکه کوئ چې کله تاسو د مِصر نه تلئ نو مالِک
خُدائ ستاسو دپاره څۀ کړی وُو. ۹ چې کله تاسو دا اختر
کوئ نو دا به تاسو ته هغه څۀ داسې درياد وی لکه چې يوه
نښه تاسو په خپل لاس يا تندی تړلې وی، نو د دې دپاره چې
د مالِک خُدائ کلام ستاسو په ژبه وی، ځکه چې مالِک
خُدائ د خپل لوئ طاقت سره تاسو د مِصر نه راوويستلئ.
۱۰ نو تاسو هر کال دا اختر په خپل مقرر وخت کوئ.

## وړومبی پيدا شوی نران

۱۱ مالِک خُدائ به تاسو د کنعانيانو مُلک ته راولی، د کوم
چې هغۀ ستاسو پلار نيکۀ له د ورکولو پوخ لوظ کړے دے.
چې کله هغه مُلک تاسو له درکړی، ۱۲ نو تاسو خامخا هر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړومبے پیدا شوے نر مالِک خُدائ ته پېش کوئ. ستاسو هر
یو وړومبے پیدا شوے نر څاروے به د مالِک خُدائ وی،
۱۳ خو تاسو به د هغهٔ نه هر یو نر خر واپس اخلئ او د هغهٔ
په بدل کښې به یو ګډُورے پېش کوئ. خو کهٔ تاسو هغه خر
واپس اخستل نهٔ غواړئ، نو څټ یې مات کړئ. تاسو به هر
یو خپل وړومبے پیدا شوے نر بچے په بدل کښې خامخا
واپس اخلئ. ۱۴ په راتلونکی وخت کښې چې کله ستاسو
زامن تپوس کوی چې د دې رسمونو څهٔ مطلب دے، نو تاسو
به ورته وایئ چې مالِک خُدائ په خپل لوئ طاقت سره مونږ
د مِصر نه راوویستلو، چې هلته مونږ غلامان وُو. ۱۵ چې
کله د مِصر فِرعون خپل زړهٔ سخت کړو او مونږ یې تلو ته نهٔ
پرېښودلو، نو مالِک خُدائ د مِصر په مُلک کښې هر یو
وړومبے پیدا شوے نر انسان او حیوان ووژلو. نو دا ځکه
مونږ هر یو نر څاروے مالِک خُدائ ته قربانی کوُو او خپل
وړومبی پیدا شوی زامن په بدل کښې واپس اخلو. ۱۶ دا
اختر به یو یادګار وی، داسې لکه چې مونږ یوه نښه په خپل
لاس یا تندی باندې تړلې وی، دا به مونږ ته هغه څهٔ رایادوی
چې مالِک خُدائ په خپل لوئ طاقت سره مونږ د مِصر نه
راوویستلو.“

## د وریځې ستن او د اور ستن

۱۷ چې کله د مِصر فِرعون خلق تلو ته پرېښودل، نو خُدائ
پاک دوئ په هغه لار بوتهٔ تلل کومه چې د دریاب په غاړه د
فلستیانو علاقې ته تلې وه، اګر چې دا لار لنډه وه. خُدائ پاک
وفرمائیل، ”زهٔ دا نهٔ غواړم چې دا خلق پښېمانه شی او مِصر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته راواپس شي چې هغوئ ته دا پته ولګی چې په هغوئ جنګ
راروان دے.“ ۱۸ نو هغهٔ دا خلق د صحرا په کږه وږه لار د
بحرِقُلزم په طرف بوتلل. بنی اِسرائیلو د جنګ دپاره قطارونه
جوړ کړی وُو. ۱۹ موسیٰ د یوسف هډُوکی د خپل ځان سره
یوړل، لکه څنګه چې یوسف د بنی اِسرائیلو نه د دې د وړلو
پوخ لوظ اخستے وو. یوسف فرمائیلی وُو، ”خُدائ پاک به په
رښتیا سره ستاسو مدد له راشی، نو بیا تاسو خامخا زما
هډُوکی د دې ځائ نه د خپل ځان سره یوسئ.“ ۲۰ بنی
اِسرائیل د سُکات نه لاړل او د صحرا په غاړه ایتام کښې یې
خېمې ولګولې. ۲۱ د ورځې به مالِک خُدائ د ورېځې په
ستن کښې د لار ښودلو دپاره د دوئ نه مخکښې تلو او د
شپې د اور په ستن کښې مخکښې تلو چې دوئ ته رڼا وی او
چې دوئ د شپې، ورځې مزل کوی. ۲۲ د ورځې به هر
وخت د ورېځې ستن د خلقو نه مخکښې وه او د شپې به د
اور ستن د هغوئ نه مخکښې وه.

## د بحرِقُلزم نه پورې وتل

۱۴ ۱ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ۲ ”بنی
اِسرائیلو ته ووایه چې واپس راوګرځی او فی‌هخیروت ته
مخامخ، د مجدال او د دریاب په مینځ کښې بعل‌صفون ته
نزدې خېمې ولګوی. ۳ د فِرعون به دا خیال وی چې بنی
اِسرائیل په مُلک کښې سرګردانه ګرځی او په صحرا کښې
راګېر دی. ۴ زهٔ به د فِرعون زړهٔ سخت کړم او هغه به په
دوئ پسې وی، خو زهٔ به د فِرعون او د هغهٔ په ټول لښکر فتح

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وموم نو داسې به زما عزت وشى، او مِصريانو ته به پته
ولګى چې زۀ مالِک خُدائ يم.“ نو بنى اِسرائيلو فرمانبردارى
وکړه. ۵ چې کله فِرعون خبر شو چې بنى اِسرائيل
تښتېدلى دى، نو هغۀ او د هغۀ درباريانو خپلې ارادې بدلې
کړې او وې وئيل، ”مونږ دا څۀ کړى دى؟ مونږ بنى اِسرائيل
تښتېدلو ته پرېښودل، زمونږ غلامان زمونږ د لاس نه لاړل.“
۶ نو فِرعون خپلې جنګى ګاډۍ تيارې کړې او خپل لښکر
يې د ځان سره روان کړو. ۷ هغه د خپلو ټولو جنګى ګاډو
سره روان شو، شپږ سوه په کښې ښې ښې جنګى ګاډۍ وې
چې آفسران ورسره وُو. ۸ مالِک خُدائ د فِرعون زړۀ
سخت کړو او هغه په بنى اِسرائيلو پسې روان شو نو بنى
اِسرائيل زړَور روان وُو. ۹ د مِصريانو لښکر، سره د ټولو
آسونو، جنګى ګاډو او په آسونو سوارۀ کسان په دوئ پسې
وُو او هلته ور ورسېدل چرته يې د درياب سره فىهخيروت او
بعلصفون ته نزدې خېمې لګولې وې. ۱۰ چې څنګه فِرعون
ورلنډ شو، نو بنى اِسرائيلو وکتل، او وې ليدل چې مِصريان
په دوئ پسې راروان وُو. بنى اِسرائيل ډېر سخت وېرېدل او
مالِک خُدائ ته يې فرياد وکړو. ۱۱ دوئ موسىٰ ته ووئيل،
”په مِصر کښې اديرې نۀ وې څۀ چې تا دې صحرا ته د مړ
کېدو دپاره راوستلى يُو؟ ګوره، دا تا څۀ کړى دى چې مونږ
دې د مِصر نه راوويستلو. ۱۲ مونږ تا ته مخکښې په مِصر
کښې نۀ وُو وئيلى چې داسې به کيږى؟ مونږ تا ته وئيلى وُو
چې مونږ پرېږده چې د مِصريانو غلامى کوُو. چې په دې
صحرا کښې د مړۀ کېدو نه به ښۀ وى چې مونږ د مِصريانو
غلامى کولے.“ ۱۳ موسىٰ ورته په جواب کښې وفرمائيل،
”يرېږئ مه. کلک شئ،او تاسو به وګورئ چې مالِک خُدائ
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو د بچ کولو دپاره نن څۀ کوی، ځکه چې نن تاسو کوم
مِصریان وینئ هغوئ به هیڅکله هم بیا ونۀ وینئ. ۱۴ مالِک
خُدائ به ستاسو دپاره جګړه وکړی، تاسو غلی کښېنئ.“ ۱۵
مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ”تۀ ولې ما ته ژاړې؟ بنی
اِسرائیلو ته ووایه چې وړاندې لاړ شی. ۱۶ خپله امسا پورته
کړه او د دریاب دپاسه یې ونیسه. اوبۀ به په مینځ بېلې شی او
بنی اِسرائیل به د دریاب په مینځ کښې په اوچه زمکه پورې
وځی. ۱۷ زۀ به د مِصریانو زړونه دومره سخت کړم چې
هغوئ به په تاسو پسې درشی، نو په فِرعون، د هغۀ په لښکر،
جنګی ګاډو او د هغۀ په آسونو سوارو کسانو فتح موندلو په
وجه به زما عزت وشی. ۱۸ چې کله زۀ هغوئ له ماتې
ورکړم، نو مِصریانو ته به پته ولګی چې زۀ مالِک خُدائ یم.“
۱۹ د مالِک خُدائ فرښته، کومه چې د بنی اِسرائیلو د لښکر
نه مخکښې روانه وه، اوس د دوئ شاته لاړه. د وریځې ستن
هم حرکت وکړو تر دې پورې ۲۰ چې د مِصریانو او بنی
اِسرائیلو په مینځ کښې شوه. وریځې به مِصریانو ته تیارۀ
جوړوله، خو د بنی اِسرائیلو لښکر ته به یې رڼا راوستله، نو دا
لښکرې په ټوله شپه کښې یو بل ته نزدې نۀ شوې راتلې. ۲۱
نو موسیٰ د دریاب دپاسه خپل لاس اوږد کړو او مالِک
خُدائ د نمرخاتۀ په زورَوره هوا دریاب وروستو بوتلو. هوا
ټوله شپه وچلېدله او دریاب یې په اوچه زمکه بدل کړو. اوبۀ
په مینځ بېلې شوې، ۲۲ او بنی اِسرائیل په اوچه زمکه د
دریاب نه پورې وتل، د دوئ ښی او ګس طرف ته د اوبو
دیوالونه وُو. ۲۳ مِصریان ورپسې وُو او د خپلو ټولو آسونو،
جنګی ګاډو او په آسونو سوارو کسانو سره په دوئ پسې
دریاب ته ورکوز شول. ۲۴ د سحر د رڼا نه مخکښې مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ د اور او وريځې ستن نه لاندې د مِصريانو لښکر ته
وکتل او هغوئ يې د وارخطايۍ په وجه تښتېدو ته جوړ کړل.
۲۵ مالِک خُدائ د هغوئ د جنګی ګاډو پايې ونښلولې، نو
چې هغه په سختۍ سره چلېدلې. مِصريانو ووئيل، ”مالِک
خُدائ زمونږ خِلاف د بنی اِسرائيلو دپاره جګړه کوی. راځئ
چې د بنی اِسرائيلو نه وتښتُو.“ ۲۶ مالِک خُدائ موسیٰ ته
وفرمائيل، ”خپل لاس د درياب دپاسه اوږد کړه، نو اوبۀ به په
مِصريانو، د هغوئ په جنګی ګاډو او په آسونو سوارو کسانو
واپس راشی.“ ۲۷ نو موسیٰ خپل لاس د درياب دپاسه اوږد
کړو او د سحر د رڼا په وخت اوبۀ خپل صحيح ځائ له
واپس راغلې. مِصريانو د اوبو نه د تښتېدو کوشش وکړو،
خو مالِک خُدائ هغوئ د درياب مينځ ته ورګزار کړل. ۲۸
اوبۀ واپس راغلې او جنګی ګاډی، په آسونو سوارۀ کسان او
د مِصريانو ټول لښکر اوبو ډُوب کړو کوم چې د درياب
پورې په بنی اِسرائيلو پسې وُو، او يو هم پکښې بچ پاتې نۀ شو.
۲۹ خو بنی اِسرائيل په اوچه زمکه د درياب نه پورې وتل او
د دوئ ښی او ګس طرف ته د اوبو دېوالونه وُو. ۳۰ نو، په
هغه ورځ مالِک خُدائ بنی اِسرائيل د مِصريانو د زور نه بچ
کړل او بنی اِسرائيلو هغوئ وليدل چې د درياب په غاړه مړۀ
پراتۀ وُو. ۳۱ چې کله بنی اِسرائيلو د مالِک خُدائ هغه لوئ
قُدرت وليدو کوم چې هغۀ د مِصريانو خِلاف ښودلے وو، نو
دوئ د مالِک خُدائ نه وېرېدل، او په مالِک خُدائ او د هغۀ
په خِدمت کوونکی موسیٰ يې ايمان راوړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت موسیٰ حمدوثناء وئیل

# ۱۵
۱ بیا موسیٰ او بنی اِسرائیلو مالِک خُدائ ته دا
حمدوثناء ووئیله، ”زۀ به مالِک خُدائ دپاره حمدوثناءووایم،
ځکه چې هغۀ د جلال نه ډکه فتح موندلې ده، هغۀ آسونه او په
آسونو سوارۀ کسان دریاب ته غورزولی دی. ۲ مالِک
خُدائ زما طاقت دے او زما حمدوثناء د هغۀ دپاره ده، او
هغه ذات دے چې زۀ یې بچ کړے یم، هغه زما خُدائ پاک
دے او زۀ به د هغۀ ثناء وایم، هغه زما د پلار خُدائ پاک دے
او زۀ به د هغۀ لوئی بیان کړم. ۳ مالِک خُدائ د جنګیالی
په شان دے، د هغۀ نوم مالِک خُدائ دے. ۴ هغۀ دریاب
کښې د فِرعون جنګی ګاډۍ او لښکر ډُوب کړو د هغۀ ښۀ ښۀ
مشران په بحرِقُلزم کښې ډُوب شول. ۵ ژور دریاب هغوئ
ډُوب کړل، هغوئ د کاڼی په شان لاندې بیخ ته لاړل. ۶
مالِکه خُدایه، ستا په ښی لاس کښې د جلال نه ډک طاقت
شته، مالِکه خُدایه، ستا ښے لاس دشمنان ټوټې ټوټې کوی.
۷ د خپل لوئ جلال سره تا خپل دشمنان د پښو لاندې
کړل، تا د اور په شان خپل قهر ورولیږلو او هغوئ دې د
بوسو په شان وسوزول. ۸ تا دریاب پو کړو او اوبۀ اوچتې
راغونډې شوې، سېلابونه د دېوال په شان نېغ ودرېدل، او د
دریاب په بېخ کښې اوبۀ کلکې شوې. ۹ دشمن لافې وهلې،
چې زۀ به په هغوئ پسې یم او زۀ به ورورسېږم، زۀ به د
هغوئ غنیمت وویشم او خپل ځان به په دې ښۀ موړ کړم. زۀ
به خپله تُوره راوباسم او زۀ به هغوئ تباه کړم. ۱۰ خو تا
پوکے ورکړو او دریاب هغوئ ډُوب کړل، مِصریان په
زورَورو اوبو کښې د سیکې په شان ډُوب شول. ۱۱ اے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِکه خُدایه، ستا په شان نور معبودان څوک دی؟ ستا په
شان څوک دے چې ټولو نه لوئ او مقدس دے؟ ستا جلال د
یرې نه ډک دے، ځکه چې داسې عجیبه عجیبه کارونه کوې.
١٢ تا خپل ښے لاس اوږد کړو، نو زمکې زمونږ دشمنان
ژوندی تېر کړل. ١٣ تهٔ په خپله وعده ولاړ وې او تا هغه
خلقو ته لار ښودله کوم چې تا بچ کړی دی، تهٔ به په خپل
طاقت سره هغوئ، تر خپل مقدس ځائ پورې ورسوې. ١٤
قومونو واورېدل او په لړزان شول، فلستیان په دردونو آخته
شول. ١٥ د ادوم مشران ویرېدل، د موآب مشران په لړزان
آخته شول، د کنعان ټولو اوسېدونکو خپله حوصله بائیلله.
١٦ سخته یره او هیبت په هغوئ باندې پرېوتو، هغوئ ستا د
لاس طاقت ولیدو او هغوئ د تیږې په شان غلی شول، تر دې
پورې مالِکه خُدایه، چې ستا قوم تېر شولو، چې هغه خلق تېر
شول کوم چې تا بچ کول. ١٧ تهٔ به خپل خلق دننه راولې او
هغوئ به په خپل غرهٔ آبادوې، هغه ځائ اے مالِکه خُدایه،
چې تا د خپل ځان دپاره خوښ کړے دے، هغه پاک ځائ
ته، اے مالِکه خُدایه، چې تا په خپله ودان کړے دے. ١٨
مالِک خُدائ به تل تر تله بادشاهی کوی.“

## د بی‌بی مریم حمدوثناء وئیل

١٩ چې کله د فِرعون آسونه، د هغهٔ جنګی ګاډی او د هغهٔ په
آسونو سوارهٔ کسان دریاب ته ورکوز شول، مالِک خُدائ د
دریاب اوبهٔ واپس په هغوئ باندې راوستلې، خو بنی اِسرائیل
د دریاب په مینځ کښې په اوچه زمکه تېر شول. ٢٠ بیا د
هارون خور مریم، کومه چې پیغمبره وه، هغې خپل تمبل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راواخستلو، او ټولې ښځې د خپلو تمبلونو سره په ګډېدو په
هغې پسې لاړلې. ۲۱ نو مریم هغوئ ته دا حمدوثناء ووئیله،
”مالِک خُدائ ته حمدوثناء ووایئ، ځکه چې هغهٔ لویه فتح
موندلې ده، هغهٔ آسونه او په آسونو سوارهٔ کسان دریاب ته
غورزولی دی.“

## ترخې اوبهٔ

۲۲ بیا موسیٰ بنی اِسرائیلو له حُکم ورکړو چې د بحرِقُلزم نه
روان شی، نو دوئ د شور صحرا ته لاړل. دوئ په صحرا
کښې درې ورځې مزل وکړو خو اوبهٔ یې ونهٔ موندلې. ۲۳
چې کله دوئ ماره ته راغلل، نو دوئ د ماره اوبهٔ نهٔ شوې
څښلے ځکه چې د دې ځائ اوبهٔ ترخې وې. نو د دې ځائ
نوم ماره اېښودلے شوے وو. ۲۴ نو خلق موسیٰ ته
وغورېدل او ورته یې ووئیل، ”مونږ به څهٔ څښو؟“ ۲۵ موسیٰ
مالِک خُدائ ته سوال وکړو، نو مالِک خُدائ هغهٔ ته د لرګی
یوه ټُکړه وښودله، هغهٔ دا اوبو ته وغورزوله او اوبهٔ خوږې
شوې. مالِک خُدائ هلته د هغوئ دپاره حُکمونه او یو قانون
جوړ کړو او هلته یې په هغوئ آزمېښت وکړو. ۲۶ ورته یې
وفرمائیل، ”کهٔ تاسو د مالِک خُدائ، د خپل خُدائ پاک خبره
په غور سره واورئ او هغه څهٔ کوئ کوم چې د هغهٔ په نظر
کښې صحیح دی او د هغهٔ قانون ته پام کوئ او د هغهٔ ټول
حُکمونه پوره کوئ، نو زهٔ به په تاسو داسې هیڅ بیماریٔ نهٔ
راولم چې کومې ما په مِصریانو راوستلې وې، ځکه چې زهٔ
مالِک خُدائ یم او زهٔ شفا درکوونکے یم.“ ۲۷ بیا دوئ ایلیم
ته راغلل، چې هلته د اوبو دولس چینې او د کجورو اویا ونې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وې، او هلته هغوئ د اوبو په خوا خېمې ولګولې.

## من او مړزان

١٦ ١ د بنی اِسرائيلو ټول قوم د ايليم نه په سفر روان
شو او د دويمې مياشتې په پينځلسمه ورځ دوئ د صين
بيابان ته راغلل، دا د هغوئ د مِصر نه د راوتلو نه پس وُو،
کوم چې د ايليم او سينا په مينځ کښې دے. ٢ هلته په
بيابان کښې دوئ ټول د موسیٰ او هارون خِلاف وغورېدل
٣ او بنی اِسرائيلو هغوئ ته ووئيل، ”کاش چې مونږ مالِک
خُدائ د مِصر په مُلک کښې وژلی وے. هلته د غوښې لوښو
ته کښېناستے خو شُو کنه چې مونږ په مړه خېټه روټۍ
خوړلے. تاسو مونږ دلته دې بيابان ته د دې دپاره راوستلی يُو
چې دا ټول خلق د لوږې نه ووژنئ.“ ٤ مالِک خُدائ موسیٰ
ته وفرمائيل، ”ګوره، اوس به زۀ ستاسو ټولو دپاره د آسمان
نه يو خوراک د باران په شان وورووم. دا خلق دې هره ورځ
بهر ځی او د ځان دپاره دې هم هغه هومره راټولوی چې بس
يې وی. نو داسې به زۀ دوئ معلوم کړم چې زما په کلام عمل
کوی او کۀ نه. ٥ خو په شپږمه ورځ به دوئ د هغې يو په
دوه راوړی چې څومره هره ورځ راټولوی او پخوی يې.“ ٦
نو موسیٰ او هارون ټولو بنی اِسرائيلو ته وفرمائيل، ”تاسو ته
به نن ماښام پته ولګی چې هغه مالِک خُدائ وو چا چې د
مِصر نه راوويستلئ. ٧ په سحر کښې به تاسو د مالِک
خُدائ جلال ووينئ. مالِک خُدائ د خپل ځان خِلاف ستاسو
غورېدل اورېدلی دی. مونږ هيڅ نۀ يُو چې تاسو زمونږ خِلاف
غورېږئ.“ ٨ بيا موسیٰ وفرمائيل، ”هغه به مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی چې په ماښام کښې تاسو له د خوړلو دپاره غوښه درکړی
او په سحر کښې په مړه خېټه روټۍ درکړی، ځکه چې مالِک
خُدائ د خپل ځان خِلاف ستاسو غورېدل اورېدلی دی. مونږ
هیڅ هم نهٔ یُو چې تاسو زمونږ خِلاف غورېږئ، دا په حقیقت
کښې تاسو د مالِک خُدائ خِلاف غورېږئ." ۹ موسیٰ
هارون ته وفرمائیل، "د بنی اِسرائیلو ټول قوم ته ووایه چې
راشی او د مالِک خُدائ په حضور کښې ودرېږی، ځکه چې
مالِک خُدائ د دوئ غورېدل اورېدلی دی." ۱۰ چې هارون
څنګه د بنی اِسرائیلو ټول قوم ته دا خبره وکړه او چې هغوئ
بیابان ته وکتل، ناڅاپی د مالِک خُدائ جلال په ورېځو کښې
راښکاره شو. ۱۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ۱۲ "ما
د بنی اِسرائیلو غورېدل اورېدلی دی. هغوئ ته ووایه چې په
ماښام کښې به هغوئ ته د خوړلو دپاره غوښه مِلاو شی او
سحر کښې به په روټۍ ماړهٔ شی. نو هغوئ ته به پته ولګی چې
زهٔ مالِک خُدائ، د هغوئ خُدائ پاک یم." ۱۳ په ماښام
کښې د مړزانو یو لوئ سېل راغلو او چرته چې خېمې وې
هلته کښېناستو او په سحر کښې د خېمو ګېرچاپېره پرخه
ورېدلې وه. ۱۴ چې کله پرخه اوچه شوه، نو د بیابان مخ په
وړو وړو سپینو څیزونو باندې پټ شولو. ۱۵ چې کله بنی
اِسرائیلو دا ولیدل، نو هغوئ نهٔ پېژندل چې دا څهٔ شے دے
او د یو بل نه یې تپوسونه کول، "دا څهٔ دی؟" موسیٰ دوئ ته
وفرمائیل، "دا هغه روټۍ ده چې مالِک خُدائ تاسو له د
خوړلو دپاره درکړې ده. ۱۶ مالِک خُدائ حُکم کړے دے
چې ستاسو هر یو کس به دومره راټولوی چې څومره
خوړلے شی، تقریباً دوه کلو د خپل خاندان د هر یو کس
دپاره." ۱۷ بنی اِسرائیلو هم دغه شان وکړل، چا ډېره او چا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لږه راټوله کړه. ۱۸ چې کله دوئ اندازه واخستله، چا چې
ډېره راټوله کړې وه د هغۀ سره ډېره زياته نۀ وه او چا چې
لږه راټوله کړې وه د هغۀ سره کمه نۀ وه. هر يو کس د خپل
ضرورت په مطابق راټوله کړې وه. ۱۹ موسیٰ دوئ ته
وفرمائيل، ”تر سحره پورې به هيڅ څوک هم په دې کښې څۀ
نۀ پرېږدی.“ ۲۰ خو بعضې کسانو د موسیٰ خبره وانۀ
وريدله او لږه يې ترې نه پرېښوده. او بل سحر په کښې
چينجی شوی وُو او سخا بوئ ترې نه تلو، نو موسیٰ دوئ ته
په قهر شو. ۲۱ هر سحر هر يو کس به د خپل ضرورت په
مطابق راټولوله، او چې نمر به ګرم شو، نو څۀ هم چې په
زمکه پاتې وُو نو هغه به ويلی شول. ۲۲ په شپږمه ورځ دوئ
يو په دوه روټۍ راټوله کړه، څلور کلو د هر يو کس دپاره. د
قوم ټول مشران راغلل او موسیٰ ته يې د دې په حقله ووئيل،
۲۳ نو هغۀ دوئ ته وفرمائيل، ”مالِک خُدائ حُکم کړے دے
چې سبا د سبت مقدسه د آرام ورځ ده کومه چې مالِک
خُدائ ته وقف ده، چې تاسو څۀ پخول غواړئ هغه نن پاخۀ
کړئ او چې څۀ يشول غواړئ نو وې يشوئ. چې څۀ پاتې
شی نو هغه د سبا دپاره پرېږدئ.“ ۲۴ چې څنګه موسیٰ حُکم
کړے وو، چې څۀ پاتې وه نو هغه يې د بلې ورځې پورې
پرېښودله، او دا سخا نۀ شوه او نۀ په کښې چينجی وشول.
۲۵ موسیٰ وفرمائيل، ”دا نن وخورئ، ځکه چې نن د سبت
يعنې د آرام ورځ ده، دا ورځ مالِک خُدائ ته وقف شوې ده او
تاسو به بهر په زمکه هيڅ هم ونۀ مومئ. ۲۶ تاسو به شپږ
ورځې خوراک راټولوئ، خو اوومه ورځ د سبت ورځ ده،
هيڅ خوراک به په کښې نۀ وی چې تاسو يې راټول کړئ.“
۲۷ په اوومه ورځ څۀ خلق د خوراک راټولولو دپاره بهر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاړل، خو هغوئ هيڅ هم ونهٔ موندل. ۲۸ نو مالِک خُدائ
موسیٰ ته وفرمائيل، ”تر کومې پورې به تاسو زما حُکمونه او
شريعت ماتوئ؟ ۲۹ ياد ساتئ چې ما مالِک خُدائ، تاسو له
د سبت ورځ درکړې ده، نو په شپږمه ورځ به زهٔ د همېشه
دپاره تاسو له د دوو ورځو خوراک هم درکوم. په اوومه ورځ
هر يو کس چې چرته هم وی هلته به ايسارېږی او د خپل کور
نه به بهر نهٔ وځی.“ ۳۰ نو هغوئ په اوومه ورځ آرام وکړو.
۳۱ د بنی اِسرائيلو قوم په دې خوراک من نوم کېښودو. دا د
دنيا د تخم په شان واړهٔ وُو او رنګ يې سپين وو او خوند يې
داسې وو لکه روټئ چې په شاتو کښې پخه شوې وی. ۳۲
موسیٰ وفرمائيل، ”مالِک خُدائ حُکم کړے دے چې تاسو
څهٔ من د خپلو نسلونو دپاره وساتئ، نو هغوئ به دا روټئ
وګوری کومه چې هغهٔ مونږ له په بيابان کښې د خوړلو دپاره
راکړې ده کله چې هغهٔ مونږ د مِصر مُلک نه راوويستلو.“
۳۳ موسیٰ هارون ته وفرمائيل، ”يو لوښے واخله او د دوه
کلو برابر من په کښې واچوه او د مالِک خُدائ په حضور
کښې يې کېږده چې زمونږ د راتلونکو نسلونو دپاره وساتلے
شی.“ ۳۴ چې څنګه مالِک خُدائ موسیٰ له حُکم ورکړے
وو، هارون هغه د لوظ صندوق کښې د کاڼی تختو ته مخامخ
کېښودو، چې بچ وساتلے شی. ۳۵ بنی اِسرائيلو څلوېښت
کاله من خوړل، تر دې پورې چې هغوئ د کنعان مُلک ته
ورسېدل او هلته دېره شول. ۳۶ (په هغه ورځو کښې به اومر
او ايفه د څيزونو تَللو دپاره استعمالېدل لکه څنګه چې نن
سبا کلو يا من استعمالېږی، يو اومر د ايفه لسمه حِصه ده
لکه څنګه چې کلو د من څلوېښتمه يا پنځوسمه حِصه ده.)

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ګټې نه اوبهٔ راوتل

۱۷ ۱ د بنی اِسرائیلو ټول قوم د صین بیابان نه په سفر
روان شولو او د مالِک خُدائ په حُکم یې د یو ځائ نه بل
ځائ ته کډه وړله. دوئ په رفیدیم کښې خیمې ولګولې، خو
هلته د دې خلقو دپاره د څښلو اوبهٔ نهٔ وې. ۲ نو په دې
وجه خلق د موسیٰ سره په جګړه شول او وې وئیل، ”مونږ له
د څښلو اوبهٔ راکړه.“ موسیٰ دوئ ته وفرمائیل، ”تاسو ولې ما
سره په جګړه یئ؟ تاسو ولې مالِک خُدائ په آزمېښت کښې
اچوئ؟“ ۳ خو خلق ډېر تږی وُو او موسیٰ ته وغورېدل.
دوئ ووئیل، ”تا مونږ ولې د مِصر نه راوویستلو؟ د دې دپاره
چې مونږ، زمونږ بچی او زمونږ څاروی د تندې نه ووژنې؟“
۴ نو موسیٰ مالِک خُدائ ته مِنت زاری وکړه او وې
فرمائیل، ”زهٔ دې خلقو سره څهٔ وکړم؟ دوئ خو زما
سنګسارولو ته تیار دی.“ ۵ مالِک خُدائ موسیٰ ته
وفرمائیل، ”د ځان سره د بنی اِسرائیلو یو څو مشران روان
کړه او د خلقو په وړاندې ځه. د ځان سره هغه امسا هم
یوسه په کومه چې تا د نیل دریاب وهلے وو. ۶ او ګوره،
زهٔ به په سینا کښې په یو ګټ باندې ستا په وړاندې ولاړ یم. تهٔ
هغه ګټ په امسا ووهه او د هغه ګټ نه به د خلقو دپاره د
څښلو اوبهٔ راوځی.“ نو موسیٰ د بنی اِسرائیلو د مشرانو په
مخکښې هم دغه شان وکړل. ۷ نو هغهٔ په دغه ځائ مسه
(یعنې آزمېښت) او مریبه (یعنې جګړه) نوم کېښودو، ځکه
چې بنی اِسرائیل په جګړه شول او مالِک خُدائ یې په
آزمېښت کښې واچولو چې وې وئیل، ”مالِک خُدائ زمونږ
مل دے کهٔ نهٔ دے؟“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عمالیقیانو سره جنګ کېدل

٨ بیا عمالیقیان راغلل او په رفیدیم کښې یې په بنی
اِسرائیلو باندې حمله وکړه. ٩ موسیٰ یشوَع ته وفرمائیل،
”یو څو سړی خوښ کړه او لاړ شه، سبا د عمالیقیانو سره
جنګ وکړه. زۀ به د غرۀ په سر ودرېږم او د خُدائ پاک
طاقت لرونکې امسا به زما په لاس کښې وی.“ ١٠ یشوَع هم
هغه شان وکړل چې څنګه ورته موسیٰ فرمائیلی وُو او
عمالیقیانو سره یې جنګ وکړو او موسیٰ، هارون او حُور د
غرۀ سر ته لاړل. ١١ تر کومې پورې چې موسیٰ لاسونه پورته
نیولی وُو، اِسرائیلیان په ګټه کښې وُو، خو چې کله هغۀ
لاسونه لاندې کړل، نو عمالیقیان په ګټه کښې شول. ١٢ چې
کله د موسیٰ لاسونه ستړی شول، نو هارون او حُور ورله د
کښېناستو دپاره یو کاڼے راوړو او هغوئ د هغۀ یو څنګ او
بل څنګ ته ولاړ وُو او د هغۀ لاسونه یې پورته نیولی وُو او د
نمرپرېواتو پورې د هغۀ لاسونه نېغ وُو. ١٣ نو داسې یشوَع
عمالیقیانو له پوره شکست ورکړو. ١٤ بیا مالِک خُدائ
موسیٰ ته وفرمائیل، ”دا فتح د یاد ساتلو دپاره د ځان سره
ولیکه. یشوَع ته دا واوروه چې زۀ به عمالیقیان مکمل تباه
کړم.“ ١٥ موسیٰ یوه قربانګاه جوړه کړه او په هغې یې
”مالِک خُدائ زما د فتحې جنډا ده“ نوم کېښودو. ١٦ نو
ځکه هغۀ وفرمائیل، ”د مالِک خُدائ جنډا اوچته ونیسئ.
مالِک خُدائ به د همېشه دپاره د عمالیقیانو خِلاف جنګ
جاری ساتی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یترو حضرت موسیٰ سره مِلاوېدل

۱۸ ۱ د موسیٰ سخر یترو، ځوک چې د میدیان اِمام
وو، هغهٔ د هغه هر څهٔ په حقله واورېدل چې خُدائ پاک د
موسیٰ او د خپلو خلقو بنی اِسرائیلو دپاره کړی وُو او چې
مالِک خُدائ هغوئ څنګه د مِصر نه راویستلی وُو. ۲ نو
یترو موسیٰ له راغلو، د موسیٰ ښځه صفوره يې هم د ځان
سره راوستله، کومه چې موسیٰ د خپلې سخرانې کره پرېښې
وه، ۳ او ورسره د هغې دوه زامن جیرسوم او اِلیعزر هم
وُو. موسیٰ فرمائیلی وُو، ”زهٔ په پردی مُلک کښې مسافر یم.“
نو ځکه هغهٔ په یو زوئ جیرسوم نوم کېښودو. ۴ هغهٔ دا هم
فرمائیلی وُو، ”زما د پلار خُدائ پاک زما مل وو او زهٔ يې د
مِصر د فِرعون نه بچ کړم چې هغهٔ زهٔ وژلم.“ نو ځکه هغهٔ په
بل زوئ اِلیعزر نوم کېښودو. ۵ یترو د موسیٰ د ښځې او
د هغې د دوو زامنو سره بیابان ته راغلو چرته چې موسیٰ د
خُدائ پاک غرهٔ ته نزدې اوسېدو. ۶ هغهٔ موسیٰ له خبر
ورولېږلو چې، ”زهٔ ستا د ښځې او د دوو زامنو سره درروان
یم،“ ۷ نو موسیٰ هغهٔ سره مِلاوېدو دپاره بهر لاړو، د هغهٔ
په مخکښې د عزت نه ټیټ شو او ښُکل يې کړو. هغوئ د یو
بل د خېر خېریت پوښتنه وکړه او بیا د موسیٰ خېمې ته دننه
راغلل. ۸ موسیٰ یترو ته هغه هر څهٔ وفرمائیل کوم چې
مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو په خاطر په فِرعون او د مِصر په
خلقو کړی وُو. هغهٔ ته يې د هغه تکلیفونو په حقله هم
وفرمائیل کوم چې په لاره کښې دوئ ته پېښ شوی وُو او دا
هم چې مالِک خُدائ دوئ څنګه بچ کړی وُو. ۹ چې کله
یترو دا هر څهٔ واورېدل، نو هغه ډېر خوشحاله شو ۱۰ او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وېي وئيل، ”د مالِک خُدائ ثناء دې وى، چې هغۀ تاسو د
فِرعون او د مِصر د خلقو نه بچ کړئ. د مالِک خُدائ ثناء دې
وى، چې هغۀ خپل خلق د غلامۍ نه بچ کړل. ۱۱ اوس ما ته
پته ولګېده چې مالِک خُدائ د نورو ټولو معبودانو نه لوئ
دے، ځکه چې هغۀ خپل خلق د مِصريانو نه بچ کړل کله چې
مِصريانو دوئ ته سپک کتل.“ ۱۲ بيا يترو يوه پوره
سوزېدونکې قربانى پېش کړه او ورسره يې نورې قربانۍ هم
راوړلې چې د خُدائ پاک په حضور کښې يې پېش کړى،
هارون او د بنى اِسرائيلو نور ټول مشران د يترو سره د خُدائ
پاک حضور ته لاړل، چې د عبادت په شکل کښې د قربانۍ
دغه روټۍ وخورى.

## د قاضيانو مقرر کېدل

۱۳ په بله ورځ موسىٰ د خلقو لانجې فيصله کولو ته
کښېناستو او د سحر نه تر ماښامه پورې خلق ترې نه راتاو
وُو. ۱۴ چې کله يترو هغه هر څۀ وليدل کوم چې موسىٰ
کول، نو هغۀ ترې تپوس وکړو، ”دا څۀ دى چې تۀ يې د خلقو
دپاره کوې؟ تۀ دا کار يواځې ولې کوې، چې د سحر نه تر
ماښامه پورې خلق د مشورې دپاره درنه راتاو وى؟“ ۱۵
موسىٰ خپل سخر ته وفرمائيل، ”زۀ به خامخا داسې کوم ځکه
چې خلق د خُدائ پاک رضا معلومولو دپاره ما له راځى. ۱۶
چې کله د دوو کسانو په مېنځ کښې لانجه وى، نو هغوئ ما له
راشى او زۀ بيا دا ګورم چې کوم يو په حقه دے او کوم په
ناحقه دے او زۀ دوئ ته د خُدائ پاک حُکمونه او شريعت
ښايم.“ ۱۷ يترو ورته ووئيل، ”تۀ دا کار په صحيح طريقه نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوي. ۱۸ تهٔ او دا خلق به ځانونه ستړی کړئ. دا کار ستا
دپاره ډېر مشکل دے، تهٔ دا کار يواځې نهٔ شې کولے. ۱۹
زما خبره واوره زهٔ به تا له يوه ښهٔ مشوره درکړم او خُدائ
پاک به ستا مل وی. ستا دپاره به دا ښهٔ وی چې تهٔ د خلقو
لانجې راوړې او د خُدائ پاک په حضور کښې يې پېش کوې.
۲۰ تهٔ به دوئ ته د خُدائ پاک حُکمونه او شريعت ښائې او
تهٔ به دوئ ته د ژوند د تېرولو طريقه او هغه څهٔ ښائې چې
دوئ به يې کوی. ۲۱ د دې نه علاوه، تهٔ يو څو قابل کسان
هم خوښ کړه او هغوئ په لسو، پنځوسو، سوونو او زرګونو
کسانو باندې مشران مقرر کړه. هغوئ دې داسې سړی وی
چې د خُدائ پاک نه يرېږی، چې اعتباری وی او رشوت
خوارهٔ نهٔ وی. ۲۲ هغوئ دې همېشه د قاضيانو په شان د
خلقو خِدمت کوی. هغوئ به ټولې سختې لانجې تا له راوړی،
خو وړې لانجې به هغوئ په خپله فېصله کوی، نو ستا دپاره
به آسانی جوړه شی او بوج به درنه کم شی. ۲۳ کهٔ تهٔ هم
هغه شان کوې چې څنګه خُدائ پاک حُکم درکړے دے، نو
تهٔ به دومره زيات ستړے کېږې هم نه او ټول خلق به په خېر
سره خپل خپل کور ته ځی.“ ۲۴ موسیٰ د يترو مشوره ومنله
۲۵ نو هغهٔ د ټولو بنی اِسرائيلو نه قابل خلق خوښ کړل. او
هغوئ يې په لسو، پنځوسو، سوونو او زرګونو کسانو مشران
مقرر کړل. ۲۶ هغوئ به په پخه توګه د قاضيانو په شان د
خلقو خِدمت کولو، هغوئ به ټولې سختې لانجې موسیٰ له
راوړې خو وړې لانجې به هغوئ په خپله فېصله کولې. ۲۷
بيا موسیٰ يترو رُخصت کړو او يترو خپل مُلک ته واپس
لاړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنی اِسرائیلو سینا غرهٔ ته رسېدل

۱-۲ بنی اِسرائیل د رفیدیم نه روان شول او چې کله دوئ
د مِصر نه راوتلی وُو، د هغې نه پس د درېمې میاشتې په اوله
ورځ د سینا بیابان ته راغلل. دوئ هلته د سینا د غرهٔ په لمن
کښې خېمې ولګولې، ۳ او موسیٰ خُدائ پاک له غرهٔ ته
وروختلو. مالِک خُدائ د غرهٔ نه هغهٔ ته آواز وکړو او ورته یې
وفرمائیل چې، ”بنی اِسرائیلو یعنې د یعقوب اولاد ته داسې
ووایه. ۴ ”تاسو په خپله هغه څهٔ ولیدل چې ما د مِصریانو
سره وکړل او تاسو مې داسې بوتلئ لکه چې باز خپل بچی په
وزرو کښې اوړی او دلته مې خپل ځان له راوستلئ. ۵
اوس، کهٔ تاسو زما فرمانبرداری وکړئ او زما په لوظ باندې
ټینګ ودرېږئ، نو بیا به تاسو په ټولو خلقو کښې زما خپل
خاص خلق یئ، هسې خو ټوله زمکه زما ده. ۶ تاسو به
زما دپاره مقدسه ډله یئ او د اِمامانو په توګه به زما خِدمت
کوئ.“ موسیٰ، تهٔ به دا خبره بنی اِسرائیلو ته ورسوې.“ ۷
نو موسیٰ کوز شو او د قوم مشران یې راغونډ کړل او کوم
حُکم چې مالِک خُدائ هغهٔ ته کړے وو هغه ټولې خبرې یې
هغوئ ته بیان کړې. ۸ نو ټولو خلقو په یوه خولهٔ جواب
ورکړو، ”مالِک خُدائ چې څهٔ هم فرمائیلی دی مونږ به هم
هغه شان کوُو.“ بیا موسیٰ واپس د هغوئ جواب مالِک
خُدائ ته ورسولو. ۹ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ”زهٔ
به په تکه توره وریځ کښې تا له راشم، چې کومې خبرې زهٔ تا
سره کوم نو خلق به زما خبرې واوری نو داسې به هغوئ د
همېشه دپاره په تا یقین کوی.“ چې خلقو کوم جواب ورکړے
وو نو موسیٰ هغه مالِک خُدائ ته ووئیلو، ۱۰ او مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”خلقو له ورشه او هغوئ ته ووايه
چې هغوئ دې نن او سبا خپل ځانونه د عبادت دپاره پاک
کړی. هغوئ دې خامخا خپلې جامې ووينځی ۱۱ او په
دريمه ورځ دې تيار اوسيږی. په هغه ورځ به زهٔ د ټولو خلقو
په موجودګئ کښې د سينا غرهٔ ته راکوز شم. ۱۲ د غرهٔ نه
ګېرچاپېره حدونه مقرر کړه چې خلق به ترې نه نهٔ راوړی او
هغوئ ته ووايه چې نهٔ غرهٔ ته راوخېژی او نهٔ يې لمنې ته
ورنزدې شی. خو کهٔ څوک غرهٔ ته ورشی، نو هغه به خامخا
ووژلے شی، ۱۳ هيڅ څوک به هم نهٔ ورځی، خو کهٔ څوک
ورشی نو هغه به سنګسارولے شی يا به په غشو ويشتلے
شی. هغه کهٔ انسان وی يا حېوان وی خامخا به وژلے شی.
خو چې کله بيګل په اوږد آواز وغږولے شی، نو بيا به خلق
غرهٔ ته راوخېژی.“ ۱۴ بيا موسیٰ د غرهٔ نه راکوز شو او
خلقو ته يې وفرمائيل چې د عبادت دپاره خپل ځانونه پاک
کړئ. نو هغوئ خپلې جامې ووينځلې، ۱۵ او موسیٰ هغوئ
ته وفرمائيل، ”د دريمې ورځې دپاره ځانونه تيار کړئ او په
دې دوران کښې د ښځو سره مهٔ خملئ.“ ۱۶ د دريمې
ورځې په سحر تندرونه او برېښناګانې شوې، په غرهٔ باندې
تکه توره وريځ راښکاره شوه او د بيګل اوچت آواز
واورېدلے شو. او د خيمو په ځائ کښې چې څومره خلق وُو
هغوئ ټول د يرې نه په لړزان شول. ۱۷ موسیٰ هغه خلق د
خيمو د ځائ نه د خُدائ پاک حضور ته بوتلل او هغوئ د
غرهٔ په لمن کښې ودرېدل. ۱۸ د سينا ټول غر د وريځ په
شان په لوګی کښې پټ وو، ځکه چې مالِک خُدائ په دې
باندې په اور کښې راکوز شوے وو. دا لوګے د بټۍ د لوګی
په شان بره ختلو او ټول غر سخت ولړزېدلو. ۱۹ د بيګل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آواز نور هم اوږدېدلو او زياتېدلو. موسىٰ خبرې کولې او
خُدائ پاک هغۀ له د تندر د آواز په شان جواب ورکولو. ۲۰
مالِک خُدائ د سينا د غرۀ سر ته راکوز شو او موسىٰ يې د
غرۀ سر ته راوغوښتلو. نو موسىٰ وروختلو ۲۱ او مالِک
خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، "ښکته لاړ شه او خلقو له
خبردارے ورکړه چې زما کتلو دپاره د حدونو نه راوا نۀ
وړى، خو کۀ چرې راوختل، نو ډېر کسان به د هغوئ نه مړۀ
شى. ۲۲ کۀ اِمامان هم ما ته نزدې راځى نو هغوئ دې هم
ځان پاک کړى، ګني زۀ مالِک خُدائ به هغوئ له سزا
ورکړم." ۲۳ موسىٰ مالِک خُدائ ته وفرمائيل، "خلق د سينا
غرۀ ته نۀ شى راختلے، ځکه چې تا مونږ له خبردارے
راکړے دے چې د دې نه ګېرچاپېره حدونه مقرر کړُو او غر
مقدس وګڼو." ۲۴ مالِک خُدائ هغۀ ته وفرمائيل، "ښکته لاړ
شه او هارون هم د ځان سره راوخېژوه. خو چې اِمامان او
خلق ما ته د راتلو دپاره د حدونو نه راوا نۀ وړى، ګني زۀ،
مالِک خُدائ به هغوئ له سزا ورکړم." ۲۵ نو بيا موسىٰ
خلقو له ورکوز شو او چې مالِک خُدائ څۀ فرمائيلى وُو هغه
يې ورته وفرمائيل.

## د شريعت لس حُکمونه

۲۰ ۱ بيا خُدائ پاک کلام وکړو او هغه ټولې خبرې دا
دى، ۲ "زۀ مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ پاک يم چا چې
تاسو د مِصر د مُلک نه راوويستلئ، کوم چې د غلامۍ مُلک
وو. ۳ زما نه غير د نورو معبودانو عبادت مۀ کوئ. ۴ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو ځانونو دپاره بُتان مۀ جوړَوئ، د داسې يو څيز په شکل
هم نه چې هغه پاس په آسمان کښې وى يا په زمکه وى يا کۀ
هغه د زمکې لاندې په اوبو کښې وى. ۵ يو بُت ته هم چې
سجده ونۀ لګوئ او نۀ يې عبادت وکړئ، ځکه چې زۀ مالِک
خُدائ، ستاسو خُدائ پاک يو غېرتى خُدائ يم. زۀ هغه خلقو
او د هغو اولادونو له د درېم او څلورم نسل پورې سزا ورکوم
څوک چې زما نه کرکه کوى. ۶ خو زۀ د هغه خلقو
زرګونو نسلونو ته خپله نۀ بدلېدونکې مينه ښايم څوک چې
زما سره مينه لرى او زما حُکمونه منى. ۷ زما نوم د غلطو
مقصدونو دپاره مۀ استعمالوئ، ځکه چې زۀ، مالِک خُدائ،
ستاسو خُدائ پاک به هغه چا له سزا ورکوم څوک چې زما
نوم بې‌فائدې اخلى. ۸ د سبت ورځ ياده لرئ او دا مقدسه
ګڼئ. ۹ په شپږو ورځو کښې تاسو خپل کار روزګار کوئ،
۱۰ خو اوومه ورځ د آرام ورځ ده چې ما ته وقف ده. په هغه
ورځ به هيڅ څوک کار روزګار نۀ کوى، نۀ تاسو، نۀ ستاسو
بچى، نۀ ستاسو غلامان، نۀ ستاسو څاروى او نۀ هغه مسافر
کوم چې تاسو سره اوسيږى. ۱۱ په شپږو ورځو کښې ما
يعنې مالِک خُدائ زمکه، آسمان، سمندر او په دې کښې چې
هر څۀ هم دى جوړ کړل، خو په اوومه ورځ يې څۀ ونۀ کړل.
نو دا ځکه ما مالِک خُدائ د سبت ورځې له برکت ورکړو او
مقدسه مې کړه. ۱۲ د خپل مور او پلار عزت کوئ، نو تاسو
به په هغه مُلک کښې يو اوږد عمر تېر کړئ کوم چې زۀ
درکوم. ۱۳ قتل مۀ کوئ. ۱۴ زنا مۀ کوئ. ۱۵ غلا مۀ
کوئ. ۱۶ د چا خِلاف د دروغو ګواهى مۀ ورکوئ. ۱۷ د
خپل ګاونډى د کور خواهش مۀ کوئ، د هغۀ د ښځې، د هغۀ
د نوکرانو، د هغۀ د څاروو، خرونو او د هغه يو شى لالچ هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مهٔ کوئ کوم چې ستاسو د ګاونډی وی.“

## د خلقو وېره

١٨ چې کله خلقو د تندرونو او د بيګل آواز واورېدو او
برېښناګانې او د غرهٔ لوګی يې وليدل، هغوئ د يرې نه
ولړزېدل او لرې ودرېدل. ١٩ هغوئ موسیٰ ته ووئيل، ”کهٔ تهٔ
زمونږ سره خبرې کوې نو مونږ به ورته غوږ ونيسو، خو کهٔ
خُدائ پاک زمونږ سره خبرې وکړی نو مونږ يرېږو چې مړهٔ
به شو.“ ٢٠ موسیٰ ورته وفرمائيل، ”يرېږئ مه، خُدائ پاک
خو صِرف دې له راغلے دے چې تاسو وآزمائی او خپله يره
ستاسو په زړونو کښې واچوی چې تاسو ګناه نهٔ کوئ.“ ٢١
خو خلق هم هغه شان لرې ولاړ وُو او صِرف موسیٰ هغه تکې
تورې تيارې له نزدې ورَغلو چرته چې خُدائ پاک وو.

## د قربانګاه په حقله قانون

٢٢ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم وکړو چې، ”بنی اِسرائيلو
ته ووائی، تاسو وليدل چې ما مالِک خُدائ ستاسو سره د
آسمان نه څنګه خبرې کړې دی. ٢٣ د خپلو ځانونو دپاره د
سپينو زرو يا د سرو زرو بُتان مهٔ جوړَوئ چې زما په ځائ د
هغوئ عبادت وکړئ. ٢٤ زما دپاره د خاورې نه يوه
قربانګاه جوړه کړئ او په دې باندې خپل ګډان، چېلی او
غويَان د پوره سوزېدونکې قربانو او د سلامتیٔ د قربانو په
توګه حلالوئ. د خپل عبادت دپاره کوم ځائ چې زهٔ درته
وښايم نو هغه ځائ ته به زهٔ تاسو له درځم او برکت به
درکوم. ٢٥ کهٔ تاسو زما دپاره د کاڼو نه يوه قربانګاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړَوئ، نو هغه د تراشلے شوی کاڼو نه مۀ جوړَوئ، ځکه
چې کله تاسو په هغه کاڼو آوزار لګوئ، نو هغه به ناپاکه کړئ.
۲۶ زما دپاره داسې قربانګاه مۀ جوړَوئ چې تاسو بره په
پوړو ورخېژئ، ګنې ستاسو د سَتر اندامونه به برېنډ شی.“

## د نوکرانو سره سلوک

۲۱ ۱ ”د بنی اِسرائیلو دپاره دا قانون مقرر کړه چې،
۲ کۀ تاسو یو عبرانے غلام واخلئ، هغه به شپږ کاله
ستاسو خِدمت کوی. او په اوؤم کال به بغېر د څۀ څیز
درکولو نه آزاد شی. ۳ چې کله هغه د وادۀ نه مخکښې
ستاسو غلام شوے وی، نو د آزادېدو په وخت به د ځان سره
ښځه نۀ بوځی، خو چې کله هغه ستاسو غلام کېدلو او وادۀ
یې کړے وو، نو هغه خپله ښځه د ځان سره بوتلے شی. ۴
کۀ مالِک ورله وادۀ وکړی او د هغۀ زامن یا لونړه پېدا شی، نو
هغه ښځه او د هغۀ بچی به د مالِک وی او هغه سړے چې
آزاد کړے شی نو هغه یواځې تلے شی. ۵ خو کۀ غلام
صفا ووائی چې زۀ د خپل مالِک سره، خپلې ښځې او خپلو
بچو سره مینه لرم او آزادېدل نۀ غواړم، ۶ نو خپل مالِک
به هغه د قاضیانو ځائ ته بوځی. هلته به یې د دروازې یا
چوکاټ په مخکښې ودروی او په ستن دې د هغۀ په غوږ
کښې سورے وکړی. نو ټول عُمر به یې غلام وی. ۷ کۀ یو
سړے خپله لور د وینځې په توګه خرڅه کړی، نو هغه به د
نرانو نوکرانو په شان نۀ شی آزادولے. ۸ کۀ هغه په یو
داسې کس خرڅه کړے شی چې هغه یې د ښځې کولو اراده
لری، خو د هغۀ دا خوښه نۀ وی، نو خپل پلار به دا واپس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخلی، د هغې مالِک دا په پردو خلقو نۀ شی خرڅولے، ځکه
چې هغۀ د دې سره ټګی کړې ده. ﴿٩﴾ کۀ یو سړے د خپل
زوئ دپاره وینځه واخلی، نو هغه به د هغې سره د لور په شان
سلوک کوی. ﴿١٠﴾ کۀ یو سړے دویمه ښځه وکړی، نو هغه به
خامخا د خپلې وړومبۍ ښځې د مخکښې په شان د هغې د
خوراک، جامو او د وادۀ د حقُونو خیال ساتی. ﴿١١﴾ کۀ هغه
ورسره دا درې ذمه وارۍ نۀ پوره کوی، نو هغه به يې خامخا
بغېر د څۀ قیمت نه آزاده کړی.

## د بدو عملونو په حقله قانون

﴿١٢﴾ چې څوک یو کس ووهی او هغه وهلے شوے کس مړ
شی نو هغه وهونکے به خامخا وژلے شی. ﴿١٣﴾ خو کۀ دا د
خُدائ پاک نه راپېښه شوې وی او هغۀ دا قصداً نۀ وی
وژلے، نو هغه به د پناه دپاره یو داسې ځائ ته وتښتی چې
کوم درته زۀ ښایم او هلته به په پناه کښې وی. ﴿١۴﴾ خو کۀ یو
کس غصه شی او قصداً بل څوک قتل کړی، نو هغه به
خامخا وژلے شی، تر دې پورې کۀ هغه زما قربانګاه ته هم
د پناه دپاره تښتېدلے وی. ﴿١٥﴾ چې څوک هم خپل پلار یا
خپله مور ووهی نو هغه به خامخا وژلے شی. ﴿١٦﴾ کۀ څوک
یو کس اغوا کړی او بیا يې خرڅ کړی یا يې د ځان سره
وساتی، نو هغه اغواکار به خامخا وژلے شی. ﴿١٧﴾ هر څوک
چې خپل مور پلار ته بدرد وائی هغه دې قتل کړے شی. ﴿١٨﴾-
﴿١٩﴾ کۀ په جګړه کښې یو کس بل کس په کاڼی یا په سوک
ووهی او مړ نۀ شی، نو وهونکی له دې سزا نۀ شی ورکولے.
چې کوم وهلے شوے وی او د کټ نه د پاڅېدو نۀ وی، خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وروستو بیا هغه د پاځېدو او د امسا په مدد سره د بهر
ګرځېدو جوګه شی، نو چا چې وهلے وی نو هغه به ورله د
بې‌روزګاره پاتې کېدلو مزدوری ورکوی او تر هغه پورې به د
هغهٔ خیال ساتی چې پوره روغ شوے نهٔ وی. ۲۰ کهٔ یو کس
خپله وینځه یا خپل غلام په کوتک ووهی او هغه هم په هغه
ځائ مړ شی، نو مالِک له به یې خامخا سزا ورکولے شی.
۲۱ خو کهٔ وهلے شوے کس یوه یا دوه ورځې ژوندے وی،
نو مالِک له به یې سزا نهٔ شی ورکولے، ځکه چې هغه یې
خپل تاوان وو نو دا سزا یې بس ده. ۲۲ کهٔ څهٔ کسان په
جګړه وی او یوه اُمیدواره ښځه ووهی او چې د هغې اولاد
وغورزیږی، خو بل ځائ یې زخمی نهٔ وی، نو چا چې هغه
وهلی وی هغه به دومره جرمانه کیږی چې څومره جرمانه د
هغې ښځې خاوند غواړی او چې قاضیان ووائی چې دا
جرمانه صحیح ده. ۲۳ خو کهٔ هغه ښځه په خپله هم زخمی
وی، نو سزا به د ژوند په بدل کښې ژوند وی، ۲۴ د سترګې
په بدل کښې سترګه، او د غاښ په بدل کښې غاښ، د لاس په
بدل کښې لاس، د پښې په بدل کښې پښه، ۲۵ د سوزولو په
بدل کښې سوزول، د زخم په بدل کښې زخم، د کوړو په بدل
کښې کوړې وهل دی. ۲۶ کهٔ یو کس د خپل غلام یا خپلې
وینځې په وهلو سره سترګه ویاسی، نو د سترګې په بدل کښې
به هغه غلام یا وینځه آزادولے شی. ۲۷ کهٔ هغه د خپل غلام
یا وینځې غاښ مات کړی، نو د غاښ په بدل کښې به هغه
غلام یا وینځه آزادولے شی.

## د مالِکانو ذمه واری

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٨ کهٔ يو غوَيے څوک په ښکر ووهی او هغه مړ شی، نو
هغه غوَيے به خامخا سنګسارولے شی او د دې غوښه به نهٔ
شی خوړلے، خو د غوَيی مالِک خلاص دے. ٢٩ خو کهٔ
دې غوَيی مخکښې هم خلق وهل او مالِک له يې خبردارے
ورکړے شوے وی او هغهٔ دا غوَيے تړلے نهٔ وی ساتلے او
دا څوک ووهی او مړ شی، نو غوَيے به سنګسارولے شی او
مالِک به يې هم وژلے شی. ٣٠ خو کهٔ د مالِک نه د خپل
ژوند بچ کولو تاوان وغوښتلے شی، نو هغه به پوره تاوان
ورکوی. ٣١ کهٔ يو غوَيے هلک يا جينۍ ووژنی، نو هم دغه
شان فېصله به پرې کيږی. ٣٢ کهٔ غوَيے يو غلام يا وينځه
ووژنی، نو د غوَيی مالِک به د هغه غلام يا وينځې مالِک له د
سپينو زرو دېرش سيکې ورکوی او غوَيے به هم
سنګسارولے شی. ٣٣ کهٔ يو کس يوه کنده کولاو پرېږدی يا
کنده وکنی او دا پټه نهٔ کړی او يو غوَيے يا خر ورغورزيږی،
٣٤ نو هغه کس به خامخا د دې څناور مالِک ته تاوان
ورکوی. هغه به يې مالِک ته د دې قيمت ورکړی او هغه مړ
څناور به د هغهٔ شی. ٣٥ کهٔ د يو کس غوَيے د بل چا غوَيے
ووهی او هغه مړ شی، نو هغوئ دواړه دې هغه ژوندے غوَيے
خرڅ کړی او هغه پېسې دې په خپلو کښې تقسيم کړی، او
هغه مړ څناور دې هم په خپلو کښې تقسيم کړی. ٣٦ خو کهٔ
دا پته لګېدلې وی چې دې غوَيی مخکښې هم وهل کول او
مالِک دا تړلے نهٔ ساتلو، نو هغه به د غوَيی په تاوان کښې هغه
بل کس له ژوندے غوَيے ورکوی او هغه مړ څناور به د هغهٔ
شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د تاوان په حقله قانون

٢٢ ١ کۀ يو کس يوه غوا يا ګډه پټه کړی او حلاله يې
کړی يا يې خرڅه کړی، هغه به خامخا د يوې غوا په بدل
کښې پينځۀ غواګانې ورکوی او د يوې ګډې په بدل کښې به
څلور ګډې ورکوی. ٢-٤ هغۀ چې څۀ پټ کړی وی نو
خامخا به د هغې تاوان ورکوی. کۀ هغه هيڅ هم نۀ لری، نو
هغۀ چې څۀ پټ کړی وی د هغې په تاوان کښې به هغه د غلام
په توګه خرڅولے شی. چې کوم څناور يې پټ کړی وی، کۀ
هغه غوا، خر او يا ګډه وی او د هغۀ سره ژوندے وموندے
شی نو هغه به د دې يو په دوه ورکوی. کۀ يو غل د يو کور
کنډر کولو په وخت د شپې ونيولے شی او د وهلو په وجه مړ
شی، چا چې هغه وژلے وی نو هغه به د دې خُون ذمه وار نۀ
وی. خو کۀ دا کار د ورځې شوے وی، نو هغه به د دې خُون
ذمه وار وی. ٥ کۀ يو کس خپل څاروی په يو پټی يا د
انګورو په باغ کښې څروی او دا خوشے لاړ شی او د بل چا
په پټی کښې فصل وخوری، نو هغه به خامخا په تاوان کښې د
خپل پټی يا د انګورو باغ نه د ټولو نه ښۀ پېداوار ورکوی. ٦
کۀ څوک په خپل پټی کښې اور ولګوی او اور د واښو په
ذريعه د بل چا پټی ته ورسيږی او د هغۀ ګېډی شوے، ريبلے
شوے، يا داسې فصل وسوزوی چې ولاړ وی، چا چې دا اور
لګولے وی هغه به يې پوره تاوان ورکوی. ٧ کۀ يو کس د
بل چا پېسې يا قيمتی څيزونه د امانت په توګه د هغۀ دپاره
کېږدی او د هغۀ د کور نه غلا وشی او هغه غل ونيولے شی
نو يو په دوه به ترې نه اخستلے شی. ٨ خو کۀ غل ونۀ
نيولے شی، نو د چا سره چې امانت پروت وو هغه به خامخا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قاضيانو په مخکښې حاضر شی او هلته به قسم وکړی چې
دغه پردے مال دهٔ پخپله نهٔ دے پټ کړے. ۹ د مال او
سامان هر قِسم لانجې، کهٔ هغه د څاروو، خرونو، ګډو، جامو،
يا د بل ورک شوی څيز په حقله وی، چې دوه کسان په کښې
دعوىٰ لری هغوئ دې خپلې لانجې د قاضيانو په مخکښې
پېش کوی. هغوئ چې چا ته پړ ووائی نو هغه به هغه بل ته يو
په دوه ورکوی. ۱۰ کهٔ يو کس بل کس له خپل خر، غوا،
ګډه يا بل څاروے امانت ورکړی او هغه مړ يا زخمی شی يا
په داسې وخت کښې وتښتولے شی چې هيڅ څوک يې هم ونهٔ
وينی، ۱۱ نو هغه کس به ورته د مالِک خُدائ په نوم قسم
کوی چې د هغه بل کس ځناور يې نهٔ دے پټ کړے. کهٔ هغه
ځناور چا نهٔ وی پټ کړے، نو هغه مالِک دې دا قسم ومنی
او تاوان ورکولو ته ضرورت نشته، ۱۲ خو کهٔ ځناور چا
پټ کړے وی، نو هغه کس به خامخا مالِک ته د هغې تاوان
ورکوی. ۱۳ خو کهٔ هغه ځنګلی ځناور وژلے وی، نو هغه
کس به د هغې پاتې حِصه د ثبوت دپاره راوړی، نو هغهٔ له د
هغه ځناور د تاوان ورکولو ضرورت نشته کوم چې ځنګلی
ځناورو وژلے وی. ۱۴ کهٔ يو کس د بل کس نه يو څاروے
وغواړی او هغه په داسې وخت کښې زخمی يا مړ شی چې
مالِک يې موجود نهٔ وی، نو هغه به يې خامخا تاوان ورکوی.
۱۵ خو کهٔ دا کار په داسې وخت کښې شوے وی چې
مالِک يې حاضر وی، نو هغهٔ ته د تاوان ورکولو ضرورت
نشته. کهٔ ځناور يې په مزدورئ راوستلے وی، نو هغه به
صِرف د مزدورئ پېسې په تاوان کښې ورکوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اخلاقي او مذهبي قانون

۱۶ کهٔ يو سړے يوه پېغله دوکه کړی چې هغه کوژدن شوې
هم نهٔ وی او د هغې سره څملی، هغه دې خامخا د هغې حق
مهر ورکړی نو ښځه به يې شی. ۱۷ خو کهٔ پلار يې هغهٔ له د
ورکولو نه اِنکار وکړی، نو هغه به خامخا د هغې پېغلې پلار له
د حق مهر برابر قيمت ورکوی. ۱۸ کومه ښځه چې کوډې
کوی هغه ژوندۍ مهٔ پرېږدئ. ۱۹ هغه کس به خامخا وژلے
شی کوم چې د څناور سره زنا وکړی. ۲۰ څوک چې د
مالِک خُدائ نه بغير بل خُدائ ته قربانی پېش کوی هغه دې
هلاک کړے شی. ۲۱ د يو مسافر سره بد سلوک يا زياتے
مهٔ کوئ، هغه راياد کړئ چې تاسو په خپله د مِصر په مُلک
کښې مسافر وئ. ۲۲ د کونډې يا يتيم سره بد سلوک مهٔ
کوئ. ۲۳ کهٔ تاسو د هغوئ سره بد سلوک وکړو او چې کله
هغوئ ما مالِک خُدائ ته د مدد دپاره فرياد وکړی نو زهٔ به د
هغوئ فرياد اورم، ۲۴ او زهٔ به په قهر شم او تاسو به په
جنګ ووژنم. ستاسو ښځې به کونډې شی او ستاسو بچی به
يتيمانان شی. ۲۵ کهٔ تاسو زما د خلقو نه يو کس له قرض
ورکړئ چې هغه غريب وی، د هغهٔ سره د يو قرض
ورکوونکی په شان عمل مهٔ کوئ او سود ترې نه مهٔ غواړئ.
۲۶ کهٔ تاسو د قرض په ضمانت کښې د چا نه چُوغه
واخلئ، دا به تاسو د نمرپرېواتو نه مخکښې هغهٔ له واپس
ورکوئ، ۲۷ ځکه چې د هغهٔ سره د ځان پټولو دپاره صرف
يوه چُوغه وه، د دې نه بغير هغه په څهٔ کښې اودهٔ شی؟ چې
کله هغه ما ته سوال زاری وکړی، زهٔ به د هغهٔ فرياد اورم
ځکه چې زهٔ رحيم يم. ۲۸ د خُدائ پاک په حق کښې بدې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ردي مۀ وايئ او د خپل قوم مشرانو ته ښېرې مۀ کوئ. ۲۹
خپله غله، مے او خپل د زيتُونو تېل ما ته ښۀ په وخت پېش
کوئ. تاسو خپل مشران زامن ما له راکړئ. ۳۰ تاسو د
خپلو څاروو او د خپلو ګډو وړومبی پېدا شوی بچی ما ته
وقف کړئ. هر يو وړومبے پېدا شوے نر بچے به اووۀ
ورځې د خپلې مور سره ايساريږی او په اتمه ورځ به هغه ما
ته پېش کوئ. ۳۱ تاسو به زما مقدس خلق يئ، نو د داسې
ځناور غوښه مۀ خورئ چې هغه ځنګلی ځناور وژلے وی،
هغه سپو ته اچوئ.

## عدل او اِنصاف

۲۳ ۱ د دروغو خبر مۀ خوروئ او د دروغو ګواهۍ په
ذريعه د يو مجرم کس مدد مۀ کوئ. ۲ د ډېرو خلقو په بد
عمل کښې يا د قانون ماتولو په ګواهۍ کښې ملګرتيا مۀ کوئ
او بےاِنصافی مۀ کوئ. ۳ په يوه مقدمه کښې د يو غريب
سړی ناجائزه طرفدارے مۀ کوئ. ۴ کۀ تاسو د خپل
دشمن غوا يا خر وينئ چې لار يې غلطه کړې وی، نو هغۀ له
يې خامخا واپس ورولئ. ۵ کۀ د هغۀ خر وينئ چې د بار
لاندې پرېوتلے وی، نو د خر په پاڅولو کښې د هغۀ مدد
وکړئ، او ځان پرې مۀ ناغرضه کوئ. ۶ چې کله يو
غريب سړے په عدالت کښې حاضر شی نو د هغۀ سره
بےاِنصافی مۀ کوئ. ۷ د دروغو اِلزام مۀ لګوئ او يو
صادق او بےګناه سړے مۀ وژنئ، ځکه چې څوک داسې بد
عمل وکړی نو زۀ به هغه نۀ پرېږدم. ۸ رشوت مۀ اخلئ،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې رشوت بينا خلق ړندوی او حق نۀ ګوری او رشوت
د صادقانو په خبرو کښې هم چالاکی پېدا کوی. ٩ د يو
مسافر سره بد سلوک مۀ کوئ، تاسو ته پته ده چې د يو
مسافر په زړۀ څۀ تېرېږی، ځکه چې تاسو هم د مِصر په مُلک
کښې مسافر وئ.

## د سبت ورځې دپاره قانون

١٠ شپږ کاله خپله زمکه کَرئ او فصل ترې نه رېبئ. ١١
خو په اوؤم کال يې شاړه پرېږدئ او چې څۀ په کښې شوی
وی هغه ترې نه مۀ رېبئ، چې څۀ په کښې پاتې وی نو هغه به
غريبانان خلق او ځنګلی ځناور وخوری. د انګورو او زيتُونو
د باغونو سره هم دغه شان وکړئ. ١٢ په هفته کښې شپږ
ورځې کار کوئ، خو په اوومه ورځ کار مۀ کوئ، د دې دپاره
چې ستاسو غلامان او هغه مسافر چې ستاسو دپاره کار
کوی او داسې ستاسو څاروی به هم آرام وکړی. ١٣ چې ما
مالِک خُدائ تاسو ته څۀ وئيلی دی په هغې عمل کوئ. د نورو
معبودانو عبادت مۀ کوئ او نۀ چې ستاسو د خولې نه د
هغوئ د نومونو ذکر واورم.

## درې اخترونه

١٤ زما د درناوی دپاره په کال کښې درې ځله اختر کوئ.
١٥ چې ما څنګه حُکم درکړے دے هم هغه شان د ابيب په
مياشت کښې، تاسو د پتيرې روټۍ اختر کوئ، دا هغه
مياشت ده چې تاسو په کښې د مِصر نه راووتلئ. د دې اختر
په اووۀ ورځو کښې تاسو پتيره روټۍ خورئ. او هيڅ څوک به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم زما په حضور کښې خالی لاسونه نۀ حاضریږی. ۱۶ چې
کله تاسو خپل فصلونه ريبل شروع کوئ، نو د لَو کولو اختر
کوئ په خپلو پټو کښې چې تاسو کوم تخم کَرلے وی نو د
هغه فصل وړومبے پېداوار پېش کوئ او چې کله تاسو خپل
فصل د پټو نه راټول کړئ نو په خزان کښې د فصل راټولولو
اختر کوئ. ۱۷ هر کال په دې درېو اخترونو کښې دې
خامخا ستاسو ټول نران مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک
عبادت له راځی. ۱۸ چې کله تاسو يو ځناور قربانی کوئ او
د هغۀ وینه ما ته پېش کوئ نو خمبيره روټۍ ورسره مۀ پېش
کوئ. په دې اخترونو کښې چې کوم ځناور ما ته قربانی شی
د هغوئ وازګه دې د سحر پورې نۀ شی پرېښودلے. ۱۹ هر
کال د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک، کور ته د خپلې
زمکې نه ريبلے شوې وړومبۍ غله راوړئ. د چېلۍ بچے د
خپلې مور په پیو کښې مۀ پخوئ.

## لار ښودنه او وعدې

۲۰ ګورئ، زۀ به ستاسو نه وړاندې یوه فرښته درولېږم چې
په لار کښې ستاسو حِفاظت کوی او هغه ځائ ته مو راولی
کوم چې ما تيار کړے دے. ۲۱ هغې ته پام کوئ او د هغې
خبرې ته غوږ نيسئ. د هغې خِلاف بغاوت مۀ کوئ، ځکه چې
هغې له مې پوره اختيار ورکړے دے او هغه به ستاسو
بغاوت معاف نۀ کړی. ۲۲ خو کۀ تاسو په رښتيا سره د هغې
خبره ومنئ او هغه هر څۀ وکړئ چې ما حُکم درکړے دے،
نو زۀ به ستاسو د دشمنانو سخت دشمن يم. ۲۳ زما فرښته
به ستاسو په وړاندې روانه وی او تاسو به د اموريانو،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حِتيانو، فرزيانو، کنعانيانو، حِويانو او د يبوسيانو مُلک ته
بوځى او زۀ به هغوئ تباه کړم. ۲۴ د هغوئ معبودانو ته
سجده مۀ لګوئ او مۀ يې عبادت کوئ او د هغوئ طريقې مۀ
خپلوئ او د هغوئ بُتان مات کړئ او د هغوئ د کاڼو مقدسې
ستنې وغورزوئ. ۲۵ کۀ تاسو زما، مالِک خُدائ د ستاسو
خُدائ پاک عبادت کوئ، نو زۀ به ستاسو په خوراک او اوبو
کښې برکت واچوم او د ټولو بيماريانو نه به مو بچ وساتم.
۲۶ ستاسو په مُلک کښې به د يوې ښځې هم بچى نۀ ضائع
کيږى او يوه ښځه به هم شنډه نۀ وى. زۀ به تاسو له اوږد
عُمر درکړم. ۲۷ زۀ به په هغه خلقو خپله يره راولم چې کوم
ستاسو مخالفت کوى، زۀ به هغه خلق په وارخطايۍ آخته
کړم د کومو خلقو سره چې تاسو جنګ کوئ او زۀ به
ستاسو ټول دشمنان ستاسو نه وزغلوم. ۲۸ زۀ به ستاسو په
دشمنانو وارخطائى راولم، چې تاسو مخ په وړاندې ځئ نو زۀ
به حِويان، کنعانيان او حِتيان ستاسو د مخې نۀ لرې کړم.
۲۹ زۀ به هغوئ په يو کال کښې نۀ وباسم، کۀ ما داسې
وکړل، نو زمکه به ويجاړه شى او هلته به ډير زيات ځنګلى
ځناور وى. ۳۰ خو زۀ به هغوئ ورو ورو وباسم، تر دې
پورې چې تاسو زيات شئ او هغه زمکه ستاسو خپله شى.
۳۱ زۀ به ستاسو د زمکې سرحدونه د بحرِقُلزم نه واخله د
مديترانى د سمندر پورې او د بيابان نه د فرات سيند پورې
خوارۀ کړم. زۀ به د هغې زمکې اوسېدونکى ستاسو په لاس
کښې درکړم او چې تاسو مخ په وړاندې ځئ نو هغوئ به
وشړئ. ۳۲ د هغوئ يا د هغوئ د معبودانو سره لوظ مۀ
کوئ. ۳۳ هغوئ خپل مُلک کښې اوسېدو ته مۀ پرېږدئ، کۀ
تاسو پرېښودل نو هغوئ به تاسو دوکه کړى او زما خِلاف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

گناه کولو ته به مو جوړ کړی. کهٔ تاسو د هغوئ د معبودانو
عبادت وکړئ نو دا به ستاسو دپاره يو دام جوړ شی.“

## پوخ لوظ کول

۲۴ ۱ مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل چې، ”ما ته تهٔ،
هارون، ندب، ابيهُو او د بنی اِسرائيلو اويا مشران بره غر ته
راشئ، خو نزدې مهٔ راځئ او د لرې نه ما ته سجده وکړئ.
۲ صِرف تهٔ ما له راشه او هغه نور به ما له نزدې نهٔ راځی.
نور کسان به تا سره غرهٔ ته نهٔ راخېژی.“ ۳ موسىٰ راغلو
او خلقو ته يې د مالِک خُدائ ټولې خبرې او ټول اصُول بيان
کړل او ټولو خلقو په يو آواز جواب ورکړو، ”څنګه چې
مالِک خُدائ فرمائيلی دی نو مونږ به هم هغه شان کوُو.“ ۴
موسىٰ د مالِک خُدائ هغه ټولې خبرې وليکلې. بل سحر
وختی د غرهٔ په لمن کښې هغهٔ يوه قربانګاه جوړه کړه او د
بنی اِسرائيلو د دولسو قبيلو په مطابق يې د هرې يوې دپاره
دولس تيږې ودرولې. ۵ بيا هغهٔ د بنی اِسرائيلو څهٔ زلمی
مقرر کړل او هغوئ مالِک خُدائ ته سوزېدونکې قربانۍ او
څهٔ څاروی د سلامتۍ قربانۍ په توګه پېش کړل. ۶ موسىٰ
د څناورو هغه نيمه وينه واخستله او په ښانکونو کښې يې
واچوله، او هغه نوره نيمه يې په قربانګاه وشيندله. ۷ بيا
هغهٔ د لوظ کِتاب راواخستلو او حاضرو خلقو ته يې واورولو.
هغوئ ووئيل، ”مونږ به د مالِک خُدائ تابعداری کوُو او د هغهٔ
په ټولو خبرو به عمل کوُو.“ ۸ بيا موسىٰ هغه وينه
راواخستله چې په ښانکونو کښې وه او په خلقو يې وشيندله.
هغهٔ وفرمائيل، ”ګورئ، دا وينه د لوظ د پوخوالی دپاره ده

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم چې مالِک خُدائ تاسو سره کړے دے چې کله هغۀ دا
ټول حُکمونه درکول.“ ٩ موسیٰ، هارون، ندب، ابیهُو او د
بنی اِسرائیلو هغه اویا مشران غرۀ ته وختل. ١٠ او هغه د
بنی اِسرائیلو خُدائ پاک یې ولیدلو. د هغۀ د پښو لاندې لکه د
آسمان په شان د نیلم کاڼی شین فرش وو. ١١ د خُدائ پاک
د لاس نه د بنی اِسرائیلو هغه مشرانو ته ضرر ونۀ رسېدلو،
هغوئ خُدائ پاک ولیدلو او بیا هغوئ خوراک څښاک وکړو.

## حضرت موسیٰ د سینا په غرۀ باندې

١٢ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ”ما له غرۀ ته راوخېژه
او چې کله تۀ هلته یې نو زۀ به تا له د کاڼو دوه تختې درکړم
چې په هغې باندې ما ټول اصُول او حُکمونه لیکلی دی چې تۀ
به دا خلقو ته بیانوې.“ ١٣ موسیٰ د خپل مدد کوونکی یشوَع
سره روان شو او موسیٰ د خُدائ پاک غرۀ ته بره ختلو. ١٤
موسیٰ مشرانو ته وفرمائیل، ”تاسو مونږ ته دلته تر هغې پورې
اِنتظار کوئ چې مونږ واپس نۀ یُو راغلی. هارون او حُور به
ستاسو سره وی، او کۀ د چا څۀ لانجه وی نو هغوئ له دې
ورځی.“ ١٥ چې موسیٰ بره وختلو نو وریځې غر پټ کړو.
١٦-١٧ د مالِک خُدائ جلال په غرۀ باندې خور شو. بنی
اِسرائیلو ته د مالِک خُدائ جلال داسې ښکارېدو لکه چې د
غرۀ په سر باندې اور بل وی. شپږ ورځې وریځې غر پټ
کړے وو او په اوومه ورځ مالِک خُدائ د وریځې د مینځ نه
موسیٰ ته آواز وکړو. ١٨ چې موسیٰ بره غرۀ ته ورختلو نو د
وریځې مینځ ته ورننوتلو او څلوېښت ورځې او څلوېښت
شپې په غرۀ کښې ایسار شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مقدسه خېمه

۲۵ ۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۲ ”بنی
اِسرائيلو ته ووايه چې ما ته يوه نذرانه پېش کړی. چې څوک
د زړۀ نه ما ته څۀ نذرانه پېش کول غواړی تۀ يې ترې نه اخله.
۳ دا هغه نذرانې دی چې کومې به ترې نه تۀ اخلې، سرۀ
زر، سپين زر او زېړ، ۴ کتان، د آسمانی رنګ، کاسنی او
د سور رنګ وړی، د چېلو د وړیٰ کپړه، ۵ سره رنګ
شوې د ګډو څرمن، ښۀ څرمن، د کيکر لرګے، ۶ د ډيوو
دپاره تېل، د غوړولو د تېلو دپاره مصالحې او د خوشبوئیٰ
مصالحې، ۷ اونيکس کانړی او نور قيمتی کانړی چې د مشر
اِمام په مقدس واسکټ باندې چې پېش بند ورته وائی او د
هغۀ د سينې جيب باندې ولګولے شی. ۸ او خلق به زما
دپاره يوه مقدسه خېمه جوړه کړی، نو زۀ به د هغوئ په مينځ
کښې اوسېږم. ۹ دا مقدسه خېمه او د هغې ټول سامان د
هغې نقشې په مطابق جوړ کړئ کومه چې زۀ درته ښايم.

## د لوظ صندوق

۱۰ هغوئ به زما دپاره د کيکر د لرګی نه يو صندوق جوړ
کړی، چې پينځۀ څلويښت اِنچه اوږد وی، اوويشت اِنچه پلن
او اوويشت اِنچه لوړ وی. ۱۱ دننه او بهر ورباندې د سوچه
سرو زرو پترے وخېژوه او د دې د سر نه ګېرچاپېره د سرو
زرو غاړه تاو کړه. ۱۲ د وړلو دپاره ورله د سرو زرو څلور
ګول کَړیٰ جوړې کړه او دا ورله په څلورو پښو پورې ولګوه،
چې دوه کَړیٰ يو خوا وی او دوه بل خوا وی. ۱۳ د وړلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره ورله د کيکر لرګی نه بازوګان جوړ کړه او د سرو زرو
پترې ورباندې وخېژوه ۱۴ او دا بازوګان د صندوق د
وړولو دپاره په کړو کښې دواړو طرفونو ته وردننه کړه. ۱۵
هغه بازوګان به په هغه کړو کښې پرېږدئ او وياسئ به يې
تړينه نه. ۱۶ بيا د لوظ صندوق کښې هغه د کاڼو دوه تختې
کېږده کومې چې زۀ درکوم، په کومو باندې چې حُکمونه
ليکلی دی. ۱۷ د سوچه سرو زرو يو سر ورله جوړ کړه
چرته به چې کفاره ادا کيږی، چې پينځۀ ځلوېښت اِنچه اوږد
وی او اوويشت اِنچه پلن وی. ۱۸ د ټکېدلے شوو سرو زرو
نه دوه د وزرو والا مخلوق ورله جوړ کړه، ۱۹ يو ورباندې
په يو سر کښې او بل په بل سر کښې جوړ کړه نو چې دواړه
د لوظ صندوق د کفارې د سر سره يوه ټُکړه شی. ۲۰ د
وزرو والا مخلوق دې د لوظ صندوق د کفارې په تخت باندې
يو بل ته مخامخ وی او د هغوئ خورې وزرې دې د صندوق
د کفارې تخت پټ کړی او مخونه به يې لاندې وی. ۲۱ د
کاڼی چې کومې دوه تختې زۀ درکوم هغه د لوظ صندوق
کښې کېږده او هغه د کفارې تخت د صندوق دپاسه کېږده.
۲۲ زۀ به تا سره هلته ملاقات وکړم او د دې دوو وزرو والا
مخلوق په مينځ کښې چې د کفارې صندوق د سر دپاسه دی
زۀ به تا له د اِسرائيلو دپاره خپل حُکمونه درکړم.

## د پيش کېدونکې روټۍ مېز

۲۳ د کيکر لرګی نه يو مېز جوړ کړه، چې شپږ دېرش اِنچه
اوږد وی، اتلس اِنچه پلن او اوويشت اِنچه لوړ وی. ۲۴ په
دې د سوچه سرو زرو پترے وخېژوه او د دې نه ګېرچاپېره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د سرو زرو غاړه تاو کړه. ۲۵ ګېرچاپېره درې اِنچه پلنه يوه
ژۍ ورله جوړه کړه او ژۍ نه ګېرچاپېره د سرو زرو غاړه تاو
کړه. ۲۶ د دې ورلو دپاره د سرو زرو څلور ګول کَړۍ
جوړې کړه او دا په هغه څلورو ګوټونو کښې ولګوه، چرته
چې پښې دى. ۲۷ دا کَړۍ به د ژۍ سره نزدې ولګولے شى
چې هغه بازوګان ونيسى چې د کومو په ذريعه دا مېز وړلے
شى. ۲۸ دا بازوګان د کيکر لرګى نه جوړ کړه او په دې
باندې د سرو زرو پترى وخېژوه. ۲۹ د سوچه سرو زرو نه
رکېبۍ او لوښى جوړ کړه او دغه شان د نذرانو تويَولو دپاره
منګى او جامونه هم جوړ کړه. ۳۰ دا مېز به د لوظ صندوق
په مخکښې کېښودلے شى او ما ته پېش کړے شوې مقدسه
روټۍ به د همېشه دپاره په مېز پرته وى.

## ډيوټ

۳۱ د سوچه سرو زرو نه يو ډيوټ جوړ کړه. د دې بېخ او د
دې ډنډا د ټکېدلے شوو سرو زرو نه جوړ کړه، د دې د بڼۀ
ښکارېدلو دپاره ګلونه، سره د غوټو او پاڼو جوړ کړه، چې د
دې سره يوه ټُکړه شى. ۳۲ د ډيوټ د اړخونو نه دې شپږ
څانګې وتلې وى، چې درې به يو طرف وى او درې په بل
طرف وى. ۳۳ د دې شپږ واړو څانګو به درې درې د بڼۀ
ښکارېدو ګلونه وى، دا به سره د غوټو او پاڼو د بادام د
ګلونو په شان جوړ وى. ۳۴ د ډيوټ د ډنډې به د بڼۀ
ښکارېدو څلور ګلونه وى، دا به سره د غوټو او د پاڼو د بادام
د ګلونو په شان وى. ۳۵ د دې دريو واړو څانګو د هرې
يوې لاندې به يوه غوټۍ وى. ۳۶ دا غوټۍ، څانګې او دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډیوټ به د ټکېدلے شوو سوچه سرو زرو د یوې ټُکړې نه
جوړ وی. ٣٧ د ډیوټ دپاره اووۀ ډیوې جوړې کړه او هغه
داسې کېږده چې د ډیوټ مخامخ ځلیږی. ٣٨ د هغې
سرپوښونه او مجمعې د سوچه سرو زرو وی. ٣٩ پینځۀ
دېرش کلو سوچه سرۀ زر په دې ډیوټ او د دې په ټول
سامان جوړولو کښې استعمال کړه. ٤٠ ګوره چې دا د هغې
نقشې په مطابق جوړ کړې چې کومه ما درته په غرۀ باندې
ښودلې ده.“

## د مالِک خُدائ د حضور خیمه

٢٦ ١ او مالِک خُدائ وفرمائیل، ”د مقدسې خېمې یعنې
زما د حضور خېمې دننه برخه د کتان د لسو پردو نه جوړه
کړه چې دا د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ د وړۍ نه
تیاره وی. په دې باندې په ګُلکارۍ کښې د وزرو والا مخلوق
جوړ کړه. ٢ هره یوه پرده په برابر ناپ جوړه کړه چې
څوارلس ګزه اوږده وی او دوه ګزه پلنه وی. ٣ پینځۀ
پردې په یو ځائ وګنډه. او هغه نورې پینځۀ پردې هم په یو
ځائ وګنډه. ٤ په هره یوه جوړه کښې، د پردې په بهرنۍ
غاړه د آسمانی رنګ د کپړې کَړۍ جوړې کړه. ٥ د
وړومبۍ جوړې په وړومبۍ پرده پنځوس کَړۍ او پنځوس
کَړۍ د دویمې جوړې په آخری پرده جوړې کړه چې دا کَړۍ
یو بل ته مخامخ وی. ٦ پنځوس د سرو زرو کُنډې جوړې
کړه او هغه پردې د یوې بلې سره مِلاو کړه نو ټوله مقدسه
خیمه به یوه شی. ٧ د خیمې پټولو دپاره د چېلو د وړو نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړې شوې يوولس پړدې واخله. ٨ دا ټولې په يو ناپ
جوړې کړه، چې پينځلس ګزه اوږدې او دوه ګزه پلنې وى.
٩ پينځۀ پړدې په يو ځائ وګنډه او هغه نورې شپږ هم يو
ځائ وګنډه. شپږمه پړده د خېمې په مخکښېنۍ حِصه باندې
غبرګه کړه. ١٠ د يوې جوړې د آخرى پړدې په غاړه
پنځوس کړۍ جوړې کړه او د هغه بلې جوړې په غاړه هم
پنځوس کړۍ جوړې کړه. ١١ د زېړو پنځوس کُنډې جوړې
کړه او هغه په کړو کښې واچوه چې هغه دوه جوړې مِلاو
کړى نو داسې به دا د خېمې سره يو ځائ شى. ١٢ هغه
زياته شوې نيمه برخه به د خېمې شا ته ځوړنده وى. ١٣ د
پړدو دواړو طرفونو ته چې په اوږدوالى کښې کوم نيم ګز
زيات شوے دے هغه به راځوړند وى چې خېمه پټه کړى.
١٤ دوه نورې پړدې هم جوړې کړه، يوه پړده د ګډو د
څرمنې نه چې سور رنګ ورکړے شوے وى او بله د ښې
څرمنې نه جوړه کړه، چې د پاس نه پرې خېمه پټه کړے
شى. ١٥ خېمې له د ودرولو دپاره د کيکر د لرګى نه
چوکاټونه جوړ کړه. ١٦ چې هر يو چوکاټ پينځلس فټه
اوږد وى او اوويشت اِنچه پلن وى، ١٧ په ببخ کښې ورله
دوه يو شان تختې هم جوړې کړه چې چوکاټونه ونښلوى. د
ټولو چوکاټونو دې دا تختې وى. ١٨ د خېمې جنوب طرف
دپاره شل چوکاټونه جوړ کړه ١٩ او څلوېښت د سپينو زرو
پښې چې ورلاندې شى، چې د هر يو چوکاټ لاندې دوه دوه
وى چې هغه دوه وړاندينۍ حِصې ونيسى. ٢٠ د خېمې د
شمال په طرف هم شل چوکاټونه جوړ کړه ٢١ او څلوېښت
د سپينو زرو پښې جوړې کړه، چې د هر يو چوکاټ لاندې
دوه دوه وى. ٢٢ د خېمې شا دپاره چې د نمرپرېواتۀ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طرف دے، شپږ چوکاټونه جوړ کړه، ۲۳ او دوه چوکاټونه د
خېمې د ګوټونو دپاره جوړ کړه. ۲۴ د ګوټونو دا چوکاټونه
به په بېخ کښې مِلاو وی او د لاندې نه واخله تر سره پورې به
انښتی وی. دا دوه چوکاټونه به هم دغه شان جوړولے شی
چې د کومو نه دوه ګوټونه جوړولے شی. ۲۵ نو اتۀ
چوکاټونه او شپاړس د سپينو زرو پښې به وی، چې د هر
چوکاټ لاندې به دوه دوه وی. ۲۶ د کيکر لرګی نه پينځلس
لاړی جوړ کړه، پينځۀ د خېمې د هغه چوکاټونو دپاره چې په
يو طرف باندې وی، ۲۷ پينځۀ د هغه چوکاټونو دپاره چې په
بل طرف باندې وی او پينځۀ د هغه چوکاټونو دپاره چې
نمرخاتۀ طرف شا ته په آخر سر کښې وی. ۲۸ د چوکاټونو
تير به د يو سر نه تر بل سره پورې پوره رسېدلے وی. ۲۹ په
چوکاټونو د سرو زرو پترى وخېژوه او د سرو زرو کړۍ ورله
جوړې کړه چې لاړی ونيسی، په لاړو به هم د سرو زرو پترى
خېژولے شی. ۳۰ دا خېمه د هغه نقشې په مطابق ودروه
کومه چې ما تا ته په غرۀ ښودلې وه. ۳۱ د کتان نه يوه پړده
جوړه کړه چې د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ وړۍ
نه تياره شوې وی. په دې باندې په ګُلکارۍ کښې د وزرو والا
مخلوق جوړ کړه. ۳۲ دا د کيکر لرګی په څلورو ستنو
باندې، په کُنډو کښې راځوړنده کړه په کومو ستنو چې د
سرو زرو پترى خېژولے شوی وی او د سپينو زرو په څلورو
پښو باندې به ولاړې وی. ۳۳ دا پړده د خېمې په چت کښې
د کُنډو په قطار کښې ځوړنده کړه او د پړدې نه شا ته د لوظ
صندوق کېږده چې په هغې کښې د کاڼو دوه تختې دی. دا
پړده به مقدس ځائ د زيات مقدس ځائ نه جدا کوی. ۳۴
د لوظ صندوق د کفارې په تخت بند کړه. ۳۵ د زيات

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقدس ځائ نه بهر د خېمې ښى طرف ته مېز او ګس طرف
ته يې هغه ډيوټ کېږده. ۳۶ د خېمې د ننوتلو دروازې دپاره
د کتان نه يوه پړده جوړه کړه چې د آسمانى رنګ، کاسنى او
د سور رنګ وړى نه تياره شوې وى او چې دا په ګُلکارۍ
باندې ښائسته کړے شوے وى. ۳۷ د دې پړدې دپاره د
سرو زرو کُنډې جوړې کړه او د کيکر لرګى نه پينځهٔ ستنې
جوړې کړه چې د سرو زرو پترى ورباندې خېږولے شوى
وى، او د دې ستنو دپاره پينځهٔ د زېړو پښې جوړې کړه.

## قربانګاه

۲۷ ۱ د کيکر لرګى نه يوه قربانګاه جوړه کړه. هغه به
څلورګوټه وى، چې اووهٔ نيم فټه اوږده وى، اووهٔ نيم فټه پلنه
او څلور نيم فټه لوړه وى. ۲ د دې دپاره د څلورو ګوټونو
دپاسه د ښکرو په شان څيزونه جوړ کړه چې د قربانګاه
سره يو ځائ شى او په دې هر څهٔ باندې به د زېړو پترى
وخېږولے شى. ۳ د ايرو د لرې کولو دپاره لوښى، بېلچې،
جامونه، درې غاښى او د ګرمې ايرې دپاره لوښى جوړ کړه.
دا ټول سامان د زېړو نه جوړ کړه. ۴ او تهٔ د زېړو يوه
جالۍ هم جوړه کړه او د هغې په ګوټونو باندې د وړلو دپاره
څلور د زېړو کَړى ولګوه. ۵ دا جالۍ د قربانګاه د ژۍ
لاندې کېږده نو چې د قربانګاه مينځ ته ورسيږى. ۶ د
وړلو دپاره د کيکر لرګى نه ورله بازوګان جوړ کړه او د زېړو
پترى ورباندې وخېږوه، ۷ نو د قربانګاه دواړو طرفونو ته
چې کومې کَړى دى په هغې کښې بازوګان ولګوه. ۸

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قربانګاه د تختو نه جوړه کړه او تشه يې پرېږده، هم د هغې
نقشې په مطابق چې ما درته په غرۀ باندې ښودلې وه.

## د مالِک خُدائ د حضور خېمې دربار جوړېدل

۹ د کتان د پړدو نه زما د حضور خېمې دپاره دربار جوړ
کړه چې د جنوب طرف يې پنځوس ګزه اوږد وى، ۱۰ دا به
د زېړو د شلو ستنو په ذريعه د زېړو په شلو پښو کښې، د
سپينو زرو کُنډو او د سپينو زرو سيخونو په مدد سره
ټينګولے شى. ۱۱ د دربار شمال طرف ته دې هم دغه شان
وکړے شى. ۱۲ په نمرپرېواتۀ طرف به د لسو ستنو او لسو
پښو سره پينځويشت ګزه اوږدې پړدې وى. ۱۳ نمرخاتۀ
طرف دربار به هم پينځويشت ګزه اوږد وى، چې هلته دروازه
هم ده. ۱۴-۱۵ د دروازې په دواړه طرف د درېو ستنو او
درېو پښو سره اووۀ نيم ګزه پړدې به هم وى. ۱۶ يواځې
دروازې له دې لس ګزه اوږده پړده وى چې د کتان نه جوړه
شوې وى چې د آسمانى رنګ، کاسنى او د سور رنګ وړيۍ
نه تياره شوې وى او په ګُلکارۍ باندې ښائسته کړے شوې
وى. دا دې د څلورو ستنو او څلورو پښو په ذريعه ټينګه
کړے شى. ۱۷ د دربار ګېرچاپېره ټولې ستنې به د سپينو
زرو د سيخونو سره انښلولے شى او د هغې کُنډې به د سپينو
زرو وى او پښې به يې زېړو نه جوړولے شى. ۱۸ دا دربار
به پنځوس ګزه اوږد وى او پينځويشت ګزه پلن وى او دوه
نيم ګزه لوړ وى. د دې پړدې به د کتان نه او پښې به يې د
زېړو نه جوړې وى. ۱۹ په خېمه کښې چې څومره سامان
استعماليږى او د خېمې او دربار دپاره ټول موږى به د زېړو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه جوړولے شی.

## د ډیوې خیال ساتل

۲۰ بنی اِسرائیلو له حُکم ورکړه چې د ډیوې دپاره د زیتُونو
سوچه تېل درله راوړی، چې دا هره شپه بله وساتلے شی.
۲۱ هارون او د هغهٔ زامن دې هغه ډیوه زما د حضور په
خیمه کښې د پردې نه بهر ولګوی چې د لوظ صندوق ته
مخامخ ده. دا به هلته زما په حضور کښې د ماښام نه واخله
تر سحره پورې بلیږی. بنی اِسرائیل او د هغوئ اولاد به
همېشه دپاره دا حُکم منی.

## د اِمامانو خاص لِباس

۲۸ ۱ خپل ورور هارون او د هغهٔ زامن، ندب، ابیهُو،
اِلی‌عزر او اِتمر ځان له راوله. هغوئ د بنی اِسرائیلو د مینځ نه
رابېل کړه، چې د اِمامانو په توګه زما خِدمت کوی. ۲ د
خپل ورور هارون دپاره د اِمامانو جامې جوړې کړه، چې هغهٔ
ته عزت او ښائست مِلاو شی. ۳ ټول ماهِر خلق راوغواړه
کومو له چې ما مهارت ورکړے دے او هغوئ ته ووایه چې د
هارون جامې جوړې کړی، نو چې هغه د یو اِمام په توګه زما
خِدمت ته وقف شی. ۴ هغوئ ته ووایه چې یو د سینې
جیب، یو پیش بند، یوه چُوغه، یو قمیص چې ګُلکاری
وریاندې شوې وی، یو پټکے او یو کمربند جوړ کړی. هغوئ
به د اِمامانو دا جامې ستا ورور هارون او د هغهٔ زامنو له
جوړوی، چې دوئ د اِمامانو په توګه زما خِدمت وکړی. ۵

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ماهِر خلق به د آسمانی رنګ، کاسنی او سور رنګ وړی،
د سرو زرو تار او د کتان نه کار اخلی. ۶ هغوئ به پيش
بند د آسمانی رنګ، کاسنی او سور رنګ وړی، د سرو زرو
تار او د کتان نه جوړوی، چې په ګُلکاری باندې ښائسته
کړے شوے وی. ۷ دواړو طرفونو ته دې ورباندې د اوږې
پټۍ لګېدلې وی، چې د دې په ذريعه تړلے شی. ۸ يو ښۀ
ګُلکاری شوے کمربند چې د سرو زرو آسمانی او کاسنی او
سور رنګ تارونو نه جوړ وی هغه دې د پيش بند سره
ونښلولے شی. ۹ دوه اونيکس کانړی واخله او په هغې
باندې د يعقوب د دولسو زامنو نومونه پاخۀ وليکه، ۱۰ د
هغوئ د پېدايښت په مطابق چې شپږ نومونه په يو کانړی او
شپږ په بل کانړی باندې وی. ۱۱ په هغه دوو کانړو باندې د
يعقوب د زامنو نومونه د يو ماهِر زرګر په ذريعه وليکه او دا
کانړی په سرو زرو کښې ګېر کړه. ۱۲ دا د پيش بند د ولی په
پټو باندې ولګوه چې د بنی اِسرائيلو د دولسو قبيلو نمائندګی
کوی. نو داسې هارون به د هغوئ نومونه ګرځوی، نو زۀ،
مالِک خُدائ به خپل خلق همېشه دپاره ياد ساتم. ۱۳ د سرو
زرو دوه نور ځيزونه جوړ کړه چې دا کانړی په کښې ګېرولے
شی ۱۴ او دوه د سوچه سرو زرو زنځيرونه جوړ کړه چې د
تارونو په شان تاو شوی وی او د سرو زرو په دې ځيزونو
پورې يې ونښلوه.

## د مشر اِمام د سينې جيب

۱۵ د مشر اِمام دپاره يو د سينې جيب جوړ کړه چې د
خُدائ پاک رضا معلومولو دپاره يې استعمالوی. دا به هم د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه کتان نه جوړ وی د کوم نه چې پېش بند جوړ دے او هم
هغه شان ګُلکاری به ورباندې شوې وی. ۱۶ دا به
څلورګوټه او دوه غبرګه وی، نهۀ اِنچې به اوږد او نهۀ اِنچې
پلن وی. ۱۷ په هغه څلور قطاره قیمتی کانړی ولګوه، په اول
قطار کښې یاقوت، یو طوپاز او یو لعل ولګوه، ۱۸ په دوېم
قطار کښې یو زمرد، یو نیلم او یوه هیره ولګوه، ۱۹ په درېم
قطار کښې یو کائنائټ، یو عقیق او یو کټېله ولګوه، ۲۰ او په
څلورم قطار کښې یو ایکوامرین، یو اونیکس کانړے او یو
جاسپر ولګوه. دا به په سرو زرو کښې ګېر شوی وی. ۲۱ په
دې دولسو کانړو په هر یو کانړی باندې د یعقوب د یو زوئ
نوم لیکلے وی، چې د بنی اِسرائیلو د دولسو قبیلو نمائندګی
وشی. ۲۲ د سینې جېب دپاره د سوچه سرو زرو زنځیرونه
جوړ کړه، چې د تارونو په شان تاو شوی وی. ۲۳ د سرو
زرو دوه کړَئ جوړې کړه او د سینې د جېب په برنو ګوټونو
پورې یې ونښلوه، ۲۴ او د سرو زرو هغه دوه زنځیرونه په
هغه کړو پورې وتړه. ۲۵ د زنځیرونو دوه سرونه په هغه دوه
څیزونو پورې وتړه چې په هغې کښې کانړی ګېر کړے شوی
دی او دا د پېش بند د اوږې په پټو باندې مخکښې طرف ته
ونښلوه. ۲۶ بیا دوه د سرو زرو کړَئ جوړې کړه او دا د
سینې د جېب لاندې ګوټونو دننه غاړې ته د پېش بند څنګ
پورې ونښلوه. ۲۷ دوه د سرو زرو نورې کړَئ هم جوړې
کړه او دا په لاندینی حِصه پورې د پېش بند د ولی دوه پټو په
مخکښې ونښلوه چې ګنډ ته نزدې وی او په ګُلکاری ښائسته
کړے شوی کمربند دپاسه وی. ۲۸ د سینې د جېب کړَئ د
پېش بند کړو پورې د آسمانی رنګ مزی سره وتړه، نو چې د
سینې جېب په کمربند باندې پروت وی او تړې نه لرې نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی. ۲۹ نو چې کله هارون مقدس ځائ ته ورننوځی، هغه به
د سینې جېب د ځان سره وړی چې په کوم باندې د بنی
اِسرائیلو د دولسو قبیلو نومونه لیکلے شوی دی، نو زۀ مالِک
خُدائ به خپل خلق همېشه دپاره یاد ساتم. ۳۰ د اُوریم او
تمیم کانړی د سینې په جېب کښې کېږده، چې کله هارون زما
پاک حضور ته راځی نو هغه به د ځان سره دا راوړی. په
داسې وختونو کښې به هغه خامخا د سینې جېب اغوندی،
چې د بنی اِسرائیلو دپاره د مالِک خُدائ رضا معلوموی.

## د اِمامانو نور لِباس

۳۱ چې کومه چُوغه د پېش بند لاندې اغوستلے کېږی هغه
به ټوله د آسمانی رنګ د وړی نه جوړولے شی. ۳۲ په هغې
کښې به د سر دپاره یو سورے وی، چې غاړه یې مضبوطه
ګنډلے شوی وی چې ونۀ شلېږی. ۳۳-۳۴ د دې په لاندې
پېنڅه باندې د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ تار انار
جوړ کړه او د هر انار په مېنځ کښې دې د سرو زرو ټلې وی.
۳۵ چې کله هارون د اِمام په توګه خِدمت کوی نو هغه به دا
چُوغه اغوندی. چې کله هغه زما په حضور کښې مقدس
ځائ ته ننوځی یا ترې نه وځی، نو د ټلو آواز به اورېدلے شی
او هغه به نۀ مړ کېږی. ۳۶ د سوچه سرو زرو نه یوه نښه
جوړه کړه او په هغې باندې ولیکه، ”مالِک خُدائ ته وقف
شوے.“ ۳۷ دا د یو آسمانی رنګ مزی سره د پټکی مخې ته
وتړه. ۳۸ هارون به دا په خپل تندی باندې وتړی، نو زۀ
مالِک خُدائ به هغه نذرانې قبلوم چې بنی اِسرائیل یې ما ته
وقف کوی، کۀ خلق د دې په پېش کولو کښې څۀ غلطی هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی. ۳۹ د هارون دپاره د کتان نه یو قمیص جوړ کړه او د
کتان نه ورله پټکے جوړ کړه او یو کمربند هم جوړ کړه چې
ګُلکاری وریاندې شوې وی. ۴۰ د هارون د زامنو دپاره
قمیصونه، کمربند او ټوپۍ جوړې کړه، چې هغوئ ته عزت
او ښائست مِلاو شی. ۴۱ دا جامې خپل ورور هارون او د
هغهٔ زامنو ته ورواغونده. بیا هغوئ مقرر کړه او هغوئ ما ته
وقف کولو دپاره د زیتُونو په تېلو غوړ کړه، نو داسې به هغوئ
د اِمامانو په توګه زما خِدمت وکړی. ۴۲ هغوئ له د کتان نه
جانګی جوړ کړه، چې د ملا نه د پنډو پورې رسیږی، نو چې د
هغوئ د سَتر ځایونه بربنډ نهٔ شی. ۴۳ هارون او د هغهٔ زامن
به خامخا همېشه دپاره دا اغوندی چې کله هغوئ زما په
حضور کښې خېمې ته ننوځی یا چې په مقدس ځائ کښې د
اِمامانو په توګه خِدمت کوی او قربانګاه ته ورنزدې کیږی،
ګنې د سَتر ځایونو بربنډولو په وجه به ګناهګار شی او ویه
وژلے شی. د هارون او د هغهٔ د اولاد دپاره به دا حُکم د
همېشه دپاره وی.

## د حضرت هارون او د هغهٔ زامن د اِمامانو په توګه مقرر کېدل

۲۹ ۱ هارون او د هغهٔ زامن د اِمامانو په توګه زما په
خِدمت کښې وقف کولو دپاره داسې وکړه چې یو سخے او
دوه ګډان راونیسه چې هیڅ عیب په کښې نهٔ وی. ۲ د
غنمو د ټولو نه ښهٔ اوړهٔ واخله، خو چې خمبیره په کښې نهٔ
وی او درې قِسمه روټۍ ترې نه پخې کړه چې د څهٔ سره د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زيتُونو تېل ګډ وى، څۀ چې سپورې وى او څۀ په تېلو غوړې
وى. ۳ دا په شکور کښې کېږده او چې کله هغه سخے او
هغه دوه ګډان ما ته قربانى کړې نو دا هم ورسره راوړه. ۴
هارون او د هغۀ زامن زما د حضور خېمې دروازې ته راوله
او هغوئ له غسل ورکړه. ۵ بيا هارون ته د اِمامانو دا
لِباس ورواغونده، قميص او چُوغه چې کومه د پېش بند
لاندې اغوستلے کيږى، پېش بند او د سينې جېب د ښۀ
ګُلکارى شوى کمربند سره وتړه. ۶ هغۀ ته پټکے ورپه سر
کړه او په دې باندې د سرو زرو پټۍ وتړه چې هغه نښه
وربانديې لګېدلې وى. ۷ بيا د زيتُونو تېل واخله او د
مقررولو د نښې په طور د هغۀ سر مسح کړه. ۸ د هغۀ
زامن راوله او قميصونه ورواغونده، ۹ هغوئ ته دا کمربند
وتړه او ټوپۍ ورپه سر کړه. نو تۀ به هارون او د هغۀ زامن
مقرر کړې. هغوئ او د هغوئ اولاد به د اِمامانو په توګه
هميشه دپاره زما خِدمت کوى. ۱۰ هغه سخے زما د
حضور خېمې مخې ته راوله او هارون او د هغۀ زامنو ته
ووايه چې خپل لاسونه د هغې په سر کېږدى. ۱۱ سخے د
خېمې په دروازه کښې زما په حضور کښې حلال کړه. ۱۲ د
خپلې ګوتې سره د سخى څۀ وينه واخله او د قربانګاه د
څلورو ښکرونو په شان څيزونو پورې يې وسُوله. بيا هغه
پاتې وينه د قربانګاه په بېخ کښې توئ کړه. ۱۳ بيا، هغه
ټوله وازګه واخله کومه چې په کولمو پرته وى، د اينې ښۀ
حِصه او دواړه ګردې سره د هغه وازګې چې وربانديې پرته
وى او د يوې نذرانې په توګه يې په قربانګاه باندې ما ته
وسوزوه. ۱۴ خو د سخى غوښه، څرمن او د هغۀ سوتې د
خېمو نه بهر وسوزوه. دا د اِمامانو د ګناه معاف کېدلو دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوه نذرانه ده. ۱۵ د هغه ګډانو نه یو ګډ راونیسه او هارون او
د هغهٔ زامنو ته ووایه چې خپل لاسونه د هغهٔ په سر باندې
کېږدی. ۱۶ هغه حلال کړه او وینه يې واخله او د قربانګاه
څلورو واړو طرفونو ته يې وشینده. ۱۷ ګډ ټوټې ټوټې کړه،
د هغهٔ کولمې او وروستو پښې ووینځه او دا د ګډ سر او د
نورو ټوټو سره کېږده. ۱۸ ټول ګډ په قربانګاه باندې
وسوزوه، دا مالِک خُدائ ته په اور سوزېدونکې نذرانه ده. د
دې خوشبوئی په هغهٔ ښهٔ لګی. ۱۹ هغه بل ګډ هارون او د
هغهٔ زامنو له راوله او هغوئ دې خپل لاسونه د هغې په سر
کېږدی. ۲۰ ګډ حلال کړه او څهٔ وینه يې واخله او دا د
هارون او د هغهٔ د زامنو د ښی غوږُونو په نرمو ځایونو پورې،
د هغوئ د ښی لاسونو په غټو ګوتو پورې او د هغوئ د ښی
پښو په غټو ګوتو پورې ولګوه. بیا هغه پاتې وینه د قربانګاه
څلورو واړو طرفونو ته وشینده. ۲۱ څهٔ وینه واخله چې
کومه په قربانګاه باندې پرته وی او څهٔ د غوړولو تېل واخله
او دا د هارون او د هغهٔ په جامو او د هغهٔ زامنو او د هغوئ
په جامو باندې وشینده. نو هغه، د هغهٔ زامن او د هغوئ
جامې به ما ته وقف شی. ۲۲ د ګډ وازګه، لم، هغه وازګه
چې په کولمو پرته وی، د اینې ښهٔ حِصه، دواړه ګردې سره د
هغه وازګې چې وربانديې وی او ښے پتُون دا ټول پرې کړه.
۲۳ د روټۍ هغه شکور چې کوم ما ته پېش کړے شوے
دے، د هر یو قِسمه روټۍ نه یوه یوه روټۍ راواخله. ۲۴ دا
ټول د هارون او د هغهٔ د زامنو په لاسونو کښې کېږده او
هغوئ ته ووایه چې دا ټول د دې ښکاره کولو دپاره اوچت
کړی چې دا مالِک خُدائ ته د خاص نذرانې په توګه وقف
کوی. ۲۵ بیا دا د هغوئ د لاسونو نه واخله او دا په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قربانګاه باندې د سوزېدونکې نذرانې سره وسوزوه. د دې
خوشبو هم په مالِک خُدائ باندې ښه لګی. ۲۶ تهٔ به د دويم
ګډ پوښتئ وخورې، خو تهٔ به وړومبے دا اوچتې کړې چې
ښکاره کړې چې دا غوښه ما ته وقف کيږی. ۲۷ کله چې
اِمامان مقررولے شی هغه د ګډ پوښتئ او پتُون کوم چې د
مقررولو دپاره استعماليږی هغه به اوچت کړے شی او د
هارون او د هغهٔ د زامنو دپاره به بېل کړے شی. ۲۸ دا زما
نهٔ بدلېدونکے قانون دے چې کله بنی اِسرائيل د سلامتئ
قربانئ پېش کوی، د ځناور پوښتئ او پتُون به د اِمامانو وی.
دا زما د خلقو د طرف نه مالِک خُدائ ته نذرانه ده. ۲۹ د
هارون د اِمامت لِباس د هغهٔ د مرګ نه پس به د هغهٔ زامنو ته
ملاويږی، ځکه چې کله هغوئ مقررولے شی نو هغوئ به دا
اغوندی. ۳۰ د هارون کوم زوئ چې د هغهٔ په ځائ اِمام شی
او چې هغه زما د حضور خيمې ته د خِدمت دپاره ننوځی نو
هغه به دا لِباس اووهٔ ورځې اغوندی. ۳۱ د ګډ هغه غوښه
واخله کومه چې د هارون او د هغهٔ د زامنو په مقررولو کښې
استعمال شوې وی او په يو پاک ځائ کښې يې اويشوه. ۳۲
هارون او د هغهٔ زامن به هغه غوښه زما د حضور خيمې په
دروازه کښې د هغه روټئ سره خوری کومه چې په شکور
کښې پاتې وی. ۳۳ د مقرر کېدلو په وخت کښې چې د
کفارې د رسم ادا کولو دپاره څهٔ استعمال شوی وُو هغوئ به
هغه خوری. صِرف اِمامان به دا خوراک خوری ځکه چې دا
خوراک مقدس دے. ۳۴ کهٔ څهٔ غوښه يا څهٔ روټئ تر سحره
پورې پاتې شی، نو هغه به سوزولے شی، هغه به نهٔ شی
خوړلے، ځکه چې مقدسه ده. ۳۵ د هارون او د هغهٔ د
زامنو د مقرر کېدلو رسمونه دې اووهٔ ورځې کولے شی هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه شان چې خنګه ما حُکم درکړے دے. ۳۶ هره ورځ
خامخا يو سخے د نذرانې په توګه قربانى کوئ، نو چې د
ګناه کفاره ادا کيږى. دا به قربانګاه پاکه کړى. د مقدس
کولو دپاره يې د زيتُونو په تېلو غوړه کړئ. ۳۷ هره ورځ تر
اووهٔ ورځو پورې تهٔ کفاره ادا کوه. نو قربانګاه به ښېخى
مقدسه شى او هر څوک يا هر څيز چې د هغې سره ولګى نو
هغه به هم مقدس شى.

## د هرې ورځې نذرانې

۳۸ تهٔ همېشه دپاره هره ورځ ما ته دوه ګډورى په قربانګاه
پېش کوه چې د يو کال وى. ۳۹ يو ګډُورے د سحر په
وخت کښې د قربانۍ په توګه پېش کوه او بل په ماښام کښې.
۴۰ د وړومبى ګډُورى سره يو کلو د غنمو ښهٔ اوړهٔ پېش
کړه چې د زيتُونو يو ليټر سوچه تېل ورسره ګډ وى. او يو
ليټر مے د نذرانې په توګه پېش کړه. ۴۱ دويم ګډُورے په
ماښام کښې قربانى کړه او د سحر په شان هم هغه هومره
اوړو سره، د زيتُونو تېلو او مے سره يې پېش کړه. دا مالِک
خُدائ ته په اور سوزېدونکې نذرانه ده او د دې خوشبو په هغهٔ
ښهٔ لګى. ۴۲ په راتلونکى ټولو وختونو کښې، دا سوزېدونکې
نذرانه زما د حضور خېمې د دروازې په خولهٔ کښې به پېش
کولے شى. چې هلته به تاسو د مالِک خُدائ سره ملاقات
وکړئ او تا سره به خبرې وکړى. ۴۳ هلته به بنى اِسرائيل
زما سره ملاقات وکړى او زما د حضور جلال به هغه ځائ
مقدس کړى. ۴۴ زهٔ به خېمه او قربانګاه مقدس کړم او زهٔ
به هارون او د هغهٔ زامن رابېل کړم چې د اِمامانو په توګه زما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خِدمت وکړی. ۴۵ زهٔ به د بنی اِسرائيلو په مينځ کښې
اوسيږم او زهٔ به د هغوئ خُدائ پاک يم. ۴۶ هغوئ ته به پته
ولګی چې زهٔ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک يم چا چې
هغوئ د مِصر د مُلک نه راوويستل چې زهٔ د هغوئ په مينځ
کښې اوسيږم. زهٔ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک يم.

## د خوشبويۍ قربان‌ګاه

۳۰ ۱ د خوشبويۍ سوزولو دپاره، د کيکر د لرګی نه يوه
قربان‌ګاه جوړه کړه. ۲ دا به څلورګوټه وی، چې اتلس
اِنچې اوږده، اتلس اِنچې پلنه او يو ګز اوچته وی. د ښکرو په
شان څلور ګوټونه ورله جوړ کړه چې ورسره يو ځائ شی.
۳ د هغې په چت، څلورو واړو طرفونو او د هغې د
ښکرونو په شان څيزونو باندې د سوچه سرو زرو پتری
وخيژوه او ګيرچاپيره ترې نه د سرو زرو غاړه شان تاو کړه.
۴ د وړلو دپاره دوه د سرو زرو ګول کړی ورله جوړې
کړه او لاندې يې دواړو طرفونو ته د غاړې سره وتړه چې هغه
بازوګان ونيسی چې د کومو په ذريعه دا وړلے شی. ۵
بازوګان د کيکر د لرګی نه جوړ کړه او په دې باندې د سرو
زرو پتری وخيژوه. ۶ دا قربان‌ګاه د هغې پردې نه بهر
کيږده کومه چې د لوظ صندوق مخې ته ځوړنده ده. دا هغه
ځائ دے چې چرته به زهٔ تا سره ملاقات کوم. ۷ هر سحر
وختی چې هارون کله د ډيوو تيارولو له راځی، هغه به په دې
باندې خوشبويۍ سوزوی. ۸ چې کله هغه په ماښام کښې
ډيوې بلوی نو هم دغه شان به کوی. دا د خوشبويۍ نذرانه به
په راتلونکی ټولو وختونو کښې جاری ساتلے شی. ۹ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې قربانګاه باندې حرامه خوشبوئی مۀ پېش کوئ او د يو
څناور نذرانه، يا د غلې نذرانه مۀ پېش کوئ او يا د څښلو څۀ
نذرانه هم په دې مۀ توېَوئ. ١٠ په کال کښې يو ځل به
هارون د قربانګاه د کفارې رسم ادا کوی، چې کله د ګناه
دپاره د قربان شوی څناور وينه د قربانګاه د ښکرو په شان
څيزونو باندې توېَولے شی نو دا پاکيږی. په راتلونکی ټولو
وختونو کښې به دا د کفارې رسم هر کال ادا کيږی. دا
قربانګاه به پوره مقدسه وی، ځکه چې دا ما مالِک خُدائ ته
وقف ده.“

## د مالِک خُدائ د حضور خېمې دپاره د کفارې محصُول

١١ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ١٢ ”کله چې تۀ د بنی
اِسرائيلو مردمشماری کوې، نو هر يو سړے به ما له د خپل
ژوند قيمت راکوی، چې کله مردمشماری کيږی، نو هيڅ بلا
به ورباندې نۀ راځی. ١٣ هر يو کس چې په دې مردمشمارئ
کښې شامليږی نو هغه به خامخا د منلے شوی معيار په
مطابق هغه مقرر شوے قيمت ورکوی. هر يو کس به دا
مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه ورکوی. ١۴ هر يو کس به
په دې مردمشمارئ کښې شميرلے شی، د هر يو کس عُمر
چې شل کاله يا د شلو کالو نه زيات وی، نو هغه به دا قيمت
ورکوی. ١۵ چې کله هغوئ مالِک خُدائ ته د خپل ژوند
قيمت ادا کوی نو مالدار او غريب به يو برابر ورکوی. ١۶ د
بنی اِسرائيلو نه د کفارې دا پيسې راټولوه او زما د حضور په
خېمه يې خرچ کوه. دا محصُول به د هغوئ د ژوند قيمت وی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زۀ، مالِک خُدائ به هغوئ ياد ساتم او د هغوئ حِفاظت به
کوم.“

## د زېړو ښانک

۱۷ او مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۱۸ ”د وينځلو
دپاره د زېړو يو ښانک جوړ کړه چې ببخ يې هم د زېړو وی.
دا د خېمې او د قربانګاه په مينځ کښې کېږده او په هغې
کښې اوبۀ واچوه. ۱۹ هارون او د هغۀ زامن به په دې اوبو
خپل لاسونه او پښې وينځی ۲۰ د هغې نه مخکښې چې
هغوئ خېمې ته ننوځی يا چې قربانګاه ته د خوراک نذرانه
پېش کولو دپاره نزدې کيږی. نو هغوئ به نۀ مرۀ کيږی. ۲۱
هغوئ دې خامخا خپل لاسونه او پښې وينځی، چې مرۀ نۀ
شی. دا يو قانون دے چې هغوئ او د هغوئ اولاد به همېشه
دپاره په دې عمل کوی.“

## د غوړولو تېل

۲۲ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۲۳ ”دا ښې
مصالحې واخله، شپږ کلو اوبۀ شوې خوشبوداره مُر، درې
کلو خوشبوداره دارچينی، درې کلو خوشبودار لرګے، ۲۴
او شپږ کلو د سناد د پاڼو مصالحه، دا ټول به د منلے شوی
معيار په مطابق تَللے شوی وی. څلور ليټره د زيتُونو تېل هم
ورسره مِلاو کړه، ۲۵ او د غوړولو مقدس تېل ترې نه جوړ
کړه، داسې يې مِلاو کړه لکه چې د عطرو والا دا کار کړے
وی. ۲۶ په دې باندې دا خيزونه غوړ کړه، زما د حضور
خېمه، د لوظ صندوق، ۲۷ مېز او د هغې ټول سامان، ډيوټ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغې سامان، د خوشبويۍ سوزولو قربانګاه، ۲۸ د
سوزېدونکې نذرانې قربانګاه، ورسره د هغې ټول سامان، او
د وينځلو ښانک او د دې بېخ هم په تېلو غوړ کړه. ۲۹ په دې
طريقه دا څيزونه وقف کړه او دا به ښېخى مقدس شى او هر
څوک يا هر څيز چې د دې سره ولګى نو هغه به هم مقدس
شى. ۳۰ بيا د هارون او د هغهٔ د زامنو سرونه په تېلو غوړ
کړه او زما په خِدمت کښې يې د اِمامانو په توګه مقرر کړه.
۳۱ بنى اِسرائيلو ته ووايه چې دا مقدس تېل به په راتلونکى
ټولو وختونو کښې زما په خِدمت کښې استعمالېږى. ۳۲ دا
به د يو عام سړى په بدن باندې نهٔ شى تويَولے او تاسو به د
دې په شان خوشبويۍ نهٔ جوړَوئ. دا مقدس دى او تاسو به
خامخا دا مقدس ګڼئ. ۳۳ کهٔ هر څوک د دې په شان
خوشبوئى جوړه کړى يا يې څوک د يو اِمام نه بغېر په بل چا
پورې ولګوى نو هغه به نور زما د خلقو نه نهٔ شى ګڼلے.“

## خوشبوئى

۳۴ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”د دې خوشبودارو
مصالحو يوه يوه برابره حِصه واخله، مُر، صدف، کنډ او
سوچه لوبان. ۳۵ د دې نه عطر جوړ کړه، دا داسې مِلاو
کړه لکه چې يو د عطرو والا دا کار کړے وى. مالګه په کښې
مِلاو کړه چې سوچه او مقدس وى. ۳۶ او د دې څهٔ حِصه
مېده مېده کړه، دا زما د حضور خېمې ته يوسه او دا د لوظ
صندوق مخې ته کېږده، هلته به زهٔ تا سره ملاقات وکړم. دا
پوره مقدس وګڼئ. ۳۷ د خپلو ځانونو دپاره داسې
خوشبوئى مهٔ جوړَوئ چې دا څيزونه په کښې په دې طريقه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

استعمال شوی وی. دا یو مقدس څیز او دا مالِک خُدائ ته
وقف وګڼئ. ۳۸ کۀ څوک داسې یو څیز هم جوړ کړی او د
عطرو په توګه يې استعمال کړی نو هغه به نور زما د خلقو نه
نۀ شی ګڼلے.“

## د مالِک خُدائ د حضور د خېمې جوړولو هُنرمند کسان

۳۱ ۱ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۲ ”ګوره،
ما د یهوداه قبیلې، بضلی‌ایل غوره کړے دے، چې د اوری
زوئ او د حُور نمسے دے، ۳ او ما هغه د خپل روح نه
ډک کړے دے. ما هغۀ له پوهه، هُنر او د هر قِسم هُنر په کار
کښې قابلیت ورکړے دے، ۴ د سرو زرو، سپینو زرو او د
زېړو ښائسته کار کولو، ۵ قیمتی کاڼی پرې کولو او
تیارولو، د لرګی کار کولو، او د هر قِسم د هُنر کار دپاره. ۶
او ګوره، ما اهلیاب هم خوښ کړے دے چې د اخیسمک
زوئ دے او د دان د قبیلې نه دے، چې هغوئ یو ځائ کار
وکړی. ما نورو ټولو هُنرمندو له هم لوئ قابلیت ورکړے
دے، چې هغوئ هغه څۀ جوړ کړی چې ما حُکم ورکړے
دے، ۷ یعنې زما د حضور خېمه، د لوظ صندوق او د
کفارې تخت چې وربانديې پروت دے، د خېمې نور ټول
سامان، ۸ مېز او د هغې سامان، د سوچه سرو زرو ډیوټ
او د هغې ټول سامان، د خوشبویۍ د سوزولو قربانګاه، ۹
د سوزېدونکې نذرانې قربانګاه او د هغې ټول سامان، د
وینځلو ښانک او د هغې بېخ، ۱۰ د هارون او د هغۀ د زامنو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره د اِمامانو ښائسته لِباس چې کله هغوئ د اِمامانو په
توګه خِدمت کوی نو دا دې استعمالوی، ١١ د غوړولو تېل
او د مقدس ځائ دپاره خوشبويۍ. دا څيزونه دې هم هغه
شان جوړ کړی چې څنګه ما تا ته حُکم کړے دے.“

## سبت، د آرام کولو ورځ

١٢ بيا مالِک خُدائ موسیٰ له حُکم ورکړو ١٣ چې، ”بنی
اِسرائيلو ته ووايه، تاسو د سبت، يعنې د آرام کولو ورځ منئ،
دا به په راتلونکی ټولو وختونو کښې زما او ستاسو په مينځ
کښې يوه نښه وی، چې تاسو ته پته ولګی چې ما مالِک خُدائ
تاسو خپل خلق جوړ کړئ. ١٤ تاسو خامخا د سبت ورځ
منئ، ځکه چې دا ستاسو دپاره مقدسه ده. چې څوک هم دا
نۀ منی او په هغه ورځ کار کوی، نو هغه دې ووژلے شی. او
څوک چې په هغه ورځ باندې کار کوی نو هغه به د بنی
اِسرائيلو نه نۀ شی ګڼلے. ١٥ ستاسو سره د خپل کار کولو
دپاره شپږ ورځې شته، خو اوومه ورځ د سبت يعنې د آرام
ورځ ده، هغه ما مالِک خُدائ ته وقف شوې ده. هر څوک چې
څۀ قِسم کار هم په هغه ورځ وکړی نو هغه دې ووژلے شی.
١٦ بنی اِسرائيل دې دا ورځ د لوظ د يوې نښې په توګه
هميشه دپاره منی. ١٧ دا به هميشه دپاره زما او د بنی
اِسرائيلو په مينځ کښې يوه نښه وی، ځکه چې ما مالِک
خُدائ په شپږ ورځو کښې آسمان او زمکه جوړ کړل او په
اوومه ورځ ما کار بس کړو او څۀ مې ونۀ کړل.“ ١٨ چې
کله خُدائ پاک د سينا په غرۀ باندې د موسیٰ سره خبرې
خلاصې کړې، نو هغۀ له يې هغه د کاڼی دوه تختې ورکړې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په کومو باندې خُدائ پاک په خپله حُکمونه ليکلی وُو.

## د سرو زرو سخے

٣٢ ١ چې کله خلقو وليدل چې موسىٰ د غرۀ نه راکوز
نۀ شو او ډېر وخت يې هلته تېر کړو، نو هغوئ په هارون
راغونډ شول او هغۀ ته يې ووئيل، ”مونږ نۀ پوهېږو چې په دې
سړی، موسىٰ څۀ وشول، چې مونږ يې د مِصر نه راوويستلو،
مونږ له معبودان جوړ کړه چې مونږ ته لارښودنه کوی.“ ٢
هارون هغوئ ته ووئيل، ”د خپلو ښځُو، زامنو او د خپلو لوڼو
نه د سرو زرو والۍ راوباسئ او ما له يې راوړئ.“ ٣ نو
ټولو خلقو خپلې د سرو زرو والۍ راوويستلې او هارون له يې
راوړې. ٤ هغۀ د هغوئ والۍ واخستلې، ويلې يې کړې او د
سخی په شکل يې يو بُت ترې نه جوړ کړو. هغوئ ووئيل،
”اے بنی اِسرائيلو، دا زمونږ خُدائ دے چې مونږ يې د مِصر
د مُلک نه راوويستلو.“ ٥ بيا هارون د سرو زرو سخی په
مخکښې يوه قربانګاه جوړه کړه او اِعلان يې وکړو، ”سبا به
د مالِک خُدائ دپاره اختر وی.“ ٦ بل سحر وختی هغوئ
څۀ څناور راوستل چې د سوزېدونکې نذرانې په توګه يې
قربان کړی او چې نور د خوړلو د سلامتۍ نذرانې په توګه
پېش کړی. هغه خلق د خوړلو او څښلو دپاره کښېناستل او
بيا هغوئ پاڅېدل، د مستۍ او عياشۍ سره ګډېدل. ٧ مالِک
خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ”سمدستی واپس لاندې کوز شه،
ځکه چې ستا هغه خلق د ګناه په وجه خراب شوی دی، چې
تا د مِصر نه راويستلی دی. ٨ چې په کومه لاره ما هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له د عمل کولو حُکم ورکړے وو هغوئ زر د هغې نه بې‌لارې
شوی دی، هغوئ د ویلې شوی سرو زرو نه سخے جوړ
کړے دے، د هغهٔ عبادت يې کړے دے او قربانئ يې ورته
پېش کړی دی. هغوئ وائی چې هغه يې خُدائ دے چا چې د
مِصر د مُلک نه راویستلی دی. ۹ ما ته پته ده چې هغوئ
څومره ضدی خلق دی. ۱۰ اوس، تهٔ ما مهٔ منعې کوه. زهٔ
هغوئ ته په قهر يم او هغوئ تباه کوم. بيا به زهٔ تا او ستا د
اولاد نه يو لوئ قوم جوړ کړم.“ ۱۱ خو موسىٰ مالِک خُدائ
خپل خُدائ پاک ته سوال کولو او ورته يې وفرمائيل، ”مالِکه
خُدايه، تهٔ ولې خپلو خلقو ته دومره په قهر يې، چې هغوئ دې
د خپل لوئ طاقت او خپل لوئ قُدرت سره د مِصر د مُلک
نه راوویستل؟ ۱۲ مِصريانو ته دې د پېغور کولو موقع مِلاو
شی څهٔ چې ووائی چې تا خپل خلق د مِصر نه د دې دپاره
راوويستل چې په غرونو کښې يې ووژنې او هغوئ بېخی تباه
کړې؟ خپل قهر بس کړه، خپله فيصله بدله کړه او په خپلو
خلقو دا تباهی مهٔ راوله. ۱۳ خپل خِدمت کوونکی اِبراهيم،
اِسحاق او يعقوب راياد کړه، تا چې د هغوئ سره کوم پوخ
لوظ کړے دے هغه راياد کړه چې هغوئ له به دومره ډېر
اولاد ورکړې چې په آسمان کښې څومره ستوری دی او چې
د هغوئ اولاد له به هغه ټول مُلک ورکوې چې تا يې وعده
کړې ده چې هغه به همېشه دپاره د هغوئ وی.“ ۱۴ نو
مالِک خُدائ خپله فيصله بدله کړه او په خپلو خلقو يې هغه
تباهی رانهٔ وستله د کومې په حقله وی چې هغهٔ فرمائيلی وُو.
۱۵ موسىٰ واپس د غرهٔ نه راکوز شو، د ځان سره يې هغه د
کاڼو دواړه تختې راوړې چې په دواړو مخونو يې حُکمونه
ليکلے شوی وُو. ۱۶ خُدائ پاک په خپله هغه تختې تيارې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړې وې او حُکمونه يې ورباندې لیکلی وُو. ۱۷ چې خلقو
چغې وهلې نو يشوَع د خلقو شور واورېدو او موسىٰ ته يې
وفرمائيل، ”په خېمو کښې د جګړې شور دے.“ ۱۸ موسىٰ
وفرمائيل، ”دا نۀ د فتحې او نۀ د شکست آواز معلومېږی، زۀ
چې څۀ اورم دا د هغوئ د سندرو آواز دے.“ ۱۹ چې کله
موسىٰ خېمو ته نښۀ رانزدې شو او هغه سخے او د خلقو
ګډېدل يې وليدل، نو سخت په قهر شو. هغۀ چې کومې تختې
روانې کړې وې هغه يې هلته د غرۀ په لمن کښې وغورزولې
او ماتې يې کړې. ۲۰ هغوئ چې کوم سخے جوړ کړے وو
هغه يې راواخستلو، په اور يې ويلې کړو او د اوړو په شان يې
مېده مېده کړو او په اوبو کښې يې واچولو. بيا هغۀ دا په بنی
اِسرائيلو باندې وڅښلو. ۲۱ هغۀ هارون ته وفرمائيل، ”دې
خلقو درباندې څۀ کړی دی، چې په دومره سخته ګناه دې
آخته کړی دی؟“ ۲۲ هارون ورته وفرمائيل، ”زما نيکه، ما ته
مۀ په قهر کېږه، تا ته پته ده چې دا خلق څومره بدکاره دی.
۲۳ هغوئ ما ته ووئيل چې مونږ ته پته نشته چې په دې
سړی، موسىٰ باندې څۀ شوی دی، چې مونږ يې د مِصر مُلک
نه راوويستلو، راځئ، چې معبودان جوړ کړُو چې مونږ ته
لاربښودنه کوی. ۲۴ ما هغوئ ته ووئيل چې ما له خپل د
سرو زرو کالی راوړئ او چې د چا سره وُو نو هغه يې
راوويستل او ما له يې راکړل. ما هغه کالی په اور کښې
واچول او دا سخے ترې نه پخپله جوړ شو.“ ۲۵ موسىٰ
وليدل چې هارون هغه خلق خپلې خوښې ته پرېښی وُو او د
قابو نه يې وتلی وُو او د خپلو دشمنانو په مخکښې يې خپل
ځانونه شرمولی وُو. ۲۶ موسىٰ د خېمو ځائ د دروازې په
خولۀ کښې ودرېدلو او آواز يې وکړو، ”هر څوک چې د مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ سره وی، ما له دې راشی." نو ټول ليويان هغۀ ته
راغونډ شول، ۲۷ نو هغۀ ورته وفرمائيل، "مالِک خُدائ، د
بنی اِسرائيلو خُدائ پاک تاسو هر يو کس ته دا حُکم کوی
چې خپله تُوره راوياسئ او د خېمو د يو سر نه تر بل سره
پورې ځئ او هر يو کس دې خپل ورونړه، خپل دوستان او
خپل ګاونډيان ووژنئ." ۲۸ ليويانو د موسیٰ خبره ومنله او
تقريباً درې زره کسان يې په هغه ورځ ووژل. ۲۹ موسیٰ
ليويانو ته ووئيل، "نن تاسو خپل ځانونه د مالِک خُدائ په
خِدمت کښې د اِمامانو په توګه وقف کړی دی، چې تاسو
خپل زامن او ورونړه ووژل، نو مالِک خُدائ تاسو له خپل
برکت درکړے دے." ۳۰ په وړپسې ورځ موسیٰ خلقو ته
وفرمائيل، "تاسو يوه لويه ګناه کړې ده. خو زۀ به يو ځل بيا
مالِک خُدائ له غرۀ ته وخېژم، کېدے شی چې زۀ ستاسو د
ګناه کفاره ادا کړم." ۳۱ نو موسیٰ واپس مالِک خُدائ ته
ورَغلو او وې فرمائيل، "افسوس، دې خلقو يوه لويه ګناه
کړې ده. هغوئ د سرو زرو نه خُدائ جوړ کړے دے او د
هغۀ عبادت يې کړے دے. ۳۲ اوس زۀ تا ته سوال کوم چې
د هغوئ ګناه معاف کړه، خو کۀ تا داسې ونۀ کړل، نو بيا تۀ
زما نوم د هغه کِتاب نه وران کړه چې په هغې کښې دې د
خپلو خلقو نومونه ليکلی دی." ۳۳ مالِک خُدائ موسیٰ ته
وفرمائيل، "زۀ به د خپل کِتاب نه د هغوئ نومونه وران کړم
چا چې زما خِلاف ګناه کړې ده. ۳۴ اوس لاړ شه، خلق هغه
ځائ ته بوځه کوم چې ما درته ښودلے دے. او ګوره، زما
فرښته به ستا لاربښودنه کوی، خو هغه وخت راروان دے چې
زۀ به دې خلقو له د هغوئ د ګناه سزا ورکړم." ۳۵ نو
مالِک خُدائ په هغه خلقو يو وبا راوليږله، ځکه چې د هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په وجه هارون د سرو زرو سخے جوړ کړے وو.

## د مالِک خُدائ د سينا غرۀ نه د تلو حُکم ورکول

٣٣ ١ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”تۀ او دا
خلق چې تا د مِصر د مُلک نه راوويستل، د دې ځائ نه لاړ
شئ او هغه زمکې ته لاړ شئ د کومې چې ما اِبراهيم، اِسحاق
او يعقوب او د هغوئ اولاد له د ورکولو لوظ کړے دے. ٢
زۀ به ستاسو نه مخکښې يوه فرښته ولېږم او زۀ به کنعانيان،
اموريان، حِتيان، فرزيان، حِويان او يبوسيان وشړم. ٣
تاسو هغه زرخېزې زمکې له ورروان شئ. خو زۀ به په خپله
تاسو سره نۀ ځم، ځکه چې تاسو ضدی خلق يئ او کېدے
شی چې زۀ تاسو په لاره کښې تباه کړم.“ ٤ چې کله خلقو
دا واورېدل، نو هغوئ په ژړا شروع وکړه او هغوئ نور کالی
اچول بند کړل. ٥ ځکه چې مالِک خُدائ موسیٰ ته
فرمائيلی وُو چې هغوئ ته ووايه چې، ”تاسو ضدی خلق يئ.
کۀ زۀ د لږ وخت دپاره هم ستاسو سره تلے وے، نو ما به
تاسو تباه کړی وئ. اوس خپل کالی لرې کړئ، نو زۀ به
فيصله وکړم چې ستاسو سره څۀ چل وکړم.“ ٦ چې کله
اِسرائيليان د سينا غرۀ نه لاړل، نو هغوئ نور کالی اچول بس
کړل.

## د مالِک خُدائ د حضور خېمه

٧ چې کله به هم بنی اِسرائيلو خېمې ودرولې، نو موسیٰ به
مقدسه خېمه وړله او د خېمو د ځائ نه لرې لرې به يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ودروله. او هغې ته به يې ”د مالِک خُدائ د حضور خېمه“
نوم اخستلو او چې چا به هم د مالِک خُدائ رضا معلومول
غوښتل نو هغه به ورتللو. ٨ چې کله به هم موسیٰ هلته
تللو، نو خلق به پاڅېدل او د خپلو خېمو په خولهٔ کښې
ودرېدل او موسیٰ ته به يې تر هغې پورې کتل چې ورننه به
وتلو. ٩ څنګه چې به موسیٰ دننه تلو نو د ورېځې ستن به
لاندې راتله او د خېمې د دروازې په خولهٔ کښې به ودرېدله او
مالِک خُدائ به د ورېځې نه د موسیٰ سره خبرې کولې. ١٠
چې څنګه به خلقو د خېمې د دروازې په خولهٔ کښې د ورېځې
ستن وليدله، نو هر يو کس به پاڅېدلو او د خپلې خپلې خېمې
د دروازې په خولهٔ کښې به يې سجده کوله. ١١ مالِک خُدائ
به د موسیٰ سره مخامخ خبرې کولې، لکه چې يو کس يې د
خپل ملګرى سره کوى. بيا به موسیٰ خېمو ته واپس راتلو.
خو هغه زلمے، د نون زوئ، يشوَع چې د هغهٔ مددګار وو،
هغه به په خېمه کښې ايسارېدلو.

## د حضرت موسیٰ د مالِک خُدائ سره خبرې کول

١٢ موسیٰ مالِک خُدائ ته وفرمائيل، ”ګوره، تا ما ته
فرمائيلى دى چې دا خلق به هغه زمکې ته بوځم، خو تا ما ته
دا ونهٔ فرمائيل چې زما سره به تهٔ څوک لېږې. تا ما ته
فرمائيلى دى چې تا زهٔ ښهٔ پېژنم او ستا نه رضا يم. ١٣
اوس زهٔ تا ته سوال کوم، تهٔ ما ته خپلې ارادې وښايه چې زهٔ
ستا خِدمت وکړم او تا رضا کړم. دا هم ياد ساته چې تا دا
قوم خپل خلق ګڼلى دى.“ ١٤ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”زهٔ به
په خپله تا سره ځم او زهٔ به تا له آرام درکړم.“ ١٥ موسیٰ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته وفرمائيل، ”کهٔ تهٔ مونږ سره نهٔ ځې، نو مونږ د دې ځائ
نه مهٔ بوځه. ۱۶ چې تهٔ مونږ سره نهٔ ځې نو چا ته به څنګه
پته ولګی چې تهٔ د خپلو خلقو او زما نه رضا یې؟ تهٔ چې مونږ
سره یې، نو چې د زمکې په مخ څومره خلق دی د هغوئ نه به
مونږ بل شان شُو.“ ۱۷ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل،
”زهٔ به هم هغه شان وکړم لکه چې تا څنګه وئیلی دی، ځکه
چې تا زهٔ ښهٔ پېژنم او زهٔ ستا نه رضا یم.“ ۱۸ بیا موسیٰ
وفرمائيل، ”ما له اجازت راکړه چې زهٔ ستا د حضور جلال
ووینم.“ ۱۹ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”زما شان او شوکت به
ستا په مخکښې تېر شی او ستا په مخکښې به زهٔ خپل مقدس
نوم واخلم کوم چې مالِک خُدائ دے. زهٔ مالِک خُدائ یم او
څوک چې زهٔ غوره کړم زهٔ هغوئ ته خپل رحم او ترس
ښایم. ۲۰ تهٔ به زما دیدار ونهٔ کړې، ځکه چې دا نهٔ شی
کېدے چې څوک ما وګوری او ژوندی پاتې شی، ۲۱ خو
ګوره، زما سره نزدې یو ځائ دے، تهٔ هلته په یو ګټ باندې
ودرېدے شې. ۲۲ کله چې زما د حضور جلال هلته
تېرېږی، نو زهٔ به تا د ګټ په یو غټ چاود کښې واچوم او زهٔ
به تا په خپل لاس سره تر هغې پورې پټ کړم چې تېر شم.
۲۳ بیا به زهٔ خپل لاس لرې کړم او تهٔ به زما شا ووینې خو
زما مخ به نهٔ لیدلے کیږی.“

## د کاڼو نوې تختې

۳۴ ۱ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”د اولنو په
شان دوه د کاڼی تختې جوړې کړه او زهٔ به په هغې باندې هم
هغه حُکمونه لیکم کوم چې په اولنو تختو باندې وُو، کومې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تا ماتې کړې وې. ۲ سبا سحر تيار شه او د سينا غرۀ
ته راوخېژه او د غرۀ په سر ما ته حاضر شه. ۳ هيڅ څوک
به تا سره نۀ راخېژی، په ټول غرۀ باندې چې يو کس هم ونۀ
ليدلے شی، او نۀ چې د غرۀ په لمن کښې ګډې يا څاروی
وڅرېږی.“ ۴ نو موسیٰ د اولنو په شان دوه د کاڼو نورې
تختې جوړې کړې او سحر وختی هغۀ دا د سينا غرۀ ته د
ځان سره وخېژولې، لکه څنګه چې مالِک خُدائ حُکم
ورکړے وو. ۵ او مالِک خُدائ په وريځ کښې راکوز شو او
د هغۀ سره هلته ودرېدلو او خپل مقدس نوم ”مالِک خُدائ“
يې واخستلو. ۶ مالِک خُدائ د هغۀ په مخکښې تېر شو او
دا آواز يې وکړو، ”زۀ، مالِک خُدائ، هغه خُدائ پاک يم چې
د رحم او ترس نه ډک يم، په آسانئ سره نۀ غصه کېږم او
ډېره مينه او وفاداری ښايم. ۷ زۀ د خپلو خلقو د زرګونو
نسلونو سره نۀ بدلېدونکې مينه کوم او زۀ بدی، بغاوت او
ګناه هم معاف کوم. خو زۀ مجرم نۀ معاف کوم خو کۀ
څوک جرم وکړی نو زۀ به د هغوئ بچو، نمسو درېم او
څلورم نسل له هم سزا ورکوم.“ ۸ موسیٰ سمدستی خپل
سر زمکې ته ټيټ کړو او سجده يې وکړه. ۹ هغۀ
وفرمائيل، ”اے مالِکه خُدايه، کۀ تۀ په رښتيا زما نه رضا يې
زۀ تا ته سوال کوم چې تۀ مونږ سره لاړ شه. زمونږ دا خلق
ضديان دی،خو زمونږ بدی او ګناه معاف کړه او مونږ د
خپلو خلقو په توګه قبول کړه.“

## د لوظ نوی کېدل

۱۰ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”اوس زۀ د بنی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائیلو د خلقو سره یو لوظ کوم. زهٔ به د دوئ په مخکښې
داسې عجیبه عجیبه کارونه وکړم چې په ټوله دُنیا کښې به په
یو ځائ کښې او په یو قوم کښې کله هم نهٔ وی شوی. ټول
خلق به وګوری چې زهٔ، مالِک خُدائ څهٔ عجیبه کارونه
کولے شم،ځکه چې زهٔ ستاسو دپاره لوئ لوئ کارونه
کوونکے یم. ١١ نن چې زهٔ تاسو له کوم قانون درکوم هغه
ومنئ. چې تاسو مخ په وړاندې ځئ نو زهٔ به اموریان،
کنعانیان، حِویان، فرزیان، حِتیان او یبوسیان ستاسو د مخې
نه لرې کړم. ١٢ پام کوئ چې د هغه زمکې د خلقو سره
لوظ ونهٔ کړئ چې تاسو ور روان یئ، ځکه چې دا به ستاسو
دپاره یو دام جوړ شی. ١٣ د هغوئ د قربانۍ ځایونه وران
کړئ، د هغوئ مقدسې ستنې تباه کړئ او هغوئ له د اشیرې
د بُت نښې راوغورزوئ. ١۴ د بل خُدائ عبادت مهٔ کوئ،
ځکه چې د مالِک خُدائ نوم غیرتی دے، هغه غیرتی خُدائ
پاک دے. ١۵ د هغه زمکې د خلقو سره چې لوظ ونهٔ کړئ،
ځکه چې کله هغوئ د خپلو معبودانو عبادت کوی او هغوئ
ته قربانۍ پیش کوی، نو تاسو له به هم دعوت درکړی چې د
هغوئ سره شریک شئ، او تاسو به په آزمېښت کښې
پرېوځئ او خوراک به اوخورئ کوم چې هغوئ خپلو
معبودانو ته پیش کوی. ١۶ کېدے شی چې د هغوئ لونه
تاسو خپلو زامنو ته وادهٔ کړئ، نو د هغوئ په وجه به ستاسو
زامن نافرمانه شی او د هغوئ به د معبودانو عبادت شروع
کړی. ١٧ د ویلې کړے شوو څیزونو نه معبودان مهٔ جوړَوئ
او مهٔ یې عبادت کوئ. ١٨ تاسو د پتیرې روټۍ اختر کوئ.
لکه څنګه چې ما حُکم درکړے دے، د ابیب په میاشت کښې
اووهٔ ورځې پتیره روټۍ خورئ، ځکه چې دا هغه میاشت ده

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تاسو په کښې د مِصر نه راووتلئ. ۱۹ هر يو مشر زوئ
او هر وړومبے پيدا شوے نر څاروے زما دے، ۲۰ خو
تاسو به د هر يو وړومبنى پيدا شوى خر په بدل کښې يو
ګډُورے پيش کوئ. خو کۀ تاسو دا واپس نۀ اخلئ، نو څټ
يې مات کړئ. هر يو وړومبے پيدا شوے زوئ به په بيعه
اخلئ. هيڅ څوک به زما په حضور کښې خالى لاسونه نۀ
حاضريږى. ۲۱ ستاسو سره شپږ ورځې شته چې په هغې
کښې خپل کار کولے شئ، خو په اوومه ورځ کار مۀ کوئ، د
يوې او د لَو په وخت هم تاسو په اوومه ورځ آرام کوئ. ۲۲
چې کله تاسو د غنمو وړومبنے فصل ريبل شروع کوئ نو د
لَو کولو اختر کوئ او په خزان کښې د فصل راټولولو اختر
کوئ. ۲۳ په کال کښې درې ځل ستاسو ټول نران دې زما
مالِک خُدائ، د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک عبادت له راځى.
۲۴ د هغې نه پس چې کله زۀ قومونه ستاسو د مخې نه لرې
کړم او ستاسو علاقه زياته کړم، نو د دې درېو اخترونو په
دوران کښې به د هيچا دا طمع پيدا نۀ شى چې ستاسو زمکه
ونيسى. ۲۵ کله چې تاسو ما ته يو ځناور قربانى کوئ نو
خميره شوې روټۍ ورسره مۀ پيش کوئ. کوم ځناور چې د
فسحې په اختر کښې حلال شوى وى نو د هغې يوه برخه هم د
بل سحر پورې مۀ پريږدئ. ۲۶ هر کال د مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک کور ته د خپلې زمکې نه ريبلے شوې
وړومبۍ غله راوړئ. د چېلۍ بچے د خپلې مور په پيو کښې
مۀ پخوئ.“ ۲۷ مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ”دا خبرې
وليکه، ځکه چې د دې حُکمونو په بنياد باندې زۀ ستا او د
بنى اِسرائيلو سره يو لوظ کوم.“ ۲۸ موسىٰ هلته د مالِک
خُدائ سره څلويښت ورځې او شپې ايسار شو، هغۀ نۀ څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوړل او نهٔ يې څهٔ څښل. هغهٔ په هغه تختو باندې د لوظ
خبرې يعنې لس حُکمونه وليکل.

## د حضرت موسىٰ د سينا غرهٔ نه راکوزېدل

۲۹ چې کله موسىٰ د لسو حُکمونو د دوو تختو سره د سينا
غرهٔ نه راکوز شو، نو د هغهٔ مخ ځلېدلو ځکه چې هغهٔ د مالِک
خُدائ سره خبرې کړې وې، خو هغه ترې نه خبر نهٔ وو. ۳۰
هارون او ټولو خلقو موسىٰ ته وکتل او وې ليدل چې د هغهٔ
مخ ځلېدلو او هغوئ موسىٰ له نزدې ورتلو نه يرېدل. ۳۱ خو
موسىٰ هغوئ راوغوښتل، نو هارون او د قوم مشران هغهٔ له
راغلل او موسىٰ د هغوئ سره خبرې وکړې. ۳۲ د هغې نه
پس، ټول بنى اِسرائيل د هغهٔ نه راټول شول او موسىٰ هغوئ
له هغه ټول حُکمونه ورکړل کوم چې مالِک خُدائ د سينا په
غرهٔ باندې ورکړى وُو. ۳۳ چې کله موسىٰ د هغوئ سره
خبرې ختمې کړې، نو هغهٔ په پړده باندې خپل مخ پټ کړو.
۳۴ چې کله هم موسىٰ د مالِک خُدائ د حضور خېمې ته
ننوتلو، نو هغهٔ به پړده لرې کوله. او چې هغه به راووتلو، نو
بنى اِسرائيلو ته به يې هغه هر څهٔ وفرمائيل چې هغهٔ له به يې د
وئيلو حُکم ورکړے شوے وو، ۳۵ او هغوئ به دا ليدل چې
د موسىٰ مخ ځليږى. نو هغهٔ به په خپل مخ واپس هغه پړده
اچوله تر هغه وخته پورې چې بل ځل به هغه د مالِک خُدائ
سره خبرو کولو له تلو.

## د سبت ورځ دپاره اصُول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۵ ۱ بیا موسیٰ د بنی اِسرائیلو ټول قوم راغونډ کړو او
هغوئ ته يې وفرمائيل، ”تاسو به د مالِک خُدائ په دې
حُکمونو باندې عمل کوئ. ۲ د خپل کار دپاره ستاسو سره
شپږ ورځې شته، خو اوومه د سبت مقدسه ورځ يعنې د آرام
ورځ ده، هغه ما مالِک خُدائ ته وقف شوې ده. هر څوک چې
څۀ قِسم کار هم په هغه ورځ وکړی نو هغه دې ووژلے شی.
۳ د سبت په ورځ په خپلو کورونو کښې اور هم مۀ بلوئ.“

## د مقدسې خېمې دپاره سامان راجمع کېدل

۴ موسیٰ د بنی اِسرائيلو ټول قوم ته وفرمائيل، ”مالِک
خُدائ د دې حُکم کړے دے چې، ۵ مالِک خُدائ ته يوه
نذرانه پېش کړئ. د چا زړۀ چې غواړی نو داسې څيزونه په
نذرانه کښې راوړلے شی لکه سرۀ زر، سپين زر، يا زېړ، ۶
کتان، د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ وړی، د چېلو
د وړی نه جوړه شوې کپړه، ۷ سره رنګ شوې د ګډو
څرمن، ښۀ څرمن، د کيکر لرګی، ۸ د ډيوو دپاره تېل، او د
غوړولو تېلو دپاره د خوشبويۍ مصالحې، ۹ اونيکس کاڼی
او نور قيمتی کاڼی چې د مشر اِمام په پېش بند او د هغۀ د
سينې په جيب ولګولے شی.

## د مالِک خُدائ د حضور خېمې دپاره سامان

۱۰ ستاسو ټول کسبګر دې راشی او هغه هر څۀ دې جوړ
کړی د کوم چې مالِک خُدائ حُکم درکړے دے، ۱۱ يعنې
خېمه، د دې پړده او د دې پاسنۍ پړده، د دې کُنډې،
چوکاټونه، د دې درشلې، ستنې او د دې پښې، ۱۲ د لوظ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صندوق، د دې بازوګان، د دې د کفارې تخت او هغه پړده
چې وربانديې پټيږي، ۱۳ ميز او د هغې ټول سامان، خُدائ
پاک ته پيش کړے شوې روټئ، ۱۴ د رڼا دپاره ډيوټ او د
دې ټول سامان، ډيوې سره د تيلو، ۱۵ د خوشبويئ سوزولو
دپاره قربانګاه او د دې بازوګان، د غوړولو تيل، د خوشبويئ
مصالحه، خېمې ته د ننوتلو دروازې دپاره پړده، ۱۶
قربانګاه چې په کومه باندې نذرانې سوزولے شي، ورسره د
دې د زيړو جالئ، د دې بازوګان او د دې ټول سامان، د
وينځلو دپاره ښانک او د دې بيخ، ۱۷ د دربار دپاره پړدې،
د دې ستنې او پيښې، دربار ته د ننوتلو دپاره پړده، ۱۸ د
خېمې او د دربار د پړدو دپاره موږئ او رسئ، ۱۹ او د
اِمامانو ښائسته لِباس چې په مقدس ځائ کښې د خِدمت په
وخت اغوستلے شي يعنې د هارون او د هغهٔ د زامنو دپاره
مقدس لِباس چې د اِمامانو په توګه خِدمت کوي.“

## د خلقو نذرانې راوړل

۲۰ د بنی اِسرائيلو ټول قوم د موسىٰ د حضور نه لاړو، ۲۱
او چې د چا زړهٔ هم غوښتل نو هغوئ مالِک خُدائ ته يوه
نذرانه راوړه چې د مالِک خُدائ د حضور خېمه جوړه شي.
هغوئ هغه هر څيز راوړو د کوم چې په عبادت کښې او د
اِمامانو دپاره مقدس لِباس جوړولو کښې ضرورت وو. ۲۲
چې د چا زړهٔ هم غوښتل، ټولو نرانو او ښځو ښائسته ستنې،
والئ، ګوتې، امېلونه او د هر قِسم د سرو زرو کالي راوړل او
مالِک خُدائ ته يې وقف کړل. ۲۳ هر يو کس چې د هغهٔ
سره کتان وو، د آسماني رنګ، کاسني، يا د سور رنګ وړئ،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د چېلو د وړۍ نه جوړه کپړه، سره رنګ شوې د ګډو څرمن،
يا ښۀ څرمن وه نو راوړې وړل. ۲۴ د هر چا هم چې د سپينو
زرو يا د زيړو د پېش کولو وس وو نو هغوئ د مالِک خُدائ
دپاره خپلې نذرانې راوړې او چې د چا سره د کيکر لرګى وُو
چې هغه د څۀ کار دپاره هم استعمالېدلے شو نو راوړې وړل.
۲۵ ټولو کسبګرو ښځو د کتان تار او آسمانى رنګه، کاسنى
او د وړۍ سور تار راوړلو چې هغوئ په خپله جوړ کړے وو.
۲۶ ټولو کسبګرو ښځو چې د هغوئ زړۀ غوښتل د چېلو د
وړۍ نه جوړه کپړه يې هم راوړه. ۲۷ مشرانو اونيکس کاڼى
او نور قيمتى کاڼى راوړل چې په پېش بند او د سينې په جيب
يې ولګوى. ۲۸ او مصالحې او د ډيوو دپاره تېل، د غوړولو
تېل او د خوشبويۍ مصالحې يې هم راوړې. ۲۹ ټولو بنى
اِسرائيلو، نرانو او ښځو چې د چا زړۀ هم غوښتل مالِک
خُدائ ته يې د هغه کار دپاره خپلې نذرانې راوړې چې مالِک
خُدائ موسىٰ ته حُکم ورکړے وو.

## د حضرت موسىٰ ماهِر کسان مقررول

۳۰ موسىٰ بنى اِسرائيلو ته وفرمائيل، ”مالِک خُدائ د يهوداه
د قبيلې بضلى‌ايل غوره کړے دے، چې د اورى زوئ او د
حُور نمسے دے. ۳۱ هغه خُدائ پاک د خپل روح نه ډک
کړے دے او هغۀ له يې پوهه، هُنر او د هر قِسم هُنر په کار
کښې قابليت ورکړے دے، ۳۲ د سرو زرو، سپينو زرو او
زيړو ښائسته کار کولو دپاره، ۳۳ د قيمتى کاڼى پرې کولو
او تيارولو، د لرګى کار کولو، او د هر قِسم د هُنر کار دپاره.
۳۴ مالِک خُدائ هغۀ له او د دان قبيلې، د اخيسمک زوئ
اهلياب له هم دا قابليت ورکړے دے چې خپل د هُنر کارونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نورو ته وښائی. ۳۵ هغۀ هغوئ له په هر قِسم کار کښې
مهارت ورکړے دے چې هغوئ د زرګرانو، د ماهِرانو او د
کتان، د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ وړی، او د
نورې کپړې د جوړونکی په توګه کار وکړی. هغوئ د هر قِسم
کار مهارت لرونکی کاريګران او د نوؤ څيزونو جوړولو
اُستاذان دی.

# ۳۶

۱ بضلیایل، اهلیاب او نورو ټولو ماهِرو کسانو له
مالِک خُدائ مهارت او پوهه ورکړې ده چې هغوئ هغه هر
څۀ د مالِک خُدائ د حُکم په مطابق جوړ کړی چې په مقدسه
خيمه کښې يې ضرورت وی."

## د خلقو ډيرې زياتې نذرانې راوړل

۲ بيا موسیٰ بضلیایل، اهلیاب او نور ټول ماهِر کسان
راوغوښتل چا له چې مالِک خُدائ قابليت ورکړے وو او چې
د هغوئ زړۀ غوښتل چې کار وکړی او موسیٰ ورته وفرمائيل
چې کار شروع کړئ. ۳ هغوئ د موسیٰ نه هغه ټولې نذرانې
اخستلې کومې چې بنی اِسرائيلو د مقدسې خيمې جوړولو
دپاره راوړې وې. خو بنی اِسرائيلو به هر سحر خپلې نذرانې
موسیٰ له راوړلې. ۴ نو هغه ماهِر کسان د خپل کار نه
لاړل. ۵ او موسیٰ ته يې ووئيل، "مالِک خُدائ چې د کوم
کار کولو حُکم کړے دے خلق د هغه ضرورت نه زياتې
نذرانې راوړی." ۶ نو موسیٰ اِعلان وکړو چې دا پيغام دې
ټولو خيمو ته ورسولے شی چې نور به هيڅ څوک د مقدسې
خيمې دپاره هيڅ هم نۀ راوړی، نو خلق د نورو نذرانو راوړلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه منع کړے شول. ۷ کوم سامان چې د مخکښې نه
راوړلے شوے وو هغه د ټول کار ختمولو نه هېر زيات وو.

## د مالِک خُدائ د حضور خيمې جوړېدل

۸ د ټولو نه تکړه کسانو د مالِک خُدائ د حضور خيمه
جوړه کړه. هغوئ دا د مهينې لټې د لسو پړدو نه جوړه کړه
چې د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ وړی نه جوړې
وې او په دې باندې په ګُلکاری کښې د وزرو والا مخلوق جوړ
کړے شوے وو. ۹ ټولې پړدې په يو ناپ وې، هره يوه
څوارلس ګزه اوږده او دوه ګزه پلنه وه. ۱۰ هغوئ پينځۀ
پړدې يو ځائ وګنډلې او هغه نورې پينځۀ يې هم يو ځائ
وګنډلې. ۱۱ هغوئ په هره جوړه کښې د پړدې په بهرنۍ غاړه
د آسمانی رنګ د کپړې کَړۍ جوړې کړې. ۱۲ هغوئ د
وړومبۍ جوړې په وړومبۍ پړده پنځوس کَړۍ او پنځوس
کَړۍ د دوېمې جوړې په آخری پړده جوړې کړې چې دا کَړۍ
يو بل ته مخامخ وې. ۱۳ پنځوس د سرو زرو کُنډې يې
جوړې کړې او هغه پړدې يې د يوې بلې سره مِلاو کړې نو
داسې ټوله مقدسه خيمه يو ځائ شوه. ۱۴ بيا هغوئ د چېلو
د وړۍ نه جوړې شوې يوولس پړدې واخستلې او د خيمې
پټولو دپاره يې يوه پړده ترې نه جوړه کړه. ۱۵ هغوئ دا
ټولې په يو ناپ جوړې کړې چې پينځلس ګزه اوږدې او دوه
ګزه پلنې وې. ۱۶ هغوئ پينځۀ پړدې يو ځائ وګنډلې او هغه
نورې شپږ يې هم يو ځائ وګنډلې. ۱۷ د يوې جوړې د
آخری پړدې په غاړه يې پنځوس کَړۍ جوړې کړې او د هغه
بلې جوړې په غاړه يې هم پنځوس کَړۍ جوړې کړې. ۱۸

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ د زېړو پنځوس کُنډې جوړې کړې او هغه يې په کړو
کښې واچولې چې هغه دوه جوړې يې سره مِلاو کړې نو
داسې خېمه وتړلے شوه. ۱۹ هغوئ دوه نورې پردې هم
جوړې کړې، يوه پرده يې د ګډو د څرمنې نه چې سور رنګ
ورکړے شوے وو او بله يې د ښې څرمنې نه جوړه کړه، چې
د پاس نه پرې خېمه پټه کړے شى. ۲۰ هغوئ د خېمې د
ودرولو دپاره د کيکر د لرګى چوکاټونه جوړ کړل. ۲۱ هر يو
چوکاټ پينځلس فټه اوږد وو او اوويشت اِنچې پلن وو، ۲۲
سره د دوه يو شان تختو، چې دا چوکاټونه په خپلو کښې
ونښلوى. د ټولو چوکاټونو دا تختې وې. ۲۳ هغوئ د خېمې
جنوبى طرف دپاره شل چوکاټونه جوړ کړل ۲۴ او
څلوېښت د سپينو زرو پښې چې ورلاندې شى، د هر يو
چوکاټ لاندې دوه دوه پښې چې هغه دوه وړاندينى حِصې يې
نيولې وې. ۲۵ هغوئ د خېمې شمالى طرف دپاره هم شل
چوکاټونه جوړ کړل ۲۶ او څلوېښت د سپينو زرو پښې، چې
د هر يو چوکاټ لاندې دوه دوه وې. ۲۷ د نمرپرېواتۀ په
طرف خېمې شا ته هغوئ شپږ چوکاټونه جوړ کړل ۲۸ او
دوه چوکاټونه يې د خېمې د ګوټونو دپاره هم جوړ کړل. ۲۹
د ګوټونو دا چوکاټونه په ښيخ کښې مِلاو وُو او د لاندې نه
واخله تر سر پورې خپلو کښې انښتى وُو. دا دوه چوکاټونه
هم د ګوټونو د دوه چوکاټونو په شان جوړ شوى وُو. ۳۰ نو
اتۀ چوکاټونه او شپاړس د سپينو زرو پښې وې، چې د هر
چوکاټ لاندې دوه دوه وې. ۳۱ هغوئ د کيکر د لرګى نه
پينځلس لاړى جوړ کړل، پينځۀ د خېمې د هغو چوکاټونو
دپاره چې په يو طرف باندې وُو، ۳۲ پينځۀ د هغو چوکاټونو
دپاره چې په بل طرف باندې وُو او پينځۀ د هغه چوکاټونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره چې نمرخاتهٔ په طرف شا ته په آخر سر کښې وُو. ۳۳
تير د يو سر نه تر بل سره پورې پوره رسېدلے وو. ۳۴
هغوئ په چوکاټونو د سرو زرو پترى خېژولى وُو او د سرو
زرو کَړۍ يې ورله جوړې کړې وې چې لاړى ونيسى، په لاړو
باندې هم د سرو زرو پترى خېژولے شوى وُو. ۳۵ هغوئ د
کتان نه يوه پړده جوړه کړه چې د آسمانى، کاسنى او د سور
رنګ وړۍ نه تياره شوې وه او په دې باندې يې په ګُلکارۍ
کښې د وزرو والا مخلوق جوړ کړے وو. ۳۶ هغوئ د کيکر
د لرګى نه څلور ستنې جوړې کړې چې پړده په کښې په کُنډو
کښې راځوړنده شى، په دې ستنو باندې د سرو زرو پترى
خېژولے شوى وُو. بيا هغوئ څلور د سپينو زرو پښې ورله
جوړې کړې چې ستنې ونيسى. ۳۷ هغوئ د خېمې د ننوتلو
دروازې دپاره د کتان نه يوه پړده جوړه کړه چې د آسمانى،
کاسنى او د سور رنګ وړۍ نه تياره شوې وه او چې په
ګُلکارۍ باندې ښائسته کړے شوې وه. ۳۸ د دې پړدې
دپاره هغوئ پينځهٔ ستنې جوړې کړې چې کُنډې په کښې
لګېدلې وې، د دې په سرونو او سيخونو د سرو زرو پترى
خېژولے شوى وُو او د دې ستنو دپاره يې پينځهٔ د زېړو پښې
جوړې کړې.

## د لوظ صندوق جوړول

۳۷ ۱ بضلىاېل د کيکر د لرګى نه د لوظ صندوق جوړ
کړو، چې پينځهٔ څلويښت اِنچې اوږد وو او اوويشت اِنچې
پلن او اوويشت اِنچې لوړ وو. ۲ بهر او دننه يې د سوچه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سرو زرو پترۍ پرې وخښژول او ګېرچاپېره يې ترې نه د سرو
زرو غاړه شان تاو کړه. ۳ د وړولو دپاره هغۀ ورله د سرو
زرو څلور کَړۍ جوړې کړې او دا يې ورله په څلور پښو
پورې ولګولې، چې دوه کَړۍ په يو خوا وې او دوه يې بل خوا
وې. ۴ د وړلو دپاره يې ورله د کيکر د لرګی بازوګان جوړ
کړل او د سرو زرو پترۍ يې ورباندې وخښژول، ۵ او دا يې
د لوظ د صندوق په کړو کښې دواړو طرفونو ته وردننه کړې.
۶ هغۀ ورله د سوچه سرو زرو يو د کفارې تخت جوړ
کړو، چې پينځۀ څلوېښت اِنچۍ اوږد وو او اوويشت اِنچۍ
پلن وو. ۷ د ټکېدلے شوو سرو زرو نه يې دوه د وزرو والا
مخلوق جوړ کړل، ۸ يو يې په يو سر او بل يې په بل سر
کښې پرې جوړ کړو. هغۀ دا داسې جوړ کړل چې دواړه د
صندوق د کفارې د سر سره يو ځائ شول. ۹ د وزرو والا
مخلوق د صندوق د کفارې په تخت باندې يو بل ته مخامخ
وُو او خورو وزرو يې د صندوق سر پټ کړے وو او مخونه
يې لاندې وُو.

## د مقدسې روټۍ دپاره مېز جوړول

۱۰ د کيکر د لرګی نه هغۀ يو مېز جوړ کړو، چې شپږ ديرش
اِنچۍ اوږد وو، اتلس اِنچۍ پلن او اوويشت اِنچۍ لوړ وو. ۱۱
په دې يې د سوچه سرو زرو پترۍ وخښژول او ګېرچاپېره يې
ورله د سرو زرو غاړه تاو کړه. ۱۲ ګېرچاپېره يې درې اِنچۍ
پلنه يوه ژۍ ورله جوړه کړه او د ژۍ نه ګېرچاپېره يې د سرو
زرو غاړه تاو کړه. ۱۳ د وړلو دپاره يې ورله د سرو زرو
څلور ګول کَړۍ جوړې کړې او دا يې ورله په څلورو ګوټونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښېږي ولګولې، چرته چې پښې وې. ۱۴ هغهٔ دا کَړۍ د ژۍ
سره نزدې ولګولې چې هغه بازوګان ونيسی چې د کومو په
ذريعه دا مېز وړلے شو. ۱۵ دا بازوګان يې د کيکر د لرګی
نه جوړ کړل او په دې باندې يې د سرو زرو پترى وخېژول.
۱۶ هغهٔ د مېز دپاره د سوچه سرو زرو نه دا لوښی جوړ
کړل، جامونه، کاسې، رکېبۍ او د څښلو نذرانو تويَولو دپاره
منګی.

## د ډيوټ جوړېدل

۱۷ د سوچه سرو زرو نه هغهٔ ډيوټ جوړ کړو. د دې ببخ او
ډنډا يې د ټکېدلے شوو سرو زرو نه جوړه کړه، د دې د ښهٔ
ښکارېدلو ګلونه، سره د غوټو او پاڼو، چې د دې سره يو
ځائ شی. ۱۸ د دې د اړخونو نه شپږ څانګې وتلې وې، چې
درې په يو طرف وې او درې په بل طرف وې. ۱۹ د دې
شپږ واړو څانګو درې درې د ښهٔ ښکارېدو ګلونه ؤو دا سره
د غوټو او پاڼو د بادام د ګلونو په شان جوړ ؤو. ۲۰ د ډيوټ
د ډنډې د ښهٔ ښکارېدو دپاره څلور ګلونه ؤو، دا سره د غوټو
او پاڼو د بادام د ګلونو په شان ؤو. ۲۱ د څانګو د دې درېو
جوړو د هرې يوې لاندې يوه غوټۍ وه. ۲۲ دا غوټۍ، څانګې
او ډيوټ د ټکېدلے شوو سوچه سرو زرو د يوې ټُکړې نه
جوړ ؤو. ۲۳ د ډيوټ دپاره هغهٔ اووهٔ ډيوې جوړې کړې او
هغهٔ ورله د سوچه سرو زرو نه ايره پاکوونکې چمټې او
مجمعې جوړې کړې. ۲۴ هغهٔ پينځهٔ دېرش کلو سوچه سرهٔ
زر په ډيوټ او د دې ټول سامان جوړولو کښېږي استعمال
کړل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خوشبويۍ قربانګاه جوړېدل

۲۵ د خوشبويۍ سوزولو دپاره هغهٔ د کيکر د لرګى نه يوه
قربانګاه جوړه کړه. دا څلورګوټه وه، اتلس اِنچۍ اوږده،
اتلس اِنچۍ پلنه او يو ګز اوچته وه. څلور د ښکرو په شان
ګوټونه يې ورله جوړ کړى وُو چې د قربانګاه سره يو ځائ
شوى وُو. ۲۶ هغهٔ د هغې په چت، څلورو طرفونو او د هغې
د ښکرو په شان څيزونو باندې د سوچه سرو زرو پترى
وخېژول او ګېرچاپېره يې ترې نه د سرو زرو غاړه شان تاو
کړه. ۲۷ د هغې دپاره يې دوه د سرو زرو کَړى جوړې کړې
او لاندې يې دواړو طرفونو ته د غاړې سره وتړلې چې هغه
بازوګان ونيسى چې د کومو په ذريعه دا وړلے شوه. ۲۸
هغهٔ دا بازوګان د کيکر د لرګى نه جوړ کړل او په دې يې د
سرو زرو پترى وخېژول.

## د غوړولو تېل او خوشبوئى تيارول

۲۹ هغهٔ د غوړولو مقدس تېل او سوچه خوشبوئى هم جوړه
کړه، دا يې داسې مِلاو کړل لکه چې د عطرو والا دا کار
کړے وى.

## د سوزېدونکې نذرانې قربانګاه جوړول

۳۸ ۱ د سوزېدونکې نذرانې دپاره، د کيکر د لرګى نه
بضلىاېل يوه قربانګاه جوړه کړه. هغه څلورګوټه وه، چې
اووهٔ نيم فټه اوږده وه، اووهٔ نيم فټه پلنه او څلور نيم فټه لوړه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وه. ۲ هغهٔ د څلورو ګوټونو دپاره د ښکرونو په شان
څيزونه جوړ کړل چې د قربانګاه سره يې يو ځائ کړل. هغهٔ
په دې هر څهٔ باندې د زېړو پترى خېژولى وُو. ۳ هغهٔ د
قربانګاه دپاره دا ټول سامان هم جوړ کړو، د ايرو د لرې
کولو دپاره لوښى، بېلچې، جامونه، درې غاښى او د ګرمې
ايرې لرې کولو دپاره لوښى. دا ټول سامان د زېړو نه جوړ
وو. ۴ هغهٔ د زېړو يوه جالۍ جوړه کړه او دا يې د
قربانګاه د ژۍ لاندې کېښوده، چې د قربانګاه مېنځ ته
رسېدلې وه. ۵ هغهٔ څلور کړۍ جوړې کړې او په څلورو
ګوټونو يې ورله ولګولې. ۶ هغهٔ د وړولو دپاره د کيکر د
لرګى نه ورله څلور بازوګان جوړ کړل او د زېړو پترى يې
وربانديې وخېژول، ۷ او د قربانګاه دواړو طرفونو ته چې
کومې کړۍ وې په هغې کښې يې ولګولې. قربانګاه د لرګى
تختو نه جوړه وه او د مېنځ نه تشه وه.

## د زېړو ښانک جوړول

۸ بضلى‌ايل ښانک او د دې بېخ د زېړو نه جوړ کړل. د دې
زېړ د هغې ښځو د ائينو نه مِلاو شوى وُو کومو چې د مالِک
خُدائ د حضور خېمې په دروازه کښې خِدمت کولو.

## د مالِک خُدائ د حضور خېمې دربار

۹ هغهٔ د کتان د پردو نه د مالِک خُدائ د حضور خېمې
دپاره دربار جوړ کړو. د جنوب په طرف پردې پنځوس ګزه
اوږدې وې، ۱۰ دا د زېړو شلو ستنو او د زېړو په شلو پښو
کښې، د سپينو زرو کُنډو او د سپينو زرو سيخونو په ذريعه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تینګې کړے شوې وې. ۱۱ دربار د شمال په طرف هم
دومره وو. ۱۲ د نمرپرېواتۀ په طرف هم پینځویشت ګزه
اوږدې پړدې وې، سره د لسو ستنو او لسو پښو او د کُنډو او
سیخونو چې د سپینو زرو نه جوړ وُو. ۱۳ نمرخاتۀ په طرف،
چرته چې دروازه وه، هلته هم دربار پینځویشت ګزه اوږد وو.
۱۴-۱۵ د دروازې دواړو طرفونو ته د درېو ستنو او درېو
پښو سره اووۀ نیم ګزه پړدې وې. ۱۶ د دربار ګېرچاپېره
ټولې پړدې د کتان نه جوړې وې. ۱۷ د ستنو پښې د زېړو نه
جوړې کړے شوې وې او د دې کُنډې، سیخونه او د ستنو
دپاسه سرونه د سپینو زرو نه جوړ وُو. د دربار نه ګېرچاپېره
ټولې ستنې د سپینو زرو سیخونو سره انښلولے شوې وې.
۱۸ د دربار د دروازې پړده د مهینې لتې نه جوړه وه چې د
آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ وړۍ نه تیاره شوې وه.
او په ګُلکارۍ ښائسته کړے شوې وه. دا د دربار د پړدو په
شان، لس ګزه اوږده او دوه نیم ګزه اوچته وه. ۱۹ دا د
ځلورو ستنو او د زېړو ځلورو پښو په ذریعه ټینګه کړے
شوې وه، کُنډې، د ستنو پاسنی سرونه او سیخونه یې د
سپینو زرو نه جوړ وُو. ۲۰ د خېمې او د دربار دپاره
ګېرچاپېره ټول موږې د زېړو نه جوړ شوی وُو.

## د مالِک خُدائ د حضور خېمې سامان

۲۱ دا د هغه څیزونو تفصیل دے کوم چې د مالِک خُدائ د
حضور په خېمه کښې استعمال شوی وُو، چرته چې د کاڼو
هغه دوه تختې ساتلے شوې وې چې لس حُکمونه ورباندې
لیکلے شوی وُو. د تفصیل د تیارولو حُکم موسیٰ ورکړے وو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د دې کار دپاره د ليويانو مشر اِتمر وو چې د هارون اِمام
زوئ وو. ۲۲ د يهوداه د قبيلې، بضلىاېل، چې د اورى زوئ
او د حُور نمسے وو، هغه هر څۀ جوړ کړل چې مالِک خُدائ
حُکم کړے وو. ۲۳ د هغۀ مدد کوونکے، د دان د قبيلې
اهلياب د اخيسمک زوئ وو، هغه زرګر وو، هغه ماهِر او د
کتان او د آسمانى رنګ، کاسنى او د سور رنګ وړۍ
جوړونکے هم وو. ۲۴ مقدسې خېمې دپاره مالِک خُدائ ته
وقف شوى ټول سرۀ زر زر کلو وُو، چې د منلے شوى معيار
په مطابق تَللے شوى وُو. ۲۵ د بنى اِسرائيلو د مردمشمارۍ
په وخت چې کوم سپين زر راجمع شوى وُو، هغه درې زره
ځلور سوه او دېرش کلو وُو، ۲۶ کوم سړى چې په
مردمشمارۍ کښې شامل شوى وُو هر يو کس د منلے شوى
معيار په مطابق هغه مقرر شوے قيمت ورکړو. په
مردمشمارۍ کښې شامل شوى سړى شپږ لاکه درې زره
پينځۀ سوه پنځوس وُو چې د هغوئ عُمر شل کاله يا د دې نه
زيات وو. ۲۷ درې زره او ځلور سوه کلو سپين زر په کښې
استعمال شوى وُو د مقدسې خېمې د سلو پښو او د پردې
دپاره، د هرې يوې پښې دپاره ځلور دېرش کلو استعمال
شوى وُو. ۲۸ د پاتې دېرش کلو سپينو زرو نه بضلىاېل
سيخونه، د ستنو دپاره کُنډې او د ستنو پاسنى سرونه جوړ
کړل. ۲۹ کوم زېړ چې مالِک خُدائ ته وقف شوى وُو هغه
دوه زره ځلور سوه او پينځويشت کلو وُو. ۳۰ هغۀ د دې نه
د مالِک خُدائ د حضور خېمې د دروازې دپاره پښې، د زېړو
قربانګاه سره د زېړو جالۍ او د قربانګاه دپاره نور ټول
سامان جوړ کړو، ۳۱ د دربار ګېرچاپېره او د دربار د
دروازې دپاره پښې او د خېمې دپاره او ګېرچاپېره د دربار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره ټول موړی يې ترې نه جوړ کړل.

## د اِمامانو دپاره لِباس جوړول

۳۹ ۱ د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ وړی نه
هغوئ ښائسته لِباس جوړ کړو کوم به چې اِمامانو په مقدس
ځائ کښې د خِدمت کولو په وخت اغوستلو. هغوئ د هارون
دپاره د اِمامانو لِباس جوړ کړو، هم هغه شان چې څنګه
مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم کړے وو. ۲ هغوئ د کتان، د
آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ وړی، او د سرو زرو
تار نه پېش بند جوړ کړو. ۳ هغوئ د سرو زرو پاڼې
وټکولې او نرۍ نرۍ تارونه يې ترې نه جوړ کړل چې په کتان
او د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ په وړی جوړولو
کښې ترې نه کار اخستلے شو. ۴ هغوئ د پېش بند دپاره
دواړو طرفو ته د ولی پټۍ لګولې وې، چې د دې په ذریعه
تړلے شو. ۵ يو ښۀ ګُلکاری شوے کمربند، چې هغه هم د
هغه سامان نه جوړ وو، هغه د پېش بند سره انښلولے شوے
وو او ورسره يو ځائ شوے وو، هم هغه شان لکه څنګه چې
مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم کړے وو. ۶ هغوئ اونیکس
کاڼی تیار کړل او په سرو زرو کښې يې ګېر کړل، په دې
باندې د یعقوب د دولسو زامنو نومونه د يو ماهِر زرګر په
ذریعه لیکلے شوی وُو. ۷ هغوئ دا د پېش بند د ولی په پټو
باندې ولګول چې د بنی اِسرائیلو د دولسو قبیلو نمائندګی
کوی، هم هغه شان لکه څنګه چې مالِک خُدائ موسیٰ له
حُکم ورکړے وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د سينې د جيب جوړول

۸ هغوئ هم د هغه کتان نه د سينې جيب جوړ کړو چې د
کوم نه پېش بند جوړ وو او هم هغه شان ګُلکارى پرې شوې
وه. ۹ دا څلورګوټه او دوه غبرګه وو، نهۀ اِنچې اوږد او
نهۀ اِنچې پلن وو. ۱۰ هغوئ په دې باندې څلور قطاره قيمتى
کانړى ولګول، په اول قطار کښې ياقوت، يو طوپاز او لعل،
۱۱ په دوېم قطار کښې، يو زمرد، يو نيلم او يوه هيره، ۱۲
په درېم قطار کښې، يو کائنائټ، يو عقيق او يو کټېله، ۱۳ او
په څلورم قطار کښې يو ايکوامرين، يو اونيکس کانړے او يو
جاسپر کانړے ولګولو. دا په سرو زرو کښې ګېر وُو. ۱۴ په
دې دولسو کانړو په هر يو کانړى باندې د يعقوب د يو زوئ نوم
ليکلے وو، چې د بنى اِسرائيلو د دولسو قبيلو نمائندګى وشى.
۱۵ د سينې جيب دپاره هغوئ د سوچه سرو زرو زنځيرونه
جوړ کړل، چې د تارونو په شان تاو شوى وُو. ۱۶ هغوئ د
کانړو ګېرولو دپاره د سرو زرو دوه څېزونه جوړ کړل او د
سرو زرو دوه کَړۍ او دا دوه کَړۍ يې د سينې جيب په بره
ګوټونو پورې ونښلولې. ۱۷ هغوئ د سرو زرو هغه دوه
زنځيرونه په دوه کَړو پورې يې وتړل ۱۸ او د زنځيرونو نور
دوه سرونه يې په هغه دوه څېزونو پورې وتړل چې په هغې
کښې کانړى ګېر کړے شوى وُو او داسې يې دا د پېش بند د
ولى په پټو پورې مخکښې ونښلول. ۱۹ هغوئ دوه د سرو
زرو کَړۍ جوړې کړې او دا يې د سينې جيب لاندې ګوټونو
دننه غاړې ته د پېش بند خوا کښې ونښلولې. ۲۰ هغوئ د
سرو زرو دوه نورې کَړۍ هم جوړې کړې او دا يې په لاندې
حِصه پورې د پېش بند د ولى دوه پټو په مخکښې ونښلولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ګنډ ته نزدې وي او په ګُلکارۍ ښائسته کړے شوی
کمربند دپاسه وي. ۲۱ هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ
موسىٰ ته حُکم ورکړے وو، هغوئ د سينې د جيب کَړۍ د
پيش بند کَړو پورې د آسمانی رنګ مزی سره وتړلې، نو چې
داسې د سينې جيب په کمربند باندې پروت وی او چې ترې
نه لرې کيږی نه.

## د اِمامانو نور لِباس جوړيدل

۲۲ چې کومه چُوغه د پيش بند لاندې اغوستلے کيږی هغه
ټوله د آسمانی رنګ وړۍ نه جوړه شوې وه. ۲۳ په هغې
کښې د سر دپاره يو سورے وو، چې غاړه يې مضبوطه
ګنډلے شوې وه چې ونۀ شليږی. ۲۴-۲۶ د دې په لاندې
غاړه باندې هغوئ د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ تار
انار جوړ کړل او د هر انار په مينځ کښې د سرو زرو ټلۍ وې،
هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ موسىٰ له حُکم ورکړے
وو. ۲۷ هغوئ د هارون او د هغۀ د زامنو دپاره قميصونه
جوړ کړل، ۲۸ او پټکے، ټوپۍ او د کتان جانګی، ۲۹ او د
کتان او د آسمانی رنګ، کاسنی او د سور رنګ وړۍ نه يې
کمربند جوړ کړو چې ګُلکاری ورباندې شوې وه، هم هغه
شان لکه چې څنګه مالِک خُدائ موسىٰ له حُکم ورکړے وو.
۳۰ هغوئ د سوچه سرو زرو نه نښه جوړه کړه او په دې
باندې يې وليکل ”مالِک خُدائ ته وقف شوے.“ ۳۱ هغوئ دا
د يو آسمانی رنګ مزی سره د پټکی مخې ته وتړله، هم هغه
شان څنګه چې مالِک خُدائ موسىٰ له حُکم ورکړے وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د کار سر ته رسېدل

۳۲ د مالِک خُدائ د حضور خېمې ټول کار په ښۀ توګه سر
ته ورسېدو. بنى اِسرائيلو هر څۀ هم هغه شان وکړل چې
څنګه مالِک خُدائ موسىٰ له حُکم ورکړے وو. ۳۳ هغوئ
خېمه او د هغې ټول سامان موسىٰ له راوړو، د دې کُنډې،
چوکاټونه، لاړى، ستنې او د دې پښې، ۳۴ د ګډو څرمنې نه
جوړه شوې پړده چې سور رنګ ورکړے شوے وو، د ښې
څرمنې نه جوړه پړده، د پټولو والا پړده، ۳۵ د لوظ صندوق
چې د کاڼو تختې په کښې پرتې وې، د دې د وړلو دپاره
بازوګان او د دې د کفارې تخت هم، ۳۶ مېز او د دې ټول
سامان او خُدائ پاک ته پېش کړے شوې روټۍ، ۳۷ د
سوچه سرو زرو ډيوټ، د دې ډيوې او د دې ټول سامان او د
ډيوو دپاره تېل، ۳۸ د سرو زرو قربانګاه، د غوړولو تېل، د
خوشبويۍ مصالحې، خېمې ته د ننوتلو دروازې دپاره پړده،
۳۹ د زېړو قربانګاه او ورسره د دې د زېړو جالۍ، د دې د
وړلو دپاره بازوګان او د دې ټول سامان، د وينځلو دپاره
ښانک او د دې بېخ، ۴۰ د دربار دپاره پړدې او د دې ستنې
او پښې، دربار ته د ننوتلو دپاره پړده او د دې رسۍ، د خېمې
دپاره موږى، او هغه ټول سامان چې په خېمه کښې
استعمالېدلو، ۴۱ او د اِمامانو ښائسته لِباس چې په مقدس
ځائ کښې د خِدمت په وخت اغوستلے شو. د هارون او د
هغۀ د زامنو دپاره مقدس لِباس وو چې کله هغوئ د اِمامانو
په توګه خِدمت کولو. ۴۲ بنى اِسرائيلو ټول کار هم هغه شان
سر ته رسولے وو چې څنګه مالِک خُدائ موسىٰ له حُکم
ورکړے وو. ۴۳ موسىٰ هغه ټول کار ته وکتل او وې ليدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغوئ دا په صحيح توګه هم هغه شان کړے وو څنګه
چې مالِک خُدائ حُکم کړے وو. نو موسیٰ د هغوئ دپاره
برکت وغوښتلو.

## د مالِک خُدائ د حضور خېمې ودرول او وقف کول

۴۰ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۲ ”د
اولنۍ مياشتې په اوله ورځ مالِک خُدائ د حضور خېمه
ودروه. ۳ په دې کښې د لوظ صندوق کېږده په کوم کښې
چې لس حُکمونه دی او د دې په مخکښې پړده ولګوه. ۴
هغه مېز دننه راوړه او سامان وربانديې کېږده. ډيوټ هم دننه
راوړه او ډيوې وربانديې کېږده. ۵ د لوظ صندوق په
مخکښې د سرو زرو قربانګاه کېږده کومه چې د
سوزېدونکې خوشبويۍ دپاره ده او د خېمې په دروازه باندې
پړده ځوړنده کړه. ۶ د خېمې په مخکښې د سوزېدونکې
نذرانې قربانګاه کېږده. ۷ د خېمې او قربانګاه په مينځ
کښې د وينځلو ښانک کېږده او اوبۀ په کښې واچوه. ۸
ګېرچاپېره پردې ودروه او د دې په دروازه باندې پړده
ځوړنده کړه. ۹ بيا د زيتُونو په تېلو باندې غوړولو سره
خېمه او د دې ټول سامان وقف کړه او داسې به دا مقدس
شی. ۱۰ وريسې، د غوړولو د تېلو په ذريعه د سوزېدونکې
نذرانې قربانګاه او د دې ټول سامان وقف کړه او قربانګاه
به پوره مقدسه شی. ۱۱ د وينځلو ښانک او د دې بېخ هم په
داسې طريقه وقف کړه. ۱۲ هارون او د هغۀ زامن د خېمې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دروازې ته راوله او هغوئ ته ووايه چې غسل وکړی. ١٣
هارون ته مقدسې جامې ورواغونده، سر يې په تېلو غوړ کړه
او وقف يې کړه، نو هغه به د اِمام په توګه زما خِدمت کوی.
١٤ د هغهٔ زامن راوله او هغوئ ته چُوغې ورواغونده. ١٥
بيا د هغوئ سر په تېلو غوړ کړه، هم هغه شان چې څنګه دې
د هغوئ د پلار سر غوړ کړے وو، نو چې د اِمامانو په توګه
زما خِدمت وکړی. دا غوړول به هغوئ د راتلونکی ټولو
وختونو دپاره اِمامان جوړ کړی.“ ١٦ موسیٰ هر څهٔ هم هغه
شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ١٧
چې کله هغوئ د مِصر نه راووتل نو د دوېم کال د اولنۍ
مياشتې اوله ورځ وه چې د مالِک خُدائ د حضور خېمه
ودرولے شوه. ١٨ موسیٰ د دې پښې لاندې ولګولې،
چوکاټونه يې ودرول، لارې يې ورسره ولګول او د دې ستنې
يې ودرولې. ١٩ هغهٔ په خېمه باندې د پټولو دپاره پړده خوره
کړه او دپاسه يې پرې بله پړده هم واچوله، لکه څنګه چې
مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ٢٠ بيا هغهٔ د کاڼو دوه تختې
واخستلې او د لوظ صندوق کښې يې کېښودلې. هغهٔ د
صندوق په کَړو کښې بازوګان واچول او د دې د کفارې
تخت يې پرې کېښودو. ٢١ بيا هغهٔ صندوق خېمې ته دننه
راوړو او پړده يې ځوړنده کړه. نو داسې هغهٔ صندوق پټ
کړو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو.
٢٢ د پړدې نه بهر شمالی طرف ته يې په خېمه کښې مېز
کېښودو، ٢٣ او په دې باندې يې مالِک خُدائ ته پېش کړے
شوې روټۍ کېښوده، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ
حُکم ورکړے وو. ٢٤ مېز ته مخامخ، جنوب طرف ته، هغهٔ
په خېمه کښې ډيوټ کېښودو، ٢٥ او هغهٔ هلته د مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ په حضور کښې ږدوي بلې کړې، هم هغه شان چې
څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۲۶ پړدې ته مخامخ،
هغۀ په خېمه کښې د سرو زرو قربان‌ګاه کېښوده، ۲۷ او
هغۀ وربانديې د خوشبويۍ مصالحې وسوزولې، هم هغه شان
چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۲۸ هغۀ پړده د
خېمې په دروازه کښې ځوړنده کړه، ۲۹ او هلته پړدې ته
مخامخ هغۀ د سوزېدونکې نذرانې قربان‌ګاه کېښوده. او په
هغې باندې يې سوزېدونکې نذرانې او د غلې نذرانې پېش کړې،
هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۳۰
هغۀ د وينځلو ښانک د خېمې او قربان‌ګاه په مينځ کښې
کېښودو او اوبۀ يې په کښې واچولې. ۳۱ موسىٰ، هارون او
د هغۀ زامنو هلته خپل لاسونه او پښې ووينځلې ۳۲ چې کله
هغوئ دننه خېمې ته يا قربان‌ګاه ته ورتلل، لکه څنګه چې
مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۳۳ موسىٰ د خېمې او
قربان‌ګاه نه ګېرچاپېره پړدې ودرولې او دربار ته د ننوتلو په
دروازه باندې يې پړده ځوړنده کړه. نو موسىٰ ټول کار سر ته
ورسولو.

## د مالِک خُدائ د حضور خېمې دپاسه وريځ

۳۴ بيا وريځې خېمه پټه کړه او خېمه د مالِک خُدائ د
حضور جلال نه ډکه شوه. ۳۵ نو په دې وجه موسىٰ خېمې
ته دننه نۀ شو تلے. ۳۶ بنی اِسرائيلو صِرف په هغه وخت
کښې په بل ځائ کښې کېمپ لګولو چې کله به وريځ د خېمې
نه پورته شوه. ۳۷ تر کومې پورې چې به وريځ هلته وه، نو
هغوئ به د سفر دپاره خېمې نۀ اوچتولې. ۳۸ چې هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومِ ځائ ته هم سفر کولو نو د ورځې به يې د مالِک خُدائ د
حضور وريځ د خېمې دپاسه ليدله او د شپې به يې په وريځو
کښې بل شوے اور ليدلو.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.